# مختارات من السنة

## مع تراجم الرواة والفوائد العلمية لثمانين حديثا

## الجزء الرابع

تأليف

الدكتور/ محمد مرتضى بن عائش محمد

الإشراف والمتابعة

جميع الحقوق محفوظة للمؤلف

الطبعة الأولى عام ١٤٣٦هـ- ٢٠١٥م

الناشر

قسم الدعوة وتوعية الجاليات

المكتب التعاوني للدعوة وتوعية الجاليات في الربوة، الرياض

بالمملكة العربية السعودية

بسم الله الرحمن الرحيم

المقدمة

الحمد لله رب العالمين، والعاقبة للمتقين، والصلاة والسلام، على سيد الأنبياء والمرسلين، وعلى آله وأصحابه وأتباعه إلى يوم الدين، أما بعد:

**په دين اسلام کښې د نبوي سنتو لپاره ډير اهميت ( اړتيا ) شته ، ځکه چه نبوي سنت د اسلام په احکامو کښې دقران کريم نه روستو ددوهم مصدر حيثيت لري، له دې وجې نه ټول مسلمانان بايد د نبوي سنتو پوره اهتمام او تابعدارې اوکړي، او نبي کريم صلى الله عليه وسلم دهغه چا لپاره چه د نبوي سنتو پوره اهتمام کوي، د نيک بختۍ دعا کړې ده !**

نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي :

( نضَّرَ اللَّهُ امْرأً ، سَمِعَ منَّا حَدِيْثاً ؛ فَبَلَّغَهُ؛ فَرُبَّ مُبَلَّغٍ أَحْفَظُ مِنْ سَامِعٍ ) [١]

هغه څوک دې الله تعالى ترو تازه کړي چه زمونږ حديث واوري او بيا يي بل ته ورسوي ، پس ډير کرته هغه څوک چه حديث ور ورسيږي ښه يا ده ونکى وي دهغه چانه چه حديث يي او ريدلى وي.

---

١ - (سنن ابن ماجه، رقم الحديث ٢٣٢ ، وجامع الترمذي، رقم الحديث ٢٦٥٧ ، واللفظ لابن ماجه، قَالَ الإمام الترمذي عن هذا الحديث: حسن صحيح، وقال العلامة محمد ناصر الدين الألباني عن هذا الحديث بأنه: صحيح أيضاً).

له دي وجې نه ما دالله تعالى په مرسته او كومک سره دا كوشش اوكړو ، چه يوه داسي مجموعه دا حاديثو وليكم چه په هغې كښي د عقيدې او احكامو او همدارنګه د اخلاقو په اړوند معلومات موجود وي.

او ورسره به بعضي علمي مسئلې كومې چه دهمدي احاديثو نه ماخو( راخستلى ) شوي وي هم ذكر كيږي .

ددي لپاره چه مسلمانان د خپل خوږ پيغبر محمد صلى الله عليه وسلم سره مينه او محبت اوكړي، او دهغه تعظيم او كړي ، او په دي سره دالله تعالى رضا حاصله كړي په دنيا او اخرت دواړو كښي او په دي علمي مسائلو كښي مي داسلام هغه لوي عالمانو څخه چه داسلام خدمت يي كړى دى هم فائده اخستې ده لكه امام يحى بن شرف النووي، او همدارنګه حافظ ابن حجر العسقلاني وغيره ، الله تعالى دې هغوي ته ښې بدلې ورپه برخه كړي !

دالله تعالى نه په عاجزۍ سره دعاكوم چه زما دا عمل په خپل دربار كښي قبول كړي ، او فائده مند يي اوګر ځوي !
په حديث باندي دصحت وغيره حكم كول ، هركله چه حديث په صحيحينو ( بخاري او مسلم ) كښي موجود وي نو بيا په هغه حديث باندي حكم كولو ته ضرورت نشته ځكه چه ټول امت مسلمه ددي دواړو كتابو ( بخاري او مسلم په صحت باندي اتفاق كړى دى .
او كه چيرته حديث د سنن اربعه ( سنن ابي داوود ، سنن نسائي ، سنن ابن ماجه ، سنن ترمذي ) څخه وي نو په حديث باندي دحكم كولو باره كښي مي د علامه ناصرالدين الالباني په قول ( وينا ) اكتفاء كړي ده ، او په زياتو احاديثو كښي مي ورسره دامام ترمذ ي قول هم ذكر كړى دى ځكه چه امام ترمذي په دي باب كښي جدا مذهب لري الله تعالى دې په دوي باندي رحم اوكړي !

په اخره کښي زه ډېر احترامات وړاندي کوم فضيلة الشيخ خالد بن على ابا الخيل ته کوم چه مدير دی د المکتب التعاوني للدعوة والارشاد وتوعية الجاليات بالربوة : الرياض . ځکه چه هغه مونږ ته ډېره ښه لارښو نه اوکړه .

او همدارنګه د شيخ ناصر بن محمد الهويش هم ډېره مننه کوم ، کوم چه مدير دی دقسم الجاليات ، او دخير په دي کار کښي ډېر حريص دی ، او دزړه له کومي دهر هغه چا شکر ادا کوم چا چه ما سره يي په دي کار کښي مرسته او کومک کړی دی ، د بيلګې په توګه دعاة ( داعيان) ورونه په قسم الجاليات کښی .

او همدارنګه ښاغلی محترم ورور عبد العزيز مضعوف الله تعالی دې ټولو ته ډېري ښي بدلي ورپه برخه کړي !

وصلى اللّه وسلم على نبينا محمد، وعلى آله وأصحابه، وأتباعه، والحمد للّه رب العالمين، كتبه مؤلفه بتأريخ ١٤٣٦/٢/٧هـ - ٢٠١٤/١١/٢٩م.

بسم اللّٰه الرحمن الرحيم

# توحِيد اللّٰه تعالى، هو السبيل إلى الجنة

**د الله تعالى په توحيد باندي عقيده لرل، همدغه لار ده جنت ته .**

١ -عَنْ عُثْمَانَ ﵁ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: (مَنْ مَاتَ وَهُوَ يَعْلَمُ أَنَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ ) [٢]

**د عثمان ﵁ نه روايت دى فرمايي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي: ځوک چه مړ شه په داسي حال کښي چه په دې پوهه وې چه نشته حقدار د بنده ګۍ هيڅوک سوا د الله تعالى نه جنت ته به داخل شي .**

[٢] - (صحيح مسلم، رقم الحديث ٤١ - (٢٦)

امام مسلم دا حديث په خپل صحيح كښی روايت كړي دی
دحديث شميره ٤١ - (٢٦)

## راوي هذا الحديث، هو:

ددي حديث راوي عثمان بن عفان بن ابي العاص القرشي دی د فيل د واقعې نه شپږ (٦) كاله روستو په مكه مكرمه كښي زږيدلی دی ، او د نبي كريم ﷺ د بعثت نه لږ روستو داسلام په دين مشرف شو ، او دريم خليفه او امير المؤ منين دی .

او ده دخپلي بي بي رقية رضی الله عنها سره چه د نبي كريم ﷺ لورده حبشې ته هجرت اوكړو،او ددين اسلام لپاره په مال او ځان سره ډيره قرباني وركړې ده .

هغه دا چه د تبوک په غزا كښي عثمان ﵁ د مسلمانانو دلښكر لپاره نهه سوه پنځوس (٩٥٠) اوښان او پنځوس (٥٠) اسونه تيار كړل ، او همدارنګه يوه څاه (كوهی) چه رومه نوميده د شل زره درهم (٢٠٠٠٠) په قيمت يي واخست او دعامو مسلمانانو دفائدي لپاره يي وقف كړو .

او پنځلس زره (١٥٠٠٠) درهم يي د مسجد نبوي په پراخه كولو خرچ كړه .
او په كال (٢٣) هجري كښي د عمرﷺ د فات كيدلو نه بعد ورسره دعامو مسلمانانو لخوا بيعت اوكړ ی شو .
دده د خلافت په وخت كښي د قران كريم جمع هم اوشوه .
او همدارنګه دده دخلافت په زمانه كښي د(اسيا) او (افريقا) ډير ښارونه هم فتح شول .
او دعثمان ﷺ نه يو سلو شپږ څلويښت (١٤٦) احاديث روايت كړ ی شوي دي .
او په كال پنځه دير ش (٣٥) هجري كښي دمجرمانو په لاس په شهادت ورسيده ، او عمر يي نهه اتيا (٨٩) كاله وو.

## من فوائد هذا الحديث:

### ددي حديث د فوائدو ښخه :

١ -دا حديث واضحه او ښكاره دلالت كوي په دې خبره باندي چه څوک د تو حيد په حالت كښي مړ شه او ځان يي

له کفر شرک او کبیره ګناهونو څخه بچ ساتلی وو ، نو خامخا به جنت ته دا خلیږي .

٢ -په مسلمان بنده باندي واجب ده ، چه خپله عقیده او اعمال او اخلاق ددي کلمې طیبي د غو ښتنو مطابق کړي .

٣ - مسلمان بنده لره باید ده چه د هر هغه څه نه ځان وژغوري ، کوم څه چه ددي کلمې طیبي اثار او نښي له مینځه وړي ، لکه شرک کفر وغیره شو .

## فضل الْآيَتَيْنِ مِنْ آخِرِ سُورَةِ البَقَرَةِ

### دسورت بقرې اخري دوو(٢) اياتونو فضيلت

٢ -عَنْ أَبِيْ مَسْعُوْدٍ ﷺ، قَالَ: (قَالَ النَّبِيُّ ﷺ: ( مَنْ قَرَأَ بِالْآيَتَيْنِ مِنْ آخِرِ سُورَةِ البَقَرَةِ فِي لَيْلَةٍ كَفَتَاهُ ) (٣)

**د ابو مسعود ﷺ څخه روايت دی فرمايي : نبي كريم ﷺ فرمايلي دي : چا چه دسورت بقرې اخري دوه (٢) اياتو د شپې ولوستل ، نو دا به دده لپاره كافي شي .**

راوي هذا الحديث، هو:

٣ -(صحيح البخاري، رقم الحديث ٥٠٠٩، وصحيح مسلم، رقم الحديث ٢٥٦ - (٨٠٨)، واللفظ للبخاري).

ددي حديث راوي عقبه بن عمرو ابو مسعود الانصاري ﷺ مشهور صحابي دی ، کله چه د دوهم ځل لپاره د مديني خلکو د نبي کريم ﷺ سره بيعت کولو ، نو دا هم په دغه بيعت کولو کښي موجود وو، اودغه مهال دعمر په لحاض سره په دو ي ټولو کښي دکم عمرخاوند وو.

او همدارنګه ده د نبي کريم ﷺ سره د احد په غزا کښي او په هغه ټولو غزاګانو کښې چه داحد د غزا نه روستو واقع شوي دي شرکت کړی دی.

او بيا په روستو زمانه کښې کوفې ته لاړو او هلته او سيدلو کله چه علي ﷺ د صفين جنګ ته تللو نو دايي دخپل جانشين په توګه په کوفه مقرر کړه ، او دده مسند په (۱۰۲) احاديثو باندي مشتمل دی او په کال (۴۱) هجري په مدينه کښې وفات شو ، په دي اړوند څه نور اقوال هم شته .

## من فوائد هذا الحديث:

**ددي حديث د فوائدو څخه :**

**١ -ددې دوه اياتونولوستل هره شپه د نيک بختۍ سبب دی او په دي سره انسان دهر شر او بد بختۍ نه بچ کيږي .**

**٢ -ددي اياتونو په لوستلو سره د مسلمان بنده په خپل رب باندي يقين او باور زياتيږي .**

**٣ -د مسلمان لپاره بايد ده چه دا دواړه اياتونه په يادو زده کړي ، او دلو ستلو اهتمام يي اوکړي .**

﴿ ءَامَنَ ٱلرَّسُولُ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِ مِن رَّبِّهِۦ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَۚ كُلٌّ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَكُتُبِهِۦ وَرُسُلِهِۦ لَا نُفَرِّقُ بَيۡنَ أَحَدٖ مِّن رُّسُلِهِۦۚ وَقَالُواْ سَمِعۡنَا وَأَطَعۡنَاۖ غُفۡرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيۡكَ

ٱلْمَصِيرُ ﴿٢٨٥﴾ لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَاۚ لَهَا مَا
كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا ٱكْتَسَبَتْۗ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَآ إِن نَّسِينَآ أَوْ
أَخْطَأْنَاۚ رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَآ إِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهُۥ عَلَى
ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِنَاۚ رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهِۦۖ وَٱعْفُ
عَنَّا وَٱغْفِرْ لَنَا وَٱرْحَمْنَآۚ أَنتَ مَوْلَىٰنَا فَٱنصُرْنَا عَلَى ٱلْقَوْمِ
ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٢٨٦﴾ ﴾ (۴)

ايمان راوړی دی رسول الله ﷺ په هغه څه چه نازل کړی شوي دي ده ته ، د طرفه درب دده نه ، او مؤمنانو هر يو ايمان راوړی دی په الله تعالى ، او په ملا ئکو دهغه ، او کتابونو دهغه ، او رسولانو دهغه ، وايي دوي جدا يي نه کوو

[4]- ( سورة البقرة، الآيتان ٢٨٥ ـ ٢٨٦).

په ایمان راوړلو کښې په مینځ دهیڅا کښې درسولانو دهغه نه ،وایي دوي واوریدلو مونږ ، او تابعداري کوو مونږ ، غواړو ښښنه ستانه ای ځمونږ ربه او تاته دي در ګر ځیدل دټولو .
کړاو نږدي الله تعالی په هیڅا باندي مګر په قدر د طاقت دهغه ، ده لره ثواب د هغه نیک عمل دی چه ده کړی وي .
او په ده باندي تاوان دهغه بد عمل دی چه ده کړی وي .
ای ربه ځمونږ : مه نیسې مونږ ه که هیر شي ځمونږ نه یا خطایي اوکړو مونږ ، ای ربه ځمونږ : او مه بار کوه په مونږ باندي دروند پیټی ، لکه چه تا بار کړی دی په هغه کسانو چه مخکې ځمونږ نه وو ، ای ربه ځمونږ : او مه اچوي په مونږ باندې هغه مصیبتونه چه طاقت نشته مونږ لره دهغې او معافي اوکړې ځمونږ نه ، او ښښنه اوکړې مونږ ته ، او رحم اوکړې په مونږ باندي ، ته مولا ځمونږ یي پس غلبه راکړې مونږ ته په قوم کافرانو باندي !

## فضل من يعتني بنشر السنة النبوية

**دهغه چا غوره والی چه نبوي سنتو دخپره ولو كوشش كوي :**

٣ -عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ، عَنِ النَّبِيِّ ﷺ (قَالَ: نضَّرَ اللَّهُ امْرَأً، سَمِعَ مِنَّا حَدِيْثاً؛ فَبَلَّغَهُ؛ فَرُبَّ مُبَلَّغٍ أَحْفَظُ مِنْ سَامِعٍ ) (٥)

**دعبد الله بن مسعو ﷺ څخه روايت دی فرمايي : نبي كريم ﷺ فرمايلي دي: هغه كس دې الله تعالى ترو تازه كړي چه زمونږ حديث واوري او بيا يې بل ته ورسوي ، پس ډير**

---

[٥] - (سنن ابن ماجه، رقم الحديث ٢٣٢ ، وجامع الترمذي، رقم الحديث ٢٦٥٧ ، واللفظ لابن ماجه، قَالَ الإمام الترمذي عن هذا الحديث: حسن صحيح، وصححه الألباني).

کرته هغه څوک چه حديث ورورسيږي ښه يا ده ونکی وي دهغه چانه چه حديث يي او ريدلی وي.

## راوي هذا الحديث، هو:

ددي حديث راوي عبد الله بن مسعود ﷛ مشهور صحابي او په صحابه کرامو کښي دلوې عالمانو څخه يو لوي عالم او قارئ وو ، او دده مسند په (٨۴٨) احاديثو باندي مشتمل دی ، رسول الله ﷺ سره په ټولو غزاګانو کښې شريک شوی دی ، او د نبي کريم ﷺ د فات نه روستو بيا د يرموک په غزا کښې کومه چه په شام کښې واقع شو ې وه هم شرکت اوکړو ، او بيا عمر﷛ کوفې ته ددي لپاره اوليږه چه د کوفې خلکو ته ددين تعليم ورکړې ، او دعثمان بن عفان ﷛ په زمانه دخلافت کښي د کوفې امير مقرر شو ، او بيا ورته امر اوکړی شو چه مدينې ته راشي ، روستو ددينه چه مدينې ته راغي په کال (٣٢) هجري کښې په مدينه کښې وفات او

د بقيع په هديره کښې دفن کړی شو ، او عمر يي څه د بره (٦٠) کاله وو

## من فوائد هذا الحديث:

### ددي حديث د فوائدو څخه :

١ -ددي حديث معنی داده چه الله تبارک وتعالی هغه چا ته چه د نبوي سنتو د خپره ولو کوشش کوي ډير لوړ مقام ورکوي ، او په اخرت کښې يي د جنت خو شحالو ته رسوي .

٢ - په دي حديث کښې رسول الله ﷺ د هغه چا لپاره د جنت دخو شحالو دعا کړې ده څوک چه دهغه ﷺ احاديث په اخلاص او پوره امانت سره د خپره ولو کوشش کوي .

٣ -دا حديث د نبوي سنتو په خپره ولو باندي تيزي ورکوي .

## حراسة عقيدة التوحيد من الشرك وشوائبه

## د تو حيد عقيده د شرک او د هغې د اثر څخه بچ ساتل

٤ - عَنْ حُذَيْفَةَ ﵁ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: ( لاَ تَقُوْلُوْا : مَا شَاءَ اللّٰهُ وَشَاءَ فُلاَنٌ؛ وَلٰكِنْ قُوْلُوْا : مَا شَاءَ اللّٰهُ، ثُمَّ شَاءَ فُلاَنٌ ) (٦)

د حذيفه ﵁ څخه روايت دى فرمايي : نبي كريم ﷺ فرمايلي دي: داسې مه وايي چه د الله تعالى خوښه شي او دفلانكي بلكه داسې وايي چه دالله تعالى خوښه شي او بيا دفلانكي يعني دالله تعالى سره څوک په مشيئت ( اراده ) كښې مه شريكوئ .

---

٦ - (سنن أبي داود، رقم الحديث ٤٩٨٠، وصححه الألباني).

## راوي هذا الحديث، هو:

**ددي حديث راوي حذيفه بن اليمان العبسي ﷺ جليل القدر او بهادر صحابي دی ، او په ډېرو اسلامي فتوحاتو کښې شريک شوی دی ، او د نبي کريم ﷺ دراز ملګری وو، او د خندق په غزا کښې او همدارنګه په هغه غزاګاني چه د خندق دغزا نه روستو واقع شوي شريک شوی ، او دده مسند په دوه سوه پنځه پنځوس (٢٥٥) احاديثو باندې مشتمل دی ، او حذيفه ﷺ د نبي کريم ﷺ په وړاندې دېير لوړ مقام څښتن وو، او په کال شپږ ديرش (٣٦) هجري کښې په عراق کښې وفات شوی دی.**

## من فوائد هذا الحديث:

### ددي حديث د فوائدو څخه :

١ -دا حديث ددې درس ورکوي چه يو مسلمان بايد خپله عقيده د شرک او د هغي د اثر څخه بچ او ساتي .

٢ - دا حديث دا بيان کوي ، چه الله تعالى يواځي او بي حاجته ذات دى ، او هيڅ قسم شريک نلري ، نه په ذات کښې شريک لري او نه په اسماو ( نومونو ) کښې شريک لري ، او نه په صفتونو کښې شريک لري ، او نه په حکم کښې شريک لري بلکه يواځې دى او دټول مخلوق پالنه کونکى دى .

٣ -دا حديث مسلمان او مؤ من بنده ته ويره ورکوي ، چه هغه الفاظ استعمال نه کړې کوم چه د الله تعالى د توحيد خلاف وي .

## الإنسان مفتقر إلى اللّٰه في كل أحواله

## انسان په هر حال کښې الله تعالی ته محتاجه دی

٥ - عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، أَنَّهَا سُئِلَتْ عَمَّا كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَدْعُوْ بِهِ اللّٰهَ؛ قَالَتْ: كَانَ يَقُوْلُ: "(اللَّهُمَّ إِنِّيْ أَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا عَمِلْتُ، وَمِنْ شَرِّ مَا لَمْ أَعْمَلْ ) [٧]

عائشه رضي الله عنها فرمايي : چه ددينه پوښتنه اوشوه د هغي دعا باره کښې کومه چه به نبي کريم ﷺ د الله تبارک وتعالی نه غو ښتله ، فرمايي چه نبي کريم ﷺ به ويل : ای الله زه په تاسره پناه غواړم د شر دهغه څه نه چه ما کړي ، او دشر دهغه څه نه چه ما نه دي کړي .

---

[٧]- (صحيح مسلم، رقم الحديث ٦٦ - (٢٧١٦)

## راوي هذا الحديث، هو:

ددي حديث راوي ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها ده .
د نهه (٩) کالو په عمر وه چه نبي کريم ﷺ ورسره نکاح اوکړه
او چه کله نبي کريم ﷺ وفات شو ، عائشه رضي الله عنها
د اتلس (١٨) کالو په عمر وه ، د ډيري پوهې خاونده وه ، او
په کرم او سخاوت کښې بې سارې وه ان تري چه ددي
سخاوت به په مثال کښې پيش کيدلو، او د نبي کريم ﷺ نه
يي ډير احاديث روايت کړي دي ، چه ددي مسند په دوه
زره دوه سوه لس (٢٢١٠) احاديثو باندې مشتمل دی ، او په
کال (٥٧) يا (٥٨) هجري کښې ، د رمضان يا د شوال
د مياشتې په (١٧) تاريخ باندي د سې شنبي په شپه وفات
شوه او د جنازې لمونځ يي ابو هريره ادا کړه او د بقيع په
هديره کښې دفن کړی شوه .

## من فوائد هذا الحديث:

**ددي حديث د فوائدو څخه :**

**١ - مسلمان لره بايد ده چه د ګناهونو څخه ځان او ژغوري ځکه د ګناهونو په وجه انسان بد بخته کيږي .**

**٢ -دا حديث انسان هڅه وي چه بايد دټولو شرونو نه په الله تعالى پوري پناه اوغواړي ځکه چه انسان په هر حال کښې الله تعالى ته محتاج دى .**

**٣ -دا حديث وضاحت کوي ،چه پناه ورکولو والا ذات يوائځي الله دى .**

## الحث على التمسك بمكارم الأخلاق

### نيكو او ښو اخلاقو ته ترغيب

٦ - عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أُمِّ الْمُؤْمِنِيْنَ قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللَّهِ ﷺ يَقُوْلُ: ( إِنَّ الْمُؤْمِنَ لَيُدْرِكُ بِحُسْنِ خُلُقِهِ دَرَجَةَ الصَّائِمِ الْقَائِمِ ) (٨).

د ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها څخه روايت دى فرمايي: ما دنبي كريم ﷺ نه اور يدلي دي هغه فرمايل : يقينا يو مؤمن كولاې شي چه د ښو اخلاقو په وجه باندي د روژه دار او تهجد كونكي اجر او ثواب حاصل كړې .

ددي حديث دراوې پيژندنه مخكي په (٥) نمبرحديث كښې ذكر شوې ده .

---

[٨] - (سنن أبي داود، رقم الحديث ٤٧٩٨، وصححه الألباني).

## من فوائد هذا الحديث:

**ددي حديث د فوائدو څخه :**

**١ -ښه اخلاق د ايمان سره کلک تړاو لري ، کله چه ديو مسلمان په زړه کښې ايمان په ښه معيار سره موجود وي نو دهغه اخلاق او کردار هم ښه وي ، او کله چه دهغه په زړه کښې ايمان په ښه معيار سره نه وي ، نو دهغه اخلاق او کردار هم ښه نه وي ، ځکه چه اخلاق دايمان سره تړاو لري .**

**٢ -دا حديث مؤمن بنده ته د نيکو اخلاقو درس ورکوي تر څو د ښو اخلاقو خاوند شي .**

**٣ -ښه اخلاق ايمان او عمل صالح الله تعالی ته د نيزديکت سبب دی .**

## الإسلام ليس دين اللعن والشتم

### په دين اسلام کښې لعنت او کنځا کول نشته

٧ -عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ ﷺ يَقُوْلُ: (قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ: ( لاَ يَكُوْنُ اللَّعَّانُوْنَ شُفَعَاءَ وَلاَ شُهَدَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ) (٩)

د ابو الدرداء رضي الله عنه څخه روايت دى فرمايي : نبي كريم ﷺ: فرمايلي دي : لعنت كونكي به دقيامت په ورځ باندي نه شفارش كولاي شي او نه ګواهي .

راوي هذا الحديث، هو:

ددي حديث راوي ابو الدرداء رضي الله عنه دى ، دده نوم عويمر بن زيد بن قيس الانصاري مشهور صحابي دى، او د بدر په

---

[٩] - (صحيح مسلم، رقم الحديث ٨٥ - (٢٥٩٨)

ورځ د اسلام په دين مشرف شو، او ده ته ددي امت حكيم وايي، په دمشق ښار كښي قاضي او دقران
د قاريانو سردار وو، او همدارنګه د هغه صحابه كرامو د جملې څخه دی کومو چه د قران کریم دراجمع کولو خدمت کړی دی ، او د رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ په ژوند يي قران په يادو زده کړی وو ، او د نبي کريم ﷺ څخه يي يو سلو نهه او يا احاديث روايت کړي دي .
او په کال (٣١) (٣٢) هجري كښې د عثمان رضي الله عنه د فات كيدلو نه دري (٣) كاله مخكې وفات شو ، او عمر يي دوه اويا (٧٢) كاله وو.

## من فوائد هذا الحديث:

### ددي حديث د فوائدو څخه :

١ -ددي حديث په وضاحت كښې د علماء كرامو ويناوې :

أ -دوي فاسقان دي او نه شي كولاې چه ګواهي وركړې ځكه چه ددوي ګواهي نه قبليږي .

ب -دوي ته به دالله تعالى په لاره كښي مرګ د شهادت نه په برخه كيږي .

ج – دوي به دقيامت په ورځ باندي نشي كولاي چه د هغه خپلوانو سفارش اوكړې په كومو چه د جهنم اور ته د داخليدلو حكم شوى وي.

٢ -دا حديث مسلمان بنده ته ډيره سخته ويره ورکوي د لعنت او کنځا کولو نه ، ځکه چه لعنت او کنځا کول د ښو اخلاقو او خو يونو ښخه نه دي .

٣ -دين اسلام د ميني محبت او له يو بل سره په نيکو کارونو کښي د مرستې او کومک نوم دی ، نه د لعنت او کنځا کولو .

## الإسلام دين الحياء والرفق وحسن التعامل

### اسلام د حياء او نرمۍ او ښه ژوند تيرولو دين دی

٨ - عَنْ أَنَسٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللَّهِ ﷺ : ("مَا كَانَ الفُحْشُ فِيْ شَيْءٍ إِلاَّ شَانَهُ، وَمَا كَانَ الحَيَاءُ فِيْ شَيْءٍ إِلاَّ زَانَهُ") .[١٠]

---

[١٠] - (جامع الترمذي، رقم الحديث ١٩٧٤ ، و سنن ابن ماجه، رقم الحديث ٤١٨٥ ، واللفظ للترمذي، قَالَ الإمام الترمذي: هذا حديث حسن غريب، وصححه الألباني).

د انس ﷺ څخه روايت دی فرمايي : نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چه فحش ( زياتي کول ) نه دا خليږي په يو څه کښې مګر خرابوې هغې لره ، او حيا نه داخليږي په يو څه کښې مګر ښائسته کوې هغې لره .

راوي هذا الحديث، هو:

ددي حديث راوي ابو انس حمزه بن مالک الانصاري د نبي کريم ﷺ خادم دی ، د نبي کريم ﷺ د هجرت نه لس (١٠) کاله دمخه په مدينه کښې پيدا شوی دی ، په وړوکوالې کښې د اسلام په دين مشرف شو، او بيا د نبي کريم ﷺ سره ملګری او دهغه خادم شو او لس (١٠) کاله يي د هغه خدمت اوکړو ، او چه کله نبي کريم ﷺ وفات شو ، نو ده دمشق ته سفر اوکړو او بيا د دمشق نه بصرې ته لاړو ، او ډير احاديث يي د نبي کريم ﷺ نه روايت کړي دي ، چه دده مسند په

دوه زره دوه سوه شپږ اتيا (٢٢٨٦) احاديثو باندي مشتمل دی ، او په کال درېِ نوي (٩٣) هجري کښېِ د بصرېِ په ښار کښېِ وفات شو ، او عمر له سلو (١٠٠) کالو څخه زيات وو.

## من فوائد هذا الحديث:

### ددي حديث د فوائدو څخه :

١ -اسلام د حياء او ښو اخلاقو دين دی ، ددي وجي نه اسلام د ټولو بدو کارونو او صفتونو نه په کلکه منعه کوي .

٢ -حياء کول ښه او ستايلی شوی خوي دی ، بايد ده چه هر مسلمان په ځان کښېِ د حياء خوېِ پيدا کړېِ .

٣ -د حياء خوېِ مسلمان بنده د الله تعالی تابعداری ته رابلي ، او دګناهونو نه يې منع کوي .

## الدعاء بعد الأكل والشرب

## دخوراک او څښباک نه بعد دعاء

٩ - عَنْ أَبِيْ أَيُّوبَ الأَنْصَارِيِّ ﷺ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا أَكَلَ أَوْ شَرِبَ قَالَ: (الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِيْ أَطْعَمَ وَسَقَى، وَسَوَّغَهُ، وَجَعَلَ لَهُ مَخْرَجا) (١١) ".

**ابو ايوب الانصاري ﷺ څخه روايت دى فرمايي : د الله رسول ﷺ چه به كله خوراک يا څښباک اوکړو ، نو دا دعاء به يي لوستله:** (الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِيْ أَطْعَمَ وَسَقَى، وَسَوَّغَهُ،

---

[11] - (سنن أبي داود، رقم الحديث ٣٨٥١، وصححه الألباني).

وَجَعَلَ لَهُ مَخْرَجا) ټول صفتونه د کمال الله تعالی لره دي چه مونږ ته يي خوراک او څښاک راکړه ، او اسان يي کړه دهغې تيردل په مرې کښې او ويې ګرځوله د هغې دوتلو لپاره لاره .

## راوي هذا الحديث، هو:

ددي حديث راوي ابو ايوب الانصاري ﵁ دی ، دده نوم خالد بن کليب الخزرجي النجاري جليل القدر انصاري صحابي دی او چه کله د دوهم ځل لپاره د مدينې خلکو د نبي کريم ﷺ سره بيعت کولو ، نو دا هم په دغه بيعت کولو کښې موجود وو ، او همدارنګه د ( بدر ) ( احد ) او په ټولو غزاګانو کښې د نبي کريم ﷺ سره شريک شوی دی .

ډير صبرناک او دالله په لاره کښې يي د جهاد سره ډيره مينه درلوده .

کله چه نبي کريم ﷺ مدينې ته هجرت اوکړو ، نو داول ځل لپاره د ابو ايوب الانصاري رضي الله عنه په کور کښې ديره شه ، تر دې پورې چه نبي کريم ﷺ خپل کور او مسجد تعمير کړو .
ابو ايوب الانصاري رضي الله عنه د نبي کريم ﷺ څخه يو سلو پنځه پنځوس (١٥٥)احاديث روايت کړي دي .
ابو ايوب الانصاري رضي الله عنه د قسطنطينې د غزا په مهال چه دهغې مشري ديزيد بن معاويه رضي الله عنه په غاړه وه وفات شو په کال دوه پنځوس (٥٢) هجري کښې او ددې په اړوند څه نور اقوال هم شته او دجنازې لمونځ يې يزيد ادا کړه او د قسطنطينې د قلعې د ديوالونو بيخ ته دفن کړ ی شو .

## من فوائد هذا الحديث:

ددې حديث د فوائدو څخه :

١ -پاک او حلال زرق د الله تعالی د نعمتونو له جملې څخه دي ، بايد ده چه يو مسلمان بنده ددې په مقابل کښې دالله تعالی شکر ادا کړي .

**٢ -دالله تعالى په نعمتونو كښې فكر سوچ كول د غوره عبادتونو د جملې څخه دى .**

**٣- يو مسلمان بنده بايد خپل خالق رازق او پيژني ، او دهغه ثناء او صفتونه بيان كړي ، او دهغه شكر ادا كړي ، او د هغه د عبادت او معرفت نه غافل نشي .**

أَفْضَلُ الكلام عند اللّه: سُبْحَانَ اللّهِ وَبَحِمْدِهِ .

**( سبحان الله وبحمده ) د الله تعالى په نيز باندي غوره كلمات دي .**

١٠ - عَنْ أَبِيْ ذَرٍّ ﷺ،أَنَّ رَسُوْلَ اللّهِ ﷺ سُئِلَ: أَيُّ الْكَلَامِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: ( مَااصْطَفَى اللّهُ لِمَلَائِكَتِهِ أَوْ لِعِبَادِهِ: سُبْحَانَ اللّهِ وَبَحِمْدِهِ ) (١٢)

**د ابو ذر ﷺ څخه روايت دى ، فرمايي : د نبي كريم ﷺ څخه پوښتنه اوشوه ،كوم كلمات غوره دي ؟ نبي كريم ﷺ**

---

١٢ -( صحيح مسلم، رقم الحديث ٨٤ - (٢٧٣١)، ).

اوفرمايل : هغه کلمات غوره دي کوم چه الله تعالى د خپلو ملائکو او بنده ګانو لپاره غوره کړي دي ، هغه کلمات دادي ( سبحان الله وبحمده ) الله تعالى پاک دى او هغه لره ثناء او صفتونه دي .

## راوي هذا الحديث، هو:

ددي حديث راوي ابو ذر جندب بن جنادة الغفاري ﵁ د مشرانو صحابه کرامو له جملې څخه دى ،اود ډير سخاوت خاوند وو ، تر دي چه هيڅ مال به يي نه جمع کولو ، او همدا رنګه فتوه به يي هم ورکوله په مدينه کښې ، ابو ذر ﵁ د نبي کريم ﷺ څخه دوه سوه يو اتيا (۲۸۱) احاديث نقل دي د شام په طرف اووت او بيا په ربذه مقام کښې ، کوم چه د مدينې نه په سل (۱۰۰) کيلو متره کښې ريا ض ښار طرف ته واقع دى ديره شو او هملته په کال (۳۱) يا (۳۲) هجري کښې وفات شو او دجنازې لمونځ يي عبد الله بن مسعود ﵁ ادا کړه .

## من فوائد هذا الحديث:

### ددي حديث د فوائدو څخه :

١- دا حديث د( تسبيح ) دالله تعالی پاکي بيانول او ( تحميد ) دالله تعالی ثناء او صفت کولو فضيلت بيانوي په لفظ ( سبحان الله وبحمده ) سره الله تعالی پاک دی او هغه لره ثناء او صفتونه دي .

٢ -د الله تعالی په ذکر باندي مشغولتيا د زړه او روح د خوشحالۍ او ارامۍ سبب دی .

٣ -دا حديث يو مؤمن بنده ديته هڅه وي چه دالله تعالی ډير ذکر او کړي په دي لفظ د( سبحان الله وبحمده ) سره الله تعالی پاک دی او هغه لره ثناء او صفتونه دي .

## الابتداع في أمور الدين ضلال

### د دين په کارونو کښې بدعت کول ګمراهي ده

١١ - عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ رَسُوْلَ اللّهِ ﷺ قَالَ: ( مَنْ عَمِلَ عَمَلاً لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ") (١٣)

**د ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها څخه روايت دی فرمايي: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي : چا چه داسې عمل اوکړو چه هغې باندي زمونږ حکم نه ووهغه عمل مردود دی .**

---

١٣ - (صحيح مسلم، رقم الحديث ١٨ - (١٧١٨)، وصحيح البخاري، رقم الحديث ٢٦٩٧ ، واللفظ لمسلم).

ددي حديث دراوي پيژندنه مخکي په (٥) نمبرحديث کښې ذکر شوې ده .

## من فوائد هذا الحديث:

### ددي حديث د فوائدو څخه :

١ - داحديث دلالت کوي،چه په دين کښې بدعت کول باطل اوګمراهي ده .

٢ -دين اسلام يو مؤمن بنده ديته هڅه وي چه بايد د الله تعالى په کتاب ( قران کريم ) او دهغه د سول ﷺ په سنتو باندې منګلې ولګوې .

٣ -په ديني کارونو کښې بدعت کولو په وجه انسان د اسلام د حقيقت نه لرې اوځي .

## مَاَ أَكْثَرُ دُعَاءِ النَّبِيِّ ﷺ؟

### نبي كريم ﷺ كومه دعا ډيره غوښتله ؟

١٢ - عَنْ أَنَسٍ ﷺ قَالَ: كَانَ أَكْثَرُ دُعَاءِ النَّبِيِّ ﷺ اَللَّهُمَّ! ﴿رَبَّنَآ ءَاتِنَا فِي ٱلدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي ٱلْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ﴾ (١٤)

**اى ربه څمونږ راكړې مونږ ته خوشحالي په دنيا كښې په نيک عمل سره او په اخرت كښې په جنت سره او ساتې مونږ لره د عذاب د اورنه !**

---

[١٤] (صحيح البخاري، رقم الحديث ٦٣٨٩، وصحيح مسلم، رقم الحديث ٢٣ - (٢٦٨٨)، واللفظ للبخاري).

**ددي حديث دراوي پيژندنه مخكي په (٨) نمبر حديث كښې ذكر شوې ده .**

## من فوائد هذا الحديث:

**ددي حديث د فوائدو ښخه :**

**١ -دين اسلام د سلامتيا او په دنيا اواخرت كښې دنيك بختۍ دين دی ، هغه انسان نيک بخته دی په دنيا او اخرت كښې كوم چه د دين اسلام په تعليماتو باندي عمل كوي .**

**٢ -دا دعاء هر قسم خير ته شامله ده ، بايد ده چه يو مسلمان بنده ددي دعا ډير اهتمام اوكړې،او دحرامو او مشتبهاتو ( شكي ښيزونه ) نه ځان اوساتي .**

## أَحَبُّ الْبِلاَدِ إِلَى اللَّهِ مَسَاجِدُهَا

**غوره په ښارونو کښې الله تعالی ته مسجدونه دي .**

١٣ -عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ: ("أَحَبُّ الْبِلاَدِ إِلَى اللّٰهِ مَسَاجِدُهَا،وَأَبْغَضُ الْبِلاَدِ إِلَى اللّٰهِ أَسْوَاقُهَا (١٥)

**د ابو هريره ﷺ څخه روايت دی،فرمايي: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: خوښ په ښارونو کښې الله تعالی ته مسجدونه دي اونا خوښ په ښارونو کښې الله تعالی ته بازارونه دي .**

---

[١٥]- (صحيح مسلم، رقم الحديث ٢٨٨ -(٦٧١)

## راوي هذا الحديث، هو:

**ددي حديث راوي عبدالرحمن بن صخر الدوسي اليماني دی او په ابوهريره ﷺ باندي مشهور دی ، ددي وجه داوه چه ده به د خپلي کورني چو پاني کوله او ورسره به يوه پيشو هم وه ابوهريره ﷺ په اوم (٧) کال دهجرت باندي د اسلام په دين مشرف شو، او په همدي کال باندي خيبر علاقه هم فتحه شوه .**

**او بيا يي ځلور (٤) کاله د نبي کريم ﷺ سره يو ځاي تير کړه او دعلم د حاصلولو لپاره يي ډير کوشش او حرص کوو . تر دي چه ډير علم يي د نبي کريم ﷺ نه زده کړه ، او ده په ټولو صحابه کرامو کښي د نبي کريم ﷺ نه زيات احاديث روايت کړي دي ، تر دي چه دده مسند په پنځه زره دري**

سوه څلور او يا (٥٣٧٤) احاديثو باندي مشتمل دی او د مديني د فقهاو (پو هانو ) له جملې څخه دی ، او په کال اوه پنځوس (٥٧) هجري کښې وفات شو او د بقيع په هديره کښې دفن شو .

## من فوائد هذا الحديث:

### ددي حديث د فوائدو څخه :

١- مسجدونه د الله تعالی د ذکر ځايونه او د دين نښې دي .
٢ - د مسجدونو تعظيم کول او دهغې صفا کول واجب دي . او جائز نه ده چه يو کس مسجد ته د داسې څه سره داخل شي چه هغه بد بويه وي .
٣ -بازارونه په عامه توګه الله تعالی ته خوښ نه دي ، ځکه چه په بازارونو کښې دوکې او د دروغو قسمونه او دالله تعالی نه اعراض کيږي .

## الاستعاذة باللّه من الأمراض السيئة

### په الله تعالی پوري د مرضونو نه پناه غو ښتل

١٤ -عَنْ أنس ﷺ أنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ يَقُوْلُ: (اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْجُنُونِ، وَالْجُذَامِ، وَالْبَرَصِ، وَ سَيِّئِ الأَسْقَامِ) (١٦)

د انس ﷺ څخه روايت دی فرمايي : چه نبي كريم ﷺ به دا دعاء غوښتله: (اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْجُنُونِ، وَالْجُذَامِ، وَالْبَرَصِ، وَ سَيِّئِ الأَسْقَامِ) اى الله تعالى زه په تاپوري د ليونتوب نه پناه غواړم او د ( جذام ) نه جذام يوه داسې

---

[١٦] - (سنن النسائي، رقم الحديث ٥٤٩٣، سنن أبي داود، رقم الحديث ١٥٥٤، واللفظ للنسائي، وصححه الألباني).

مرض دى چه دانسان دبدن غو ښې په کښې غورزيږي ، او بره ګي مرض نه او بدو مرضونو نه .

ددي حديث دراوې پيژندنه مخکي په (٨) نمبرحديث کښې ذکر شوې ده .

## من فوائد هذا الحديث:

### ددي حديث د فوائدو څخه :

١ - نبي کريم ﷺ ددي مرضونو نه پناه غو ښتله ، ځکه چه دا ډير سخت مرضونه دي ، او د خلکو کرکه ترينه کيږي ځکه چه ددي مرض دوجي نه دا نسان شکل بد رنګيږي .

٢ -روغ صحت لوي نعمت دى ، بايد ده چه مسلمان ددي ساتنه اوکړي ، او دالله تعالى ډيرشکر اداکړي، ځکه چه دناروغي په حالت کښې انسان نه شي کولاي چه هغه څه اداکړي کوم چه په ده باندي واجب وي .

٣ -هغه اسباب اختياره ول ضروري دي کوم چه د صحت لپاره فائده ورکوي ، اوپه شريعت مطهره کښې جائز وي .

# فضل صِيَامِ يَوْمِ عَرَفَةَ

## دعرفې دورځې روژه نیول او دهغې فضیلت

١٥ - عَنْ أَبِيْ قَتَادَةَ ﵁، أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ: (صِيَامُ يَوْمِ عَرَفَةَ، إِنِّيْ أَحْتَسِبُ عَلَى اللَّهِ أَنْ يُكَفِّرَ السَّنَةَ الَّتِيْ قَبْلَهُ وَالسَّنَةَ الَّتِيْ بَعْدَهُ ) (١٧)

**ابو قتاده ﵁ فرمايي : نبي كريم ﷺ فرمايلي دي : چه د عرفې په ورځ روژه نيولو باندې دالله تعالى نه دا اميد لرم چه په دې سره د تيرشوي او راتلونكي كال ګناهونه او ببښي .**

---

١٧ - (جامع الترمذي، رقم الحديث ٧٤٩، وصحيح مسلم، جزء من رقم الحديث ١٩٦ - (١١٦٢)، واللفظ للترمذي، وقَالَ الإمام الترمذي عن هذا الحديث: بأنه حديث حسن، وصححه الألباني ).

## راوي هذا الحديث، هو:

ددي حديث راوي ابو قتاده بن ربعي الانصاري ﵁ جليل القدر صحابي دی ، او په ډیرو غزاګانو کښي برخه اخستې ده او د سفر په مهال به يي د نبي کريم ﷺ خدمت او پيره کوله . عمر بن الخطاب ﵁ ده لره په يو لښکر دمسلمانانو کښې د فارس والاو د جنګ لپاره وليږه ، نو دهغوې بادشاه ده په خپل لاس قتل کړه .

دده د مړيني په نيټه او ځاې کښې اختلاف دی ، چا ويلي دي چه دکوفي په ښار کښې په کال اته ديرش (٣٨) هجري کښې وفات شوی دی ، او د جنازې لمونځ يي علي ﵁ اداکړه ، او چا ويلې چه په مدينه کښې په کال څلور پنځوس (٥٤) هجري کښې وفات شوی دی .

## من فوائد هذا الحديث:

**ددي حديث د فوائدو څخه :**

**١ -دا حديث مؤمن بنده د عرفي دورځې روژې نيولو ته هڅه وي ، خو چه دحج په مراسمو کښې نه وي .**

**٢ – په پورتني حديث کښې دګناهونو نه مراد واړه ګناهونه دي او هرچه لوي ګناهونه دي ، هغه بغير دتوبې نه نه معاف کيږي .**

**٣ -نيک عملونه د يو مؤمن بنده لپاره د الله تعالى په نيز باندي درجې اوچتوې .**

## يُكْرَهُ إفراد يوم الجمعة بالصوم

**يوائي د جمعي دورځي روژه نيول مكروه دي .**

١٦ - عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ ﷺ ، يَقُولُ: ( لاَ يَصُوْمُ أَحَدُكُمْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ ، إلاَّ يَوْما قَبْلَهُ ، أَوْ بَعْدَهُ ) [١٨]

**دابوهريره ﷺ څخه روايت دى فرمايي : ما اوريدلي دي د نبي كريم ﷺ نه هغه فرمايل : ستاسې يو كس دي يوائې د جمعې دورځې روژه نه نيسې بلكه يوه ورځ مخكې ياروسته دي ورسره هم اونيسې .**

---

[١٨]- (صحيح البخاري، رقم الحديث ١٩٨٥ ، وصحيح مسلم، رقم الحديث ١٤٧ - (١١٤٤)، واللفظ للبخاري).

ددي حديث دراوي پيژندنه مخكي په (١٣) نمبرحديث كښې ذكر شوې ده.

## من فوائد هذا الحديث:

### ددي حديث د فوائدو څخه :

١ -يوائې دجمعې د ورځې روژه نيول درست نه دي .

٢ -د جمعې ورځ د دعاء اود الله تعالى د ذكر او عبادت ورځ ده او همدارنګه د جمعې په ورځ د لمانځه نه روستو بايد حلال زرق هم طلب كړى شي ، نو ددي وجې نه يوائې د جمعې دورځ روژه نيول مكروه دي ، الله تعالى فرمايلي دي

﴿ فَإِذَا قُضِيَتِ ٱلصَّلَوٰةُ فَٱنتَشِرُواْ فِى ٱلْأَرْضِ وَٱبْتَغُواْ مِن فَضْلِ ٱللَّهِ وَٱذْكُرُواْ ٱللَّهَ كَثِيرًا ﴾ (١٩)

---

١٩ - (سورة الجمعة، الآية ١٠).

نو هر كله چه پوره كړی لمونځ نو خواره شي په ملك كښې او اولتهوي د فضل دالله تعالى نه او يا دوې الله تعالى لره ډير ددي لپاره چه كامياب شي .

## دَعَوَاتٌ مُسْتَجَابَاتٌ

## قبولي شوي دعاګاني

١٧ - عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﵁، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: (ثَلاثُ دَعَوَاتٍ مُسْتَجَابَاتٌ لاَ شَكَّ فِيْهِنَّ : دَعْوَةُ الْمَظْلُوْمِ، وَدَعْوَةُ الْمُسَافِرِ، وَدَعْوَةُ الْوَالِدِ عَلَى وَلَدِهِ ) (٢٠)

[٢٠] - (جامع الترمذي، رقم الحديث ١٩٠٥، وسنن أبي داود، رقم الحديث ١٥٣٦، و سنن ابن ماجه، رقم الحديث ٣٨٦٢، واللفظ للترمذي، قَالَ الإمام الترمذي: هذا حديث حسن، وحسنه الألباني).

د ابو هريره ﷺ څخه روايت دی فرمايي : نبي کريم ﷺ فرمايلي دي : دري غوښتنې دي ، چه دشک څخه پرته د الله تعالی په نيز قبولي دي: د مظلوم دعا ( غوښتنه ) او دمسافر دعا ، او د پلار دعا چه د بچي لپاره يي اوغواړي .

ددي حديث دراوې پيژندنه مخکي په (١٣) نمبرحديث کښې ذکر شوې ده.

## من فوائد هذا الحديث:

### ددي حديث د فوائدو څخه :

١ -د مظلوم دعا دالله تعالی په وړاندي خامخا قبليږي اګر که دا مظلوم کافر هم وي ، ځکه چه الله تعالی دهغه دعا د عدل په اساس قبلوي .

٢ -د مسافر دعا هم دالله تعالی په نيز خامخا قبليږي نو د مسافر لپاره بايد ده چه دسفر په مهال ډيري دعاګاني اوغواړي خصوصا چه سفر کله د عبادت لپاره وي ، لکه سفر

دحج اوعمرې وغيره په داسي وختونو کښې خو دعاګانو دقبليدلو ډير اميد وي .

٣ -د پلار دعا د بچې لپاره هم خامخا قبليږي ځکه چه پلار د خپل بچې لپاره دعا د زړه له کومې نه غواړي او په خپل بچې باندي ډير رحم او شفقت کوي ، او همدارنګه د پلار بدعاګانې ( ښيرې ) چه بچې ته اوکړې هم خامخا قبليږي ددي دوجې پلار بايد بچي ته هيڅکه ښيرې اونه کړې .

## التحذير من الغلو في تَعْظِيم النبي ﷺ

دنبي کريم ﷺ په شان کښې غلو ( زياتى كول منعه دي.

١٨ - عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: ( لاَ تَجْعَلُوْا بُيُوْتَكُمْ قُبُوْرًا ، وَلاَ تَجْعَلُوْا قَبْرِيْ عِيْدًا ، وَصَلُّوْا عَلَيَّ؛ فَإِنَّ صَلاَتَكُمْ تَبْلُغُنِيْ حَيْثُ كُنْتُمْ ) (٢١)

---

[٢١] - (سنن أبي داود، رقم الحديث ٢٠٤٢، وصححه الألباني).

د ابو هريره ﷺ څخه روايت دی فرمايي : نبي كريم ﷺ فرمايلي دي :

د كورونو نه قبرونه مه جوړه وې ، او مه نيسی ځما قبر په شان داختر ( چه خلك ورته راجمع كيږي ) او په ما باندي درود وايئ ، ځكه چه ستاسو درود ويل ماته رارسيږي په هر ځاي كښې چه تاسو يئ .

ددي حديث دراوې پيژندنه مخكي په (١٣) نمبرحديث كښې ذكر شوې ده.

## من فوائد هذا الحديث:

### ددي حديث د فوائدو څخه :

١ -بايد په كورونو كښې نفلې لمونځونه او دالله تعالى ذكر دعاګاني او همدارنګه دقران كريم تلاوت اوكړی شي ترڅو داكورونه د قبرونو په شان نشې .

٢ -دا حديث امت مسلمه د دينه منع كوي چه د نبي كريم ﷺ په قبر باندي داسې راجمع شي لكه څنګه چه په اخترونو كښې راجمع كيږي ځكه چه په دي كښې ډير تكليف وي او همدارنګه بعض خلک د نبي كريم ﷺ په تعظيم كولوكښې د حد نه تجاوز او زيا تې هم كوي .

٣ -داحديث لار ښونه كوي چه د نبي كريم ﷺ قبر اودهغه نه سوا دبل چا قبر وغيره ته سفر كول جائز نه دي .

٤- يو مؤمن بنده بايد په نبي كريم ﷺ باندي درود اووايي او دهغه سره مينه او محبت اوكړي .

## التحذير من التصوير بدون حاجة

د ضرورت نه بغير تصوير منع دى .

١٩ - عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بن مسعود ﵁ قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ ﷺ يَقُوْلُ: (إِنَّ أشدَّ النَّاسِ عَذَابًا عِنْدَ اللّٰهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ اَلْمُصَوِّرُوْنَ ) (٢٢)

**عبد الله بن مسعود ﵁ څخه روايت دى فرمايي : چه ما د نبي كريم ﷺ څخه اوريدلي دي هغه فرمايل : چه د قيامت په ورځ به الله تعالى سخت عذاب د تصويرونو جوړونكو ته وركوي .**

**ددي حديث دراوي پيژندنه مخكي په (٣) نمبرحديث كښې ذكر شوې ده.**

## من فوائد هذا الحديث:

**ددي حديث د فوائدو څخه :**

---

[٢٢] - صحيح البخاري، رقم الحديث ٥٩٥٠ ، وصحيح مسلم، رقم الحديث ٩٨ - (٢١٠٩)، واللفظ للبخاري).

١ -دا حديث دا لاربښونه کوي چه په اسلام کښې د هغه شيانو تصويرونه جوړول چه روح لري سخت منعه دي .

٢ -داحديث د تصوير جوړولونه سختته ويره ورکوي ، ځکه چه په تصوير جوړولو کښې د الله تعالی سره په خلقت (پيدائش) کښې مشابهت دی ، او همدارنګه تصويران د شرک لپاره سبب هم دی .

٣ -بعضې علماو ويلي چه دا حديث د هغه چا باره کښې دی کوم چه د بتانو تصويرونه او شکلونه جوړوي ددي لپاره چه دهغې عبادت او بندګې اوکړی شي ، ده ته به د قيامت په ورځ ډير سخت عذاب ورکولی شې ، خو غوره داده چه بايد دهر قسم تصوير جوړولو نه ځان اوساتل شې .

## من أسباب دخول الجنة

## جنت ته د داخليدلو سببونه

٢٠ - عَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ الْبَاهِلِيِّ ﷺ، يَقُوْلُ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَخْطُبُ فِيْ حَجَّةِ الْوَدَاعِ؛ فَقَالَ: (اتَّقُوْا اللّٰهَ رَبَّكُمْ، وَصَلُّوْا خَمْسَكُمْ، وَصُوْمُوْا شَهْرَكُمْ، وَأَدُّوْا زَكَاةَ أَمْوَالِكُمْ، وَأَطِيعُوْا ذَا أَمْرِكُمْ، تَدْخُلُوْا جَنَّةَ رَبِّكُمْ") (٢٣)

د ابو امامه الباهلي ﷺ ښځه روايت دى فرمايي : چه ما د نبي كريم ﷺ ښځه اوريدلي دي د حجة الوداع د خطبې او بيان په مهال چه هغه اوفرمايل : د خپل رب او پر ور دګار نه ويره كوئ ، او دپنځه لمونځونو پابندي كوئ ، او درمضان دمياشتي روژه نيسئ ، او دخپلو مالونو زكات وركوئ ، او دخپل مشر تابعداري كوئ ، نو تاسو به جنت ته داخل شئ .

راوي هذا الحديث، هو:

---

٢٣- (جامع الترمذي، رقم الحديث ٦١٦ ، قَالَ الإمام الترمذي عن هذا الحديث: بأنه حسن صحيح، وصححه الألباني).

ددي حديث راوي ابو امامه صدي بن عجلان بن وهب الباهلي ﵁ دی ، دډير فضيلت او زهد خاوند وو ، او دالله تعالی په لاره کښې جهاد کولو سره يي ډيره مينه درلوده د بدر دغزا نه علاوه په نورو ټولو غزاګانو کښې دنبي کريم ﷺ سره شريک شوی دی ، او دبدر د غزا په مهال دنبي کريم ﷺ په امر باندي دخپلې بوډۍ مور دخدمت لپاره پاتې شوی وو، او دنبي کريم ﷺ د فات نه روستو بيا دخلفاء راشيدينو په زمانه کښې هم په ډيرو جنګونو کښې شريک شوی دی .
دده نه د احاديثو په کتابونو کښې د نبي کريم ﷺ دوه سوه پنځوس (٢٥٠) احاديث نقل دي .
ابوامامه الباهلي ﵁ په شام کښې اوسيدلو ، او په کال يو اتيا (٨١) هجرۍ کښې د حمص په علاقه کښې وفات شوی دی

## من فوائد هذا الحديث:

ددي حديث د فوائدو څخه :

١- د الله تعالى نه ويريدل، اود فرض لمونځونو پابندي كول او درمضان دمياشتې روژې نيول، او زكات اداكول ، جنت ته د داخليدلو سببونه دي .

٢ -د الله تعالى تابعدارې كول ، او دهغه نه ويريدل او دهغه سره مينه كول او دهغه تعظيم كول او دهغه د نافرمانۍ نه ځان ساتل ديته تقوى وايي .

٣ -د اسلامي امت د خلفاو بادشاهانو او علماو تابعداري واجب ده چه كله د اسلامې تعليماتو خلاف نه وي ، ځكه چه د مخلوق تابعدارې په هغه صورت كښې نشته كله چه دهغې دوجې نه د خالق نافرمانې لازميږي .

## الإسلام يُحَذِّرُ من الفواحش

اسلام د هر قسم فحاشۍ نه منع كوي .

٢١ - عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ ﵁ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: ( لَيْسَ أَحَدٌ أَحَبَّ إِلَيْهِ الْمَدْحُ مِنَ اللّٰهِ، مِنْ أَجْلِ ذَلِكَ مَدَحَ نَفْسَهُ، وَلَيْسَ أَحَدٌ أَغْيَرَ مِنْ اللّٰهِ، مِنْ أَجْلِ ذَلِكَ حَرَّمَ الْفَوَاحِشَ ) (٢٤) .

**دعبد الله بن مسعود﵁ څخه روايت دی فرمايي نبي كريم ﷺ فرمايلي دي:**

**نشته هيڅ يوكس چه دهغه صفت كول هغه ته ډير خوښ وي دالله تعالى نه ، ددي وجي نه الله تعالى خپل صفت بيان كړی دی ، او دالله تعالى نه ډير غيرتي هيڅوک نشته ددي دوجي نه الله تعالى فاحش كارونه حرام كړي دي .**

---

[٢٤] - (صحيح مسلم، رقم الحديث ٣٢ - (٢٧٦٠)، وصحيح البخاري، رقم الحديث ٥٢٢٠، واللفظ لمسلم).

ددي حديث دراوې پیژندنه مخکي په (٣) نمبرحدیث کښې ذکر شوې ده.

## من فوائد هذا الحديث:

### ددي حديث د فوائدو څخه :

١ – الله تعالی خوښوي چه بنده دهغه ثناء او صفت اوکړې او د هغه اطاعت عبادت او ذکر اوکړې نو مؤمن بنده لره باید ده چه په دې ټولوباندي عمل اوکړي او دخپل رب سره خپل تعلق قوي کړې .

٢ -هر کله چه یو بنده دخپل رب ثناء او صفت بیانوي ، نو الله تعالی ورته اجر او ثواب ورکوې ، سره له دینه چه الله تعالی ستایلی شوی او بې حاجته ذات دی نه ورته دیو صفت کونکی صفت څه فائده ورکوې ، او که یې صفت بیان نه کړې ، نو څه نقصان هم نه ورکوې بلکه په دې صفت بیانولو کښې د بنده خپله فائده ده ، هغه داچه الله تعالی ورته اجر او ثواب ور په برخه کوې.

٣ -الله تعالى ډير دغيرت والا ذات دی ، او ددي معنی داده چه الله تعالى انسان د بدو کارونو نه منع کوي ، ددي لپاره چه دهغه د دين او عزت او دعقل ساتنه اوشي ، ځکه خو الله تعالى زنا غلا او رشوت او دشرابو څکل وغيره حرام کړي دي .

٤-په ښه نيت باندي د يو چا مدحه او صفت کول جائز اوښه کار دی .

٥ -کله چه په صفت کولو باندي يو کس په فتنه کښي واقع کيږي ، او په ځان خوشحاليږي ، نو دهغه مدحه او صفت کول جائز نه دي ، او په همدي باره کښي نبي کريم ﷺ فرمايلي دي:

( إِذَا رَأَيْتُمُ الْمَدَّاحِيْنَ فَاحْثُوْا فِيْ وُجُوْهِهِمُ التُّرَابَ) (٢٥)

---

٢٥ -(صحيح مسلم، رقم الحديث ٦٩ - (٣٠٠٢)

کله چه تاسو هغه کسان اووینۍ چه ډیر صفتونه کوي په مخ ورته خاورې واچوې .

او هغه کس چه دهغه دصفت کولو دو جې نه هغه په فتنه کښې نه واقع کیږي ، نو دهغه صفت کول جائز دي .

## تحريم خِطْبَةِ المسلم على خِطْبَةِ أخيه المسلم

کله چه یو مسلمان ورور دیوې انجلۍ غوښتنه کړې وي بل مسلمان لره دهغې غوښتنه حرامه ده.

٢٢ - عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: ( لاَ يَبِعْ بَعْضُكُمْ عَلَى بَيْعِ بَعْضٍ، وَلاَ يَخْطُبْ بَعْضُكُمْ عَلَى خِطْبَةِ بَعْضٍ) (٢٦)

---

[٢٦] -(صحيح مسلم، رقم الحديث ٤٩ -(١٤١٢)، )، وصحيح البخاري، رقم الحديث ٥١٤٢ ، واللفظ لمسلم).

د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دى فرمايي : نبي كريم ﷺ فرمايلي دي: تاسو د يو بل په بيعه ( اخستل او خرڅول ) باندي بيعه مه كوي ، او همدارنګه تاسو د يو مسلمان ورور په خطبة باندي خطبه مه كوئ د نكاح لپاره د يو انجلۍ غوښتني ته ( خطبة ) وايي .

راوي هذا الحديث، هو:

ددي حديث راوي عبد الله بن عمر رضي الله عنهما جليل القدر صحابي دى ، د خپل پلار سره په داسي حال كښي په دين اسلام مشرف شو ، چه بالغ لا هم نه وو ، او بيا وروسته يي مديني ته هجرت اوكړو، اول ځل لپاره د خندق په غزا كښي شريک شوى دى ، او بيا وروسته په ټولو غزاګانو كښي د نبي كريم ﷺ سره شركت كړى دى ، او همدارنګه د مصر شام عراق او فارس وغيره په ډيرو اسلامي فتوحاتو كښي شريک شوى دى ، او په صحابه كرامو كښي د علماو

دجملې څخه شمارل کیږي ، ډیر زاهد او عابد وو تر دې چه دده زهد او تقوی د مثال په توګه ذکر کیږي .
او د احادیثو په کتابونو کښې دده نه د نبي کریم ﷺ دوه زره شپږ دیرش (۲۶۳۰) احادیث نقل دي .
او په کال اوه اویا (۷۷) هجري کښې په مکه مکرمه کښې دشپږ اتیا کالو(۸۶) په عمر وفات شو .رضي الله عنه !

من فوائد هذا الحديث:

ددي حديث د فوائدو څخه :

١ -داحديث دلالت کوي چه بيعه او شراء ( اخستل او خرڅول کول ) د يو مسلمان په بيعه او شراء ( اخستل او خر څولو ) باندي حرام ده .

٢ -دا حديث دا تقاضا کوي چه يو مسلمان به د بل مسلمان په خطبه لاندي خطبه نه کوي ، ځکه چه دا حرام کار دی خطبه ( يوه انجلۍ د نکاح لپاره غو ښتلو ) ته وايي .

٣ -دين اسلام انسانيت ته د ښو اخلاقو ترغيب ورکوي ددي لپاره چه په ټولنه کښې بغض حسد او کينه له مينځه لاړه شي .

إن اللّٰه يحب العبد التَّقيَّ

اللّٰه تعالى متقي بنده خوښه وي

٢٣ - عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِيْ وَقَّاصٍ ﷺ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ: ( إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْعَبْدَ التَّقِيَّ، الْغَنِيَّ، الْخَفِيَّ ) (٢٧)

دسعد بن ابي وقاص ﷺ څخه روايت دی فرمايي : چه ما د نبي كريم ﷺ څخه اوريدلي دي هغه فرمايل : الله تعالى د هغه بنده سره محبت كوي كوم چه خپل ځان د ګناهونونه بچ ساتي او د مخلوق نه خپل ځان بي پرواه كړي ، او خپل نيک عملونه نه ښكاره كوي .

راوي هذا الحديث، هو:

---

[٢٧] - (صحيح مسلم، رقم الحديث ١١ - (٢٩٦٥)،).

ددې حديث راوي ابو اسحاق سعد بن ابي وقاص ﵁ جليل القدر صحابي دی ، او د قريشو د کورنۍ سره تعلق لري .
دهجرت نه دريش (٢٣) کاله مخکې په مکه مکرمه کښې پيدا شوی او په همغه ځاي کښې لوي شوی دی ، سعد ﵁ دهغه صحابه کرامو د ډولګی څخه دی ، کوم چه اول په اسلام کښې داخل شوي وو .
او بيا يي مدينې ته هجرت اوکړه ، دبدر او هغه غزاګانې چه دبدر د غزا نه روستو واقع شوې دي ، په هغه ټولو کښې شريک شوی دی .
او د عشره مبشره ( هغه صحابه کرام چه نبي کريم ﷺ هغوې ته په يو ځل د جنت زيری ورکړ وو ) د هغوې د جملې څخه سعد هم دی .
او دهغه شپږو صحابه کرامو دجملې څخه کوم چه عمر ﵁ مقرر کړي وو ، چه زما د وفات نه روستو به په دوې کښې

يو كس د مسلمانانو خليفه وي ، په هغه شپږو كسانو كښې سعد ﷛ هم شامل وو .

سعد ﷛ ډير زړه ور او با شهامته سخصيت وو، او په زمانه د عمر ﷛ كښې او همدارنګه په زمانه د عثمان ﷛ كښې دكوفې امير وو .

د فارس اوعراق دښارونو په فتحه كولو كښې يي د مسلمانانو د لښكر مشري هم په غاړه در لوده ، چه دالله تعالى په فضل يي د قادسي په جنګ كښې د فارس لښكرې د هزيمت او ماتې سره مخامخ كړې ، او د مدائن ښار هم دده په لاس فتح شو .

سعد ﷛ د ډيرو فضائلو خاوند وو ، او دالله تعالى په نيز باندي به يي دعاګانې ډيرې ښې قبليدلې .

هغه فتنې او اختلافات وغيره كوم چه د صحابه كرامو رضي الله عنهم په مينځ كښې واقع شوې وو، سعد ﷛ په هغه

اختلافاتو کښې خپل ځان ګوښه کړه، او خپلو بچو ته به يي فرمايل چه ددي باره کښې ماته څه خبر مه راوړئ .

د سعد ﷺ نه د احاديثو په کتابونو کښې د نبي کريم ﷺ دوه سوه اويا (٢٧٠) احاديث نقل دي .

په کال پنځه پنځوس (٥٥) هجرۍ کښې د عقيق په مقام کوم چه دمدينې نه اوه (٧) ميله فاصله کښې واقع دى وفات شو ، او بيا مدينې ته يوړلی شو او دجنازه لمونځ يي امير المؤمنين مروان بن الحکم ادا کړه او د بقيع په هديره کښې دفن کړی شو ، او د مهاجرينو صحابه کرامو د جملې څخه دا اخري صحابي وو چه وفات شو .

## من فوائد هذا الحديث:

### ددي حديث د فوائدو څخه :

١- يو مسلمان لره بايد ده چه د مسلمانانو په ټولنه کښې شريک ژوند اوکړې .

٢ -کله چه فتنې ډيرې شي او يو مؤمن سره ويره او انديښنه وي هسې نه چه په دې فتنو کښې واقع نشم نو دده لپاره غوره داده چه خپل ځان ګو ښه کړې ، او دخپل دين وغيره حفاظت اوکړي .

٣ -د مسلمان لپاره صله رحمې پالل په اسلام کښې ضروري دي ، خو چه کله ددي دوجي نه دالله تعالی په نافرمانې کښې نه واقع کيږي او که چيرته د الله تعالی په نافرمانۍ کښې واقع کيده ، نو بيا به صله رحمې پريږ دې، ځکه شرعې قاعده ده چه د فساد دفع کول لمړی دي ،دفائدو حاصلولونه

٤ -ددي حديث معنی داده ، چه الله تعالی د هغه بنده سره چه ( تقي ) وي ( غني ) وي او ( خفي ) وي محبت کوي ( تقي ) هغه بنده ته وايي چه په واجباتو باندي عمل کوي او دحرامو نه ځان ساتې ، او ( غني ) هغه بنده ته وايي چه دهغه نفس موړ او غني وي ، او دمخلوق نه غوښتني نه کوي او ( خفي ) هغ بنده ته وايی چه خپل عملونه نه ښکاره کوې

او څوک ورته توجه هم ډيره نه کوي ، داسې بنده ګان دالله تعالی په نيز باندي ډير لوړ مقام لري .

## من فضائل سورة الملك

### د سورت ملک ( تبارک الذي ) فضيلت

٢٤ - عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ، عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: (إِنَّ سُوْرَةً فِي الْقُرْآنِ ثَلاَثُوْنَ آيَةً، شَفَعَتْ لِصَاحِبِهَا؛ حَتَّى غُفِرَ لَهُ) (٢٨)

د ابو هريره ﷺ څخه روايت دی فرمايي : نبي کريم ﷺ فرمايلي دي : چه قران کريم کښې يو سورت دی ديرش (٣٠) اياتونه لري هغه به د خپل ملګری يعني لوستونکی

---

[٢٨] - (سنن ابن ماجه، رقم الحديث ٣٧٨٦، و سنن أبي داود، رقم الحديث ١٤٠٠، وجامع الترمذي، رقم الحديث ٢٨٩١، واللفظ لابن ماجه، قَالَ الإمام الترمذي عن هذا الحديث: بأنه حديث حسن، وصححه الألباني).

لپاره سفارش کوي ، تر دې چه دهغه ببنبه به اوکړی شي .

هغه سورت ﴿ تَبَٰرَكَ ٱلَّذِى بِيَدِهِ ٱلۡمُلۡكُ ﴾ (٢٩)

برکت والا دی هغه ذات چه د هغه په لاس کښې باد شاهي ده .

## من فوائد هذا الحديث:

ددې حديث د فوائدو ښخه :

١ - په دې حديث کښې د سورت ( ملک) فضيلت ذکر دی

٢. -دا سورت به دهغه چا لپاره سفارش کوي ، څوک چه ددې سورت تلاوت کوي ، او په دې سورت باندي عمل کوي .

---

٢٩ - ( سورة الملك: ١).

٣ -دا حديث مونږ ته دا درس راکوي ، چه مونږ بايد دا سورت زده کړو او ددي تلاوت اوکړو او په دې باندي عمل اوکړو .

## وجوب العناية بالصلاة

### د لمانځه پابندۍ کول .

٢٥ - عَنْ بُرَيْدَةِ بْنِ الْحُصَيْبِ الْأَسْلَمِيِّ ﷺ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: (اَلْعَهْدُ الَّذِي بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمْ: اَلصَّلَاةُ؛ فَمَنْ تَرَكَهَا؛ فَقَدْ كَفَرَ)[٣٠]

د بريده بن الحصيب ﷺ څخه روايت دی فرمايي : نبي کريم ﷺ فرمايلي دي : چه زمونږ او د کافرانو په مينځ کښې فرق

[٣٠] - (جامع الترمذي، رقم الحديث ٢٦٢١ ، وسنن ابن ماجه، رقم الحديث ١٠٧٩ ، قال الإمام الترمذي عن هذا الحديث: بأنه حسن صحيح غريب، وصححه الألباني).

لمونځ کول دي چا چه لمونځ پريښود په تحقيق سره کافر شو .

## راوي هذا الحديث، هو:

ددي حديث راوي بريده بن الحصيب الاسلمي ﵁ دی ده هغه وخت د اسلام دين قبول کړه ، کله چه نبي کريم ﷺ مديني ته هجرت کولو او ددوې په کلي ورتير شو ، نو بريده بن الحصيب الاسلمي ﵁ سره د اتيا (٨٠) کسانو چه ددې کليوال وو، ټول په اسلام مشرف شول، او نبي کريم ﷺ ورته د ماخوستن لمونځ په جمع سره اداکړه ، او داحد په غزا او هغه غزاګاني چه داحد د غزانه روستو واقع شوي دي ، په هغه ټولو کښې د نبي کريم ﷺ سره شريک شوی دی ، او بيا په روستو زمانه کښې بصرې ته لاړو، او له هغه ځايه بيا د جهاد لپاره خراسان ته لاړو ، او هلته په (مرو) نوم ځاي کښې چه اوس د بلخ په نوم يادېږي ، پاتې شو او هملته بيا په کال دوه يا دري شپيته (٦٢) (٦٣) هجري په خلافت

د يزيد بن معاويه كښې وفات شو ، او داحاديثو په كتابونو كښې دده نه يو سلو اوه اويا (١٧٧) احاديث نقل دي .

## من فوائد هذا الحديث:

### ددي حديث د فوائدو څخه :

١- لمونځ كول د مسلمانانو او كافرانو په مينځ كښې فرق اوښكاره نښه ده .

٢- د لمانځه پابندې كول لازم او ضروري ده ، او په لمانځه كښې سستې كول حرام دي .

٣- لمونځ كول د دين اسلام روح دی ، نو كله چه لمونځ پريښودلی شي نو د دين اسلام څه اثر نه پاتكيږي .

## الإسلام دين السماحة

### په دين اسلام کښې اساني ده .

٢٦ - عَنْ مُعَاذٍ ﵁ قَالَ: خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ فِيْ غَزْوَةِ تَبُوْكَ؛ (فَكَانَ يُصَلِّي الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ جَمِيْعًا، وَالْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ جَمِيْعًا) (٣١)

**د معاذ بن جبل ﵁ څخه روايت دى ، فرمايي : مونږ د نبي کريم ﷺ سره د تبوک غزا ته لاړو ، نو نبي کريم ﷺ به دماسپښين اومازديګر لمونځونه يوځاي کول ، او همدارنګه به يي د ماښام او ماخوستن لمونځونه يو ځاي کول .**

---

[٣١] - (صحيح مسلم، رقم الحديث ٥٢ - (٧٠٦)،).

## راوي هذا الحديث، هو:

ددي حديث راوي ، ابوعبد الرحمن معاذ بن جبل ﷺ دی معاذ بن جبل ﷺ دډېر فضيلت خاوند دی ، او چه کله د مديني خلکو د نبي کريم ﷺ سره بيعت کولو ، نو دا هم په دغه بيعت کولو کښي موجود وو ، د بدر غزا او هغه غزاګانې چه د بدر د غزانه روستو واقع شوي دي، په هغه ټولو کښې د نبي کريم ﷺ سره شريک شوی دی ، اتلس (١٨) کلن وو چه په دين اسلام مشرف شو ، د حلالو او حرامو په مسائلو ډير پوهه وو، او دحديثو په کتابونو کښې دده نه يوسلو اوه پنځوس (١٥٧) احاديث نقل دي ، يمن ته نبي کريم ﷺ د والي په حيثيت ليګلی وو، د نبي کريم ﷺ دوفات نه روستو بيرته مديني ته راغی او بيا وروستو شام ته لاړو او هلته په کال اتلس (١٨) يا اولس (١٧) هجري کښې د طاعون په مرض وفات شو ، او عمر يي څلور دير ش (٣٤) کاله وو.

## من فوائد هذا الحديث:

**ددي حديث د فوائدو څخه :**

**١ -دې حديث نه دامعلوميږي چه د ماسپښين او دمازديګر لمونځ او همدارنګه دماښام او ماخو ستن لمونځ يو ځاي په جمع کول جائز دي .**

**٢ – په دين اسلام کښې اساني ده او دخلکو نه تکليف او سختي لري کوي ددي وجي نه په دين اسلام کښې دوه لمونځونه يو ځاي جمع کول جائز دی .**

**٣- دا حديث ددي ايت کريمه سره په ضد کښې نه دی**

﴿إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ كَانَتۡ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ كِتَٰبٗا مَّوۡقُوتٗا ﴾ (٣٢)

---

[٣٢] - (سورة النساء: ١٠٣)

يقينا لمونځ فرض دی ، په مؤمنانو باندې په وخت مقرر کښې .
ځکه چه ددې حديث نه د ضرورت په وخت د دوه لمونځونو يو ځاې کول ثابتيږي ، او چه ضرورت نه وي ، نو هر لمونځ په خپل وخت کښې ادا کول فرض دي .

## غاية الحياة البشرية: نيل رِضَا اللَّهِ

**د ژوند مقصد د الله تعالى رضا حاصلول دي .**

٢٧ -عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا ، قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللَّهِ ﷺ يَقُوْلُ: ( مَنِ الْتَمَسَ رِضَا اللَّهِ بِسَخَطِ النَّاسِ كَفَاهُ اللَّهُ مُؤْنَةَ النَّاسِ، وَمَنِ الْتَمَسَ رِضَا النَّاسِ بِسَخَطِ اللَّهِ؛ وَكَلَهُ اللَّهُ إِلَى النَّاسِ ) (٣٣)

---

[٣٣] - (جامع الترمذي، رقم الحديث ٢٤١٤، سكت الإمام الترمذي هنا ولم يقل عن هذا الحديث شيئا، وصححه الألباني).

د ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها څخه روايت دی فرمايي: ما د نبي كريم ﷺ نه اور يدلي دي هغه فرمايل : چا چه دالله تعالى رضا طلب كړه ، اګر كه خلك خپه كيږي الله تعالى به هغه محفوظ كړی دخلكو دشر او تكليف نه او چا چه دخلكو رضا كول طلب كړه ، د الله تعالى په خفګان نو الله تعالى به يي همدي خلكو ته اوسپاري .

ددي حديث دراوي پيژندنه مخكي په (٥) نمبرحديث كښې ذكر شوې ده.

من فوائد هذا الحديث:

ددي حديث د فوائدو څخه

١- واجب ده چه بايد دالله تعالى تابعداري مخكښې كړی شي دمخلوق په تابعدارۍ باندي .

٢ -الله تعالی ته نیږدیکت او دهغه رضاکول یو ائحي په صحیح طریق دهغه تابعداري او بنده ګي کولو باندي حاصلیږي .

٣ – چا چه د مخلوق دویرې له وجي د الله تعالی نافرماني اوکړه ، او خپل دین یي ددي فانې دنیا په متاع خرڅ کړه الله تعالی به یي ذلیل خوار اورسوا کړې .

## الإسلام دين التعامل بالأساليب الحسنة

### اسلام په معاملاتو کښې ښو اخلاقو ته ترغیب ورکوي

٢٨ - عَنْ أَبِيْ ذر ﷺ قَالَ: قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: (اتَّقِ اللّٰهَ حَيْثُمَا كُنْتَ، وَأَتْبِعِ السَّيِّئَةَ الحَسَنَةَ؛ تَمْحُهَا، وَخَالِقِ النَّاسَ بِخُلُقٍ حَسَنٍ) (٣٤)

د ابو ذر ﷺ څخه روایت دی ، فرمایي : نبي کریم ﷺ فرمایلي دي : د الله تعالی نه ویره کوه هر ځاي چه وي او که په ګناه کښې مبتلا شوي نو ورپسې سمدست نیک عمل اوکړه ، دا ګناه به ختم کړې ، او د خلکو سره په ښو اخلاقو معامله کوه .

ددې حدیث دراوې پېژندنه مخکې په (١٠) نمبرحدیث کښې ذکر شوې ده .

---

٣٤- (جامع الترمذي، رقم الحديث ١٩٨٧، قال الإمام الترمذي عن هذا الحديث بأنه: حسن صحيح، وحسنه الألباني).

## من فوائد هذا الحديث:

## ددي حديث د فوائدو ځخه

١ -د الله تعالی حکمونه منل او د هغه د نافرمانۍ نه ځان ساتل دیته تقوا وایي او په دي سره انسان دالله تعالی دعذاب نه بچ کیږي .

٢ -ښه اخلاق دیته وایي ،چه دهغې ښه والی په شرعې سره او همدارنګه په عقل سره معلوم وې ، او د ښو اخلاقو فائده داده ، چه د ښو اخلاقو خاوند چا ته تکلیف نه رسوي ، بلکه کوشش کوي چه نورو خلکو ته فایده ورسوي ، او د چا لخوا چه ورته څه تکلیف ورسیږي په هغې باندي صبر کوي .

٣ - په نیکو اعمالو باندي الله تعالی د بنده ګناهونه معاف کوي او دا د الله تعالی د مهربانۍ نښه ده .

٤ – دین اسلام ټول انسانان دې ته دعوت کوي ، چه دیوبل سره د ژوند په ټولو برخو کښې په ښو اخلاقو سره معامله اوکړې .

# دعاء الركوع والسجود

## په ركوع او سجده كښئ دعاګاني

٢٩ - عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَقُوْلُ فِيْ رُكُوْعِهِ وَسُجُوْدِهِ: (سُبْحَانَكَ اَللَّهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ، اَللَّهُمَّ اغْفِرْ لِيْ) (٣٥) .

**عائشه رضي الله عنها فرمايي : چه نبي كريم ﷺ به په ركوع او سجده كښې دا دعاء لوستله :**

(سُبْحَانَكَ اَللَّهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ، اَللَّهُمَّ اغْفِرْ لِيْ) (٣٦)

.

---

[٣٥] - (صحيح البخاري، رقم الحديث ٧٩٤، وصحيح مسلم، رقم الحديث ٢١٧ - (٤٨٤)، واللفظ للبخاري).

[٣٦] - (صحيح البخاري، رقم الحديث ٧٩٤، وصحيح مسلم، رقم الحديث ٢١٧ - (٤٨٤)، واللفظ للبخاري).

اى زمونږ ربه تا په پا كې سره يادوم اوتا لره ستاينه كوم الهي ماته ښنه اوكړې .

ددي حديث دراوي پيژندنه مخكي په ( ٥ ) نمبرحديث كښې ذكر شوې ده

## من فوائد هذا الحديث:

## ددي حديث د فوائدو څخه

١ -په ركوع او سجده كښې ددي دعاء لوستل مستحب اوغوره كار دى .

٢ -په ركوع او سجده كښې دعاء غو ښتل د نبي كريمﷺ نه ثابت دي.

٣ – په ركوع او سجده كښې ددي نه علاوه نورې دعاګانې هم ثابتې دي .

## مكانة المساجد وفضل من قصدها لعمارتها بالعبادة للّٰه

## مسجد او مسجد ته د تللو فضيلت او غوره والى

٣٠ - عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ، عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: (مَنْ غَدَا إِلَى الْمَسْجِدِ وَرَاحَ، أَعَدَّ اللّٰهُ لَهُ نُزُلَهُ مِنَ الْجَنَّةِ، كُلَّمَا غَدَا أَوْ رَاحَ ) (٣٧).

**د ابو هريره ﷺ څخه روايت دی ، فرمايي : نبي كريم ﷺ فرمايلي دي:**

**څوک چه مسجد ته ځي او بيرته راځي ، الله تعالى ورته په جنت كښې ميلمستيا تياره وي، هر كله چه مسجد ته لاړ شي ، او بيرته راشي .**

**ددي حديث دراوي پيژندنه مخكي په (١٣) نمبرحديث كښې ذكر شوې ده .**

---

[37] - (صحيح البخاري، رقم الحديث ٦٦٢، وصحيح مسلم، رقم الحديث ٢٨٥ - (٦٦٩)، واللفظ للبخاري).

## من فوائد هذا الحديث:

## ددي حديث د فوائدو څخه

١ -په دې حديث کښې دمسجدونواو دهغه چا چه . مسجدونو ته ځې او دالله تعالى عبادت او بنده ګئ اودهغه شکر ادا کوي، فضيلت او غوره والى بيان شوى دى .

٢ -دا ايمان او عقيده لرل ، چه الله تعالى جنت پيداکړى او موجود دى او هميشه به وي ، او دمؤمنانو لپاره په کښې الله تعالى ډير نعمتونه تيار کړي دي .

٣ -دا حديث ترغيب ورکوي چه مسجدونه بايد د الله تعالى په عبادت باندي اباد کړى شي، مسلمان بنده بايد د مسجدونو تعظيم اوکړي ، او هغي د صفايي خيال او ساتې .

٤ -په دې حديث کښې د (غدا) نه مراد مسجد ته تلل دي او د (راح) نه مراد د مسجد نه بيرته راتلل دي .

## فضل التيسير في البيع والشراء

## په اخستلو او خرڅولو کښې اساني کول او دهغې غوره والى

٣١ -عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﵁ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللَّهِ ﷺ: ( مَنْ أَقَالَ مُسْلِمًا؛ أَقَالَهُ اللَّهُ عَثْرَتَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ) (٣٨)

د ابو هريره ﵁ څخه روايت دى ، فرمايي : نبي كريم ﷺ فرمايلي دي:

چاچه اساني اوكړه ديو مسلمان سره په بيعه اخستل خرڅولو كښې الله تعالى به ورسره اساني اوكړي دقيامت په ورځ باندي .

[38] - (سنن ابن ماجه، رقم الحديث ٢١٩٩ ، وسنن أبي داود ، رقم الحديث ٣٤٦٠ ، واللفظ لابن ماجه، وصححه الألباني).

## ددي حديث دراوي پيژندنه مخکي په ( ١٣) نمبرحديث کښې ذکر شوې ده

### من فوائد هذا الحديث:

### ددي حديث د فوائدو څخه

١ -(الاقالة) اقالة دعلماو په اصطلاح کښې ديته وايي: چه اخستونکی اوخر څونکی په رضا سره بيعه ختمه کړې خرڅونکی اخستونکي ته خپلې پيسې واپس ورکړي او اخستونکی خرڅونکي ته خپل مال واپس ورکړې.

٢ -د عامو خلکو سره احسان او نرمي کول پکار ده او دهغوې سره مرسته او کومک کول پکار دی.

٤ -په صورت داقاله کښې د خرڅونکی لخوا نه د اخستونکی سره احسان وي ، ځکه چه کله اخستل خرڅول اوشې ، نو اخستونکی نشي کولاې چه مال بيرته واپس کړي ، مګر د خرڅونکي په اجازه سره.

## الحث على الوفاء بالحقوق كاملةً وراجحةً

**يومؤمن بايد پوره حقوق ادا كړي .**

٣٢ - عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللَّهِ ﷺ: (إِذَا وَزَنْتُمْ فَأَرْجِحُوْا) (٣٩) .

**د جابر بن عبد الله رضي الله عنهما نه روايت دى ، فرمايي : نبي كريم ﷺ فرمايلي دي: كله چه تاسو پيمانه كوئ ، درنه يي تول كړي .**

راوي هذا الحديث، هو:

**ددي حديث راوي جابر بن عبد الله الانصاري جليل القدر صحابي دى ، كله چه د مديني خلكو د نبي كريم ﷺ بيعت كولو نو دا هم دخپل پلار سره يوځاي د نبي كريم ﷺ سره بيعت اوكړو ، او همدارنګه د بيعت رضوان سعادت ورته**

---

[٣٩] - (سنن ابن ماجه، رقم الحديث ٢٢٢٢، وصححه الألباني).

هم ور په برخه شوی دی ، د حديثو په کتابونو کښې دده نه د نبي کريم ﷺ ډير احاديث نقل دي ، دده مسند په يو زرو پنځه سوه څلويښت (١٥٤٠) احاديثو باندي مشتمل دی او په کال دري اويا (٧٣) هجري کښې وفات شوی دی او بعض تاريخ پوهانو دده دتاريخ نيټه بله هم ښودلې ده .

## من فوائد هذا الحديث:

## ددي حديث د فوائدو څخه

١ -رشتنی مؤمن بايد د عدل او انصاف خاوند وي او په تول کښې بايد د کمې کولو نه ځان اوساتي او بايد دخلکو حقوق په ښه توګه ادا کړي .

٢ -مسلمان بايد د ښو اخلاقو خاوند وي ، او دخلکو سره په بايد ښه چلن او کړي ، او د هغوي حقوق په ښه توګه ادا کړي .

٣ - په پيمانه کښې کمی کونکی د هغه چا برخه کمه وي څوک چه دده سره معامله کوي ، او چه کله د بل نه څه اخلې

نو كوشش كوي چه په پيمانه كښي زيادت اوكړي ، خو رشتنى مسلمان بيا په اخسوتلو او خر څولو كښي د صدق رشتيا او امانتدارۍ معامله كوي ، او دهيڅچا سره دوكه نه كوي .

المسلمون كمثل البنيان الذي يمسك بعضه بعضا

مسلمانان د قوي ابادۍ په شان مثال لري ، يو بل لره كلكه وي .

٣٣ - عَنْ أَبِيْ مُوْسَى ﷺ قَالَ: ( قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: "اَلْمُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِ كَالْبُنْيَانِ يَشُدُّ بَعْضُهُ بَعْضاً) (٤٠)

د ابو موسى الاشعري ﷺ څخه روايت دى فرمايي : نبي كريم ﷺ فرمايلي دي : چه يو مؤمن د بل مؤمن لپاره د ابادۍ مثال لري ، چه بعضي بعضو لره قوي كوي .

---

٤٠ -(صحيح البخاري، رقم الحديث ٢٤٤٦ ، وصحيح مسلم، رقم الحديث ٦٥ - (٢٥٨٥)، واللفظ لمسلم).

## راوي هذا الحديث، هو:

ددي حديث راوي ابو موسى الاشعري ﷺ دى ، د يمن نه مكې مكرمې ته راغلى وو ، نو داسلام په دين مشرف شو ، او بيرته يمن لاړو ، بيا حبشې ته لاړو او د خيبر د فتحې نه روستو مدينې ته راغلى ، او په ډيرو جهادونو او غزاګانو کښې شريک شوى دى ، د ډير علم عبادت او پوهې خاوند وو، او په ډير ښائسته اواز به يي دقران كريم تلاوت كولو ، په كال څلور څلويښت (٤٤) هجري کښې په كوفه يا مدينه کښې وفات شوى دى .

## من فوائد هذا الحديث:

## ددي حديث د فوائدو څخه

١ -دا حديث مسلمانان ديته هڅه وي ، چه بايد په خپل مينځ کښې مينه محبت او نرمې اوکړي ، او هر يو مسلمان بايد د بل مسلمان لپاره هغه څه خوښ کړې ، کوم څه چه دخپل ځان لپاره خوښوي ، ځکه نبي کريم ﷺ د مؤمنانو همدا صفت بيان کړی دی .

٢ -دا حديث د مسلمانانو نه دا غو ښتنه کوې ، چه بايد په خپل مينځ کښې د يو بل سره مرسته او کومک او کړې .

٣ -دا حديث مسلمانانو ته دعوت ورکوې ، چه بايد د خپل منځي اختلاف نه ډډه اوکړې ، او ټول بايد د الله تعالى په دين باندي منګولې اولګوې .

## إِنَّ السَّعِيدَ لَمَنْ جُنِّبَ الْفِتَنُ

**يقينا هغه کس نيک بخته دی چه د فتنو نه بچ شو .**

٣٤ - عَنْ الْمِقْدَادِ بْنِ الْأَسْوَدِ ﷺ، قَالَ أَيْمُ اللّٰهِ لَقَدْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ: (إِنَّ السَّعِيدَ لَمَنْ جُنِّبَ الْفِتَنَ، إِنَّ السَّعِيدَ لَمَنْ جُنِّبَ الْفِتَنُ، إِنَّ السَّعِيدَ لَمَنْ جُنِّبَ الْفِتَنُ، وَلَمَنْ ابْتُلِيَ؛ فَصَبَرَ فَوَاهًا) (٤١) .

**مقداد بن الاسود ﷺ څخه روايت دی ، فرمايي : يقينا ما د نبي کريم ﷺ نه اوريدلي دي ، هغه فرمايل : يقينا هغه کس نيک بخته دی چه د فتنو نه بچ شو ، يقينا هغه کس نيک بخته دی چه د فتنو نه بچ شو يقينا هغه کس نيک بخته دی چه د فتنو نه بچ شو ، اوڅوک چه مبتلا شو او صبر يي اوکړه نو څومره ډير خوشبخته دی .**

---

٤١- (سنن أبي داود، رقم الحديث ٤٢٦٣، وصححه الألباني).

## راوي هذا الحديث، هو:

ددي حديث راوي مقداد بن عمرو دی ، چه په مقداد بن الاسود الکندي باندي شهرت لري نبي كريم ﷺ ته يي ډير نيزديكت درلوده دډير فضيلت خاوند دی ، او د الله تعالی په لاره كښې دجهاد كولو سره يي ډيره مينه درلوده ، دبدر احد خندق او همدارنګه په نورو ټولو غزاګانو كښې د نبي كريم ﷺ سره شريک شوی دی .

مقداد ﷺ د ډيرې سخا خاوند وو، ده دا وصيت كړی وو ،چه بايد دده دمال نه حسن او حسين رضي الله عنهما ته شپږ ديرش زره درهم (٣٦٠٠٠) وركړی شي ، او همدارنګه دا وصيت يي هم كړی وو ، چه د نبي كريم ﷺ هرې يوې بي بي ته (٧٠٠٠) درهم وركړی شي ، او داحاديثو په كتابونو كښې دده نه دنبي كريم ﷺ دوه څلويښت (٤٢) احاديث نقل دي ، مقداد ﷺ په كال درې ديرش (٣٣) هجري كښې په جرف مقام كښې چه د مدينې نه درې (٣)

میله په فاصله کښې واقع دی ، وفات شو د عثمان بن عفان ﵁ په زمانه د خلافت کښې او بیا مدینې ته راوړل شو او د جنازې لمونځ یي عثمان بن عفان ﵁ اداکړه او دبقیع په هدیره کښې دفن کړی شو .

## من فوائد هذا الحديث:

## ددي حديث د فوائدو ښخه

١ -په تقوی سره انسان د فتنو نه بچ کیږي ، او خوش بخته ژوند او امن او همدارنګه بر کتونه په تقوی سره حاصلیږي .

٢ -دین اسلام دمهرباني شفقت او همدارنګه د امن او امان دین دی ، ددي وجې نه الله تعالی بنده ګانو ته ویره ورکړې ده ، چه په فتنو کښې واقع نشې ، لکه الله تعالی فرمایلي دي

﴿ وَٱتَّقُواْ فِتۡنَةٗ لَّا تُصِيبَنَّ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنكُمۡ خَآصَّةٗۖ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ٢٥ ﴾ (٤٢)

او ځان بچ کړې په جهاد کولو سره د هغه عذاب نه چه نه رسي ظالمانوته ستاسو نه يوائې ، او پوهه شې چه يقينا الله تعالی سخت عذاب ورکونکی دی.

٣ -د فتنو په وخت کښې بايد مؤمن بنده د فتنو نه خپل ځان بچ کړی ، نيک اعمال او همدارنګه د الله تعالی په عبادت باندي خپل ځان مشغول کړې .

٤ -په دي حديث کښې لفظ د ( فواها) راغلی دی ، بعضې علماو ددي لفظ معنی په افسوس سره کړې ده ، چه دهغه چا په حال ډير افسوس دی ، ځوک چه په فتنو کښې واقع

---

[٤٢] ( سورة الأنفال، الآية ٢٥).

شو ، او بعضې علماو ددې معنى په خو شبختئ سره کړې ده هغه څوک ډېر خوشبخته دی ، چا چه خپل ځان د فتنو نه بچ اوساته .

## دعاء كفارة المجلس

## دمجلس د كفارې دعا

٣٥ -عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﵁ ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : (مَنْ جَلَسَ فِيْ مَجْلِسٍ؛ فَكَثُرَ فِيْهِ لَغَطُهُ؛ فَقَالَ قَبْلَ أَنْ يَقُوْمَ مِنْ مَجْلِسِهِ ذَلِكَ : سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوْبُ إِلَيْكَ، إِلاَّ غُفِرَ لَهُ مَا كَانَ فِيْ مَجْلِسِهِ ذَلِكَ) (٤٣)

---

٤٣ جامع الترمذي، رقم الحديث ٣٤٣٣، قال الإمام الترمذي عن هذا الحديث: بأنه حسن صحيح غريب، وصححه الألباني).

د ابو هريره ﵁ څخه روايت دی ، فرمايي : نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: څوک چه په يو مجلس کښې کيناست ، او څه لغزش بې فائدې خبري وغيره ترينه اوشوي ، نو مخکښې ددينه چه دمجلس څخه پاڅيږي دا دعا اوائي :

( سُبْحَانَكَ اللَّهُمّ وَبِحَمْدِكَ أَشْهَدُ أنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوْبُ إِلَيْكَ ) ای زمونږ ربه تا په پا کۍ سره يادوم اوتا لره ستاينه کوم او اقرا ر او ګواهې کوم ، چه ستانه سوا بل هيڅوک د بنده ګۍ حقدار نشته ، زه له تا څخه ښښنه غواړم ، او ستا طرف ته در ګرځم .

مګر هغه ګناه لغزش وغيره به ورته معاف شې کوم چه ترينه په دي مجلس کښې شوي وې .

ددي حديث دراوې پيژندنه مخکي په (١٣) نمبرحديث کښې ذکر شوې ده.

## من فوائد هذا الحديث:

## ددي حديث د فوائدو څخه

١ -مسلمان بنده بايد په هر وخت کښې د الله تعالی ذکر اوکړي ، او خپل ژوند دالله تعالی په ذکر باندي روښانه کړي

٢ -ددي حديث دا مقصد هر ګز نه دی ، چه قصدا يو کس په مجلس کښې ګناه غيبت وغيره کوي ، او بيا دا دعا لولي .

٣ -مستحب ده ، چه مسلمان بايد دا دعا زده کړي او دهر مجلس په اخره کښې يي ولولي .

## من أحكام الميراث والورثة

## دميراث د احکامو څخه

٣٦ - عَنْ أُسَامَةَ بنِ زيدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، أنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ: (لاَ يَرِثُ الْمُسْلِمُ الْكَافِرَ، وَلاَ الْكَافِرُ الْمُسْلِمَ) (٤٤)

[٤٤] - (صحيح البخاري، رقم الحديث ٦٧٦٤ ، وصحيح مسلم، رقم الحديث ١ - (١٦١٤)، واللفظ للبخاري).

د اسامه بن زيد رضي الله عنهما څخه روايت دی ، فرمايي :
نبي كريم ﷺ فرمايلي دي: مسلمان د كافر څخه ميراث نشيٍ
اخستلی، او كافر دمسلمان څخه ميراث نشيٍ اخستلی .

## راوي هذا الحديث، هو:

ددي حديث راوي اسامه بن زيد بن حارثه رضي الله عنهما
دی دده پلار زيد رضي الله عنه د نبي كريم ﷺ خادم وو ، او نبي كريم
ﷺ يي په خپل مور پلار او هل باندي غوره كړی وو.
اسامه بن زيد رضي الله عنه د ډيرو ښو صفاتو او اخلاقو خاوند وو ، چه
د همدي وجي نه نبي كريم ﷺ ته ډير محبوب وو .
اسامه بن زيد ډير هوشيار او زړه ور صحابي وو ، او په پوره
حكمت سره به يي كارونه سر ته رسول ، ددي وجي نه كريم
ﷺ د مسلمانانو د لښكر امير وټاكه او عمريي دشلو كلونو په
شاه وخوا كښيٍ وو، او په دي لښكر دمسلمانانو كښيٍ مشران

صحابه كرام هم موجود وو ، لكه ابو بكر عمر رضي الله عنهما وغيره .

مخكښې ددينه چه دا لښكر دمسلمانانو د خپل هدف په لور روان شي، نبي كريم ﷺ وفات شو ، بيا روستو دا لښكر ابوبكر الصديق رضي الله عنه د خپل هدف په لور اوليږه ، او دا غوښتنه يي اوكړه چه عمر رضي الله عنه ورسره په مدينه كښې پاتې شي ، بيا دا لښكر چه د اسامه بن زيد رضي الله عنه په قيادت كښې تللى وو د ډيرو غنمتونو سره راواپس شو .

د احاديثو په كتابونو كښې د اسامه بن زيد رضي الله عنه نه د نبي كريم ﷺ يو سلو اتلس (١١٨) احاديث نقل دي .

اسامه بن زيد رضي الله عنه په هغه اختلافاتو كښې چه د صحابه كرامو په مينځ كښې واقع شوي وو ، ځانله والى اختيار كړى وو بيا دمشق ته نيز دې يوه علاقه وه هلته لاړو ، او څه وخت روستو بيرته مدينې ته راغى او بيا په كال څلور پنځوس

(٥٤) هجري کښې په جرف مقام کښې د يو شپيتوکلونو په عمر (٦١) په وفات شو ، او په مدينه کښې دفن کړی شو

من فوائد هذا الحديث:

ددي حديث د فوائدو څخه

١ -دا حديث لار ښونه کوې چه مسلمان د کافر څخه او کافر دمسلمان څخه ميراث نه شي اخستلاي،اګرکه کافرد ميراث د تقسيمولو نه مخکې اسلام قبول کړې ، بيا هم په دغه ميراث کښې دده برخه نشته ، او همدا دجمهور علماو مذهب دی ، او همدارنګه حکم د مرتد هم دی .

٢ - بعضې علماء بيا په دې نظر دي ، چه مسلمان د کافر څخه ميراث اخستلی شي ، خو کافر د مسلمان څخه ميراث نشې اخستلی ، او که کافر مخکې ددينه چه ميراث تقسيم شي ، اسلام قبول کړې ، نو بيا په ميراث کښې برخه لري .

داسلام د محاسنو څخه داده ، چه دميراث مسائل په کښې ښه په تفصيل سره بيان شوي دي .

# إظْهَارُ خُضُوعِ الإنسان المسلم وافْتِقَارُه للّٰه تعالى

## مسلمان بايد خپله عاجزي او حاجت يوائحي الله تعالى ته پيش كړي.

٣٧ - عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﵁ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: (إِذَا تَشَهَّدَ أَحَدُكُمْ؛ فَلْيَسْتَعِذْ بِاللّٰهِ مِنْ أَرْبَعٍ، يَقُوْلُ: اَللَّهُمَّ! إِنِّيْ أَعُوْذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ، وَمِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ، وَمِنْ شَرِّ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ) (٤٥).

د ابو هريره ﵁ څخه روايت دی ، فرمايي : نبي كريم ﷺ فرمايلي دي: كله چه يو كس په تاسو كښې د تشهد نه فارغه شي نو په الله تعالى پوري دې ، د څلور فتنو نه پناه اوغواړې : الهي زه په تا سره دعذاب دجهنم نه پناه غواړم او

[45] - (صحيح مسلم، رقم الحديث ١٢٨(٥٨٨)، وصحيح البخاري، رقم الحديث ١٣٧٧، واللفظ لمسلم).

دقبر دعذاب نه پنا ه غواړم او د ژوند او د مرګ دفتنونه پناه غواړم او د دجال دفتنې دشر نه پنا ه غواړم.

ددې حديث دراوې پيژندنه مخکې په (١٣) نمبرحديث کښې ذکر شوې ده.

## من فوائد هذا الحديث:

## ددې حديث د فوائدو څخه

١ -دا پناه غوښتل د بنده د خپل رب نه په دې دلالت کوي چه بنده په هر وخت کښې خپل رب ته محتاجه دی ، بايد ده چه خپله عاجزې او حاجت يوائحې خپل رب ته پيش کړې .

٢ -ددې دعا لوستل د تشهد په اخير کښې مستحب دي .

٣ -دا حديث لاربښونه کوې چه فتنه د دجال شته ، او ډيره لويه فتنه ده ، چه دقيامت نه مخکې به په انسانانو باندې راځې ، او دجال ته ډير قوتونه الله تعالى ورکړي دي ، ددې لپاره چه په بنده ګانو ازمائښت او امتحان اوکړې .

٤ -قبر په حقيقت کښې عالم برزخ ته وايي ، اودمړو ددفن کولو ځاي ته هم قبر وايي .

## أهمية النية وفضلها في الإسلام

### په اسلام کښې د نيت اهميت او فضيلت .

٣٨ - عَنْ جَابِرٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: (يُحْشَرُ النَّاسُ عَلَى نِيَّاتِهِمْ) (٤٦) .

د جابر بن عبد الله رضي الله عنهما نه روايت دی ، فرمايي : نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: دقيامت په ورځ به خلک د هغوي د نيتونو موافق راپاڅيږي .

ددي حديث دراوي پيژندنه مخکي په (٣٢) نمبرحديث کښې ذکر شوې ده.

[46] - (سنن ابن ماجه، رقم الحديث ٤٢٣٠، وصححه الألباني، وصحيح مسلم، جزء من رقم الحديث ٨٣ - (٢٨٧٨)، واللفظ لابن ماجه).

## من فوائد هذا الحديث:

## ددي حديث د فوائدو څخه

١- دا حديث دلالت کوې ، چه په دين اسلام کښې نيت ډير اهميت او فضيلت لري ، او همدارنګه نيت د عملونو لپاره د بنياد او اساس حيثيت لري .

٢ - د يو کار د کولو قصد او ارادې ته نيت وايي :

٣ - نيت صالحه په قران کريم کښې په مختلفو تعبيرونو سره ذکر کيږي لکه (إرادة الآخرة) اخرت قصد کول او دهغي لپاره تياری کول ، (إرادة وجه اللّٰه) او همدارنګه (ابتغاء مرضاته) يعني د الله تعالی د رضا لپاره نيک عملونه کول .

## اَلْحثُّ عَلَى الدُّعَاءِ فِي اللَّيْلِ

## دشپې دعا غو ښتلو ته ترغيب .

٣٩ -عَنْ جَابِرٍ ﷺ، أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ: ( إِنَّ مِنَ اللَّيْلِ سَاعَةً، لاَ يُوَافِقُهَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ، يَسْأَلُ اللّٰهَ خَيْرًا، إِلاَّ أَعْطَاهُ إِيَّاهُ) (٤٧)

د جابر بن عبد الله رضي الله عنهما نه روايت دى ، فرمايي : نبي كريم ﷺ فرمايلي دي: يقينا د شپې يو وخت دى ، كله چه يو مسلمان بنده په هغې كښې د الله تعالى څخه هر خير اوغواړي ، الله تعالى يي ور په برخه كوي .

ددي حديث دراوي پيژندنه مخكي په (٣٨) نمبرحديث كښې ذكر شوې ده.

---

[٤٧] (صحيح مسلم، رقم الحديث ١٦٧ - (٧٥٧)، ). -

## من فوائد هذا الحديث:

### ددي حديث د فوائدو څخه

١ -دا حديث لاربنونه کوې چه مؤمن بنده بايد د شپې په وختونو کښې د الله تعالى نه دعا اوغواړي، په دې اميد چه دهغه وخت سره به موافق شې کوم کښې چه الله تعالى دعا قبلوې.

٢ -دغه وخت دشپې چه دعا په کښې قبليږې الله تعالى دهغې تعيين نه دى کړى ، ددي لپاره چه بنده ګان د هغې د طلب کولو کوشش اوکړې ، لکه څنګه چه يې د جمعې په ورځ هغه وخت نه دى متعيين کړى ،کوم که چه دعا پنه قبليږي ، ددي لپاره چه بنده ګان د هغې لپاره سعې او کوشش اوکړې.

٣- دا حديث دا لار ښونه هم کوې ، چه مؤمن بنده بايد د شپې په وخت د استغفار غوښتلو هم اهتمام اوکړې

خصوصا د شپې په اخره حصه کښې ، ځکه چه دا ډير غوره وخت دی .

## الصلاة من أعظم الأسباب الشرعية لدرء البلاء

**په لمانځه باندې ډير لوې ازميښتونه لرې کيږې .**

٤٠ -عَنْ حُذَيْفَةَ ﵁ قَالَ: ( كَانَ النَّبِيُّ ﷺ إِذَا حَزَبَهُ أَمْرٌ صَلَّى ) . (٤٨)

د حذيفه ﵁ څخه روايت دی فرمايي : نبي کريم ﷺ باندې به چه کله يو ازميښت راغې نو هغه به لمانځه ته مخه کړه . ددې حديث دراوې پيژندنه مخکې په (٤) نمبرحديث کښې ذکر شوې ده.

---

[48] - (سنن أبي داود، رقم الحديث ١٣١٩ ، وحسنه الألباني).

## من فوائد هذا الحديث:

## ددي حديث د فوائدو څخه

١ -دا حديث لاربنونه کوي ، چه د ازمېښتونو په وخت کښې په لمانځه سره مدد راځي ، بايد چه د ازمېښتونو په وخت کښې لمانځه ته مخه اوکړی شي ، لکه الله تعالی فرمايي :

﴿ وَٱسْتَعِينُوا۟ بِٱلصَّبْرِ وَٱلصَّلَوٰةِ ۚ وَإِنَّهَا لَكَبِيرَةٌ إِلَّا عَلَى ٱلْخَـٰشِعِينَ ﴾ (٤٩)

او مدد حاصل کړئ ، په صبر کولو او لمونځ کولو سره او يقينا دا کار خامخا ګران دی ، مګر په عاجزي کونکو باندې او همدارنګه الله تعالی فرمايي :

---

٤٩ - (سورة البقرة، الآية ٤٥).

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱسْتَعِينُواْ بِٱلصَّبْرِ وَٱلصَّلَوٰةِۚ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلصَّـٰبِرِينَ ﴾ (٥٠) اى ايمان والو : امداد حاصل کړي ، په صبر کولو او لمونځ کولو سره يقينا الله تعالى خاص ملګرى د صبرناکو دى.

په لمانځه سره فتني مصيبتونه او ازميښتونه لرې کيږي

٢- داحديث لاربښونه کوي چه نبي کريم ﷺ به د ازميښتونه په وخت کښې لمانځه ته مخه کوله مونږ بايد هم د نبي کريم ﷺ اقتداء اوکړو او دازميښتونو په وخت کښې لمانځه ته مخه کړو .

٣ -( إِذَا حَزَبَهُ أَمْرٌ ) ددي لفظ معنى داده چه کله به يو مهم کار يا غم وغيره نبي کريم ﷺ ته راغى نو لمانځه ته به يي مخه کړه .

---

[50] (سورة البقرة، الآية ١٥٣).

## اِسْتِحْبَاب لُبْس الْبَيَاضَ مِنْ الثِّيَاب وَتَكْفِينِ الْمَوْتَى بِهَا

**سپينه کپړه اخوستل او د هغې نه مړو ته کفن ورکول مستحب او غوره ده .**

٤١ -عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: (اِلْبَسُوا مِنْ ثِيَابِكُمْ الْبَيَاضَ؛ فَإِنَّهَا مِنْ خَيْرِ ثِيَابِكُمْ، وَكَفِّنُوْا فِيهَا مَوْتَاكُمْ) (٥١)

**د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دى فرمايي : نبي كريم ﷺ فرمايلي دي : تاسو سپينې جامې**

[٥١] (جامع الترمذي، رقم الحديث ٩٩٤، وسنن أبي داود، رقم الحديث ٣٨٧٨، و سنن ابن ماجه، رقم الحديث ١٤٧٢، وقال الإمام الترمذي عن هذا الحديث بأنه: حسن صحيح، واللفظ للترمذي، وصححه الألباني).

اغوندې ځکه چه دا ستاسو لپاره غوره جامي دي ، او په سپينه جامه کښې مړوته کفن هم ورکوئ.

## راوي هذا الحديث، هو:

عبد الله بن عباس رضي الله عنهما مشهور صحابي دی ، ابو العباس دده اسم کنيه ده ، په صحابه کرامو کښې د ډير علم او فضيلت خاوند وو، تر دي چه ( حبر الامة ) يعني لوي عالم او د مفسرينو امام دی ، او په نسب کښې د نبي کريم ﷺ د تره ځوي دی ، د نبي کريم ﷺ دهجرت نه دري (٣) کاله مخکښې په شعب ابي طالب کيږي پيدا شوی دی ، او د نبي کريم ﷺ څخه يي ډير علم حاصل کړی وو، د حديثو په کتابونو کښې دده نه، دنبي کريم ﷺ يوزرو شپږ سوه شپيته (١٦٦٠) احاديث نقل دي .

کله چه نبي کريم ﷺ وفات شو عبد الله بن عباس رضي الله عنه د ديارلس (١٣) کالو په عمر وو.

بيا علي بن ابي طالب ﷺ د خپل خلافت په زمانه کښې دبصرې امير اوټاکه .
او بيا روستو په کال اته شپيته (٦٨) هجرې کښې چه عمر يې يو اويا (٧١) کاله وو ، په طائف کښې وفات شو .

## من فوائد هذا الحديث:

## ددي حديث د فوائدو څخه

١ -دا حديث لاربښونه کوې ، چه د سپينو جامو اغوستل او همدارنګه په دې کښې مړو ته کفن ورکول غوره دي .
٢ -سپينه ټوټه کښې مړو ته کفن ورکول غوره دي ، او په دې کښې د نارينه او زنانه حکم يو شان دی ، ځکه چه په شريعت مطهره کښې دنارينه او زنانه حکم يو وې ، خو چه کله په فرق کولو باندې دليل موجود وې ، نو بيا دزنانه حکم جدا وي دنارينه نه .

## ما يستحب عليه الإفطار

**هغه څه چه هغې سره روژه ماتې غوره دی .**

٤٢ - عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ﵁، يَقُولُ: (كَانَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: يُفْطِرُ عَلَى رُطَبَاتٍ قَبْلَ أَنْ يُصَلِّيَ؛ فَإِنْ لَمْ تَكُنْ رُطَبَاتٌ؛ فَعَلَى تَمَرَاتٍ؛ فَإِنْ لَمْ تَكُنْ؛ حَسَا حَسَوَاتٍ مِنْ مَاءٍ) (٥٢) .

**د انس ﵁ څخه روايت دی فرمايي : نبي كريم ﷺ به په تازه لوندو كجوروباندې روژه ماتوله مخكې د لمانځه نه ، او چه كله به تازه لوندې كجورې نه وې ، نو بيا به يې په عامو**

[٥٢] -(سنن أبي داود، رقم الحديث ٢٣٥٦ ، وجامع الترمذي، رقم الحديث ٦٩٦ ، قال الإمام الترمذي عن هذا الحديث بأنه: حسن غريب، واللفظ لأبي داود، وحسنه الألباني وصححه).

كجورو باندي روژه ماتوله ، او كه كجورې به نه وې ، نو بيا به يي په اوبو سره روژه ماتوله .

ددي حديث دراوې پيژندنه مخكي په (٨) نمبرحديث كښې ذكر شوې ده.

## من فوائد هذا الحديث:

## ددي حديث د فوائدو څخه

١ -روژه دار بايد د ماښام د لمانځه نه مخكې خپله روژه په كجورو سره ماته كړې ، او كه كجورې نه وې ، نو بايد په اوبو سره ، او كه اوبو هم نه وې ، نو په هر هغه خوراک او څښاک سره بايد روژه ماته كړې كوم چه حلال او جايز وي .

٢ -روژه د الله تعالى د رضا لپاره د عبادت په نيت باندي خوراک څښاک او هغه څه چه روژه ماتوي ، پريښودل د صبا د راختلونه تر نمر پريوتلو پوري ، ديته شرعې روژه وايي .

## وجوب السجود على الأعضاء السبعة

**په اوه (٧) اندامونو باندي سجده کول فرض دي .**

٤٣ - عَنْ عَبْدِ اللّهِ بْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ ﷺ: (أُمِرْتُ أَنْ أَسْجُدَ عَلَى سَبْعَةِ أَعْظُمٍ عَلَى الْجَبْهَةِ وَأَشَارَ بِيَدِهِ عَلَى أَنْفِهِ وَالْيَدَيْنِ وَالرُّكْبَتَيْنِ وَأَطْرَافِ الْقَدَمَيْنِ، وَلاَ نَكْفِتَ الثِّيَابَ وَالشَّعَرَ) (٥٣)

**د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی فرمايي : نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: ماته امر کړی شوی دی ، چه په اوه (٧) اندامونو سجده اوکړم ، په تندي باندي او اشاره يي اوکړه په لاسونو باندي پوزې ته ، او همدارنګه**

---

٥٣ - (صحيح البخاري، رقم الحديث ٨١٢، وصحيح مسلم، رقم الحديث ٢٣٠ - (٤٩٠)، واللفظ للبخاري).

په لاسونوباندي ، او په زنګنونو باندې ، او دخپو د ګوتو په طرفونو باندي ، او همدارنګه ماته امر کړی شوی دی ، چه په لمانځه کښې جامې او ويښته را غونډ نه کړم .
ددي حديث دراوي پيژندنه مخکي په (٤١) نمبرحديث کښې ذکر شوې ده.

من فوائد هذا الحديث:

ددي حديث د فوائدو ټخه

١ -دا حديث لاربښونه کوې ، چه په (٧) اندامونو باندي سجده کول فرض دي : هغه اوه اندامونه تندی سره دپوزې نه ، او دواړه لاسونه ، او دواړه زنګنونه ، او دواړه قدمونه دي
٢ -که د سجدې په مهال چا دواړه ښپې يا يوه ښپه اوچته کړه لمونځ يي نه صحيح کيږي ، او همدارنګه که چا په دې اوه اندامونو سجده اونه کړه لمونځ يي نه صحيح کيږي .

٣- ټول لمونځ كونكې نارينه وي ، اوو كه زنانه ، بايد په دې اوه اندامونو سجده اوكړې ، او په دې اوه اندامونو كښې تندى او پوزه په يو اندام شمار دي .

## مُصَرِّفُ القلوب، هو: اللّٰه جل جلاله

### زړونه دالله تعالى په لاس كښې دي .

٤٤ - عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا يَقُوْلُ: إِنَّهُ سَمِعَ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ: (إِنَّ قُلُوْبَ بَنِيْ آدمَ كُلَّهَا بَيْنَ إِصْبَعَيْنِ مِنْ أَصَابِعِ الرَّحْمَنِ كَقَلْبٍ وَاحِدٍ، يَصْرِفُهُ حَيْثُ يَشَاءُ"، ثُمَّ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: (اللَّهُمَّ مُصَرِّفَ الْقُلُوْبِ صَرِّفْ قُلُوْبَنَا عَلَى طَاعَتِكَ) (٥٤) .

---

[٥٤] -(صحيح مسلم، رقم الحديث ١٧ - (٢٦٥٤)،).

عبد الله بن عمر بن العاص رضي الله عنهما څخه روايت دی فرمايي : ما د نبي كريم ﷺ څخه ارويدلي دي هغه فرمايل : يقينا انسانانو زړونه دالله تعالی د دوه ګوتو په مينځ کښې دي ، اړه وې راړه وې هغې لره کوم طرف ته يې خوښه شي بيا نبي كريم ﷺ اوفرمايل : ای الله چه زړونه اړه وې راړه وې زمونږ زړونه ستا عبادت او بنده ګۍ طرف ته واړه وې .

## راوي هذا الحديث، هو:

ددي حديث راوي عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه قريشې مشهور صحابي دی ، او ډيرو فضيلتونو خاوند دی .

او په بعضي غزاګانو کښې د نبي كريم ﷺ سره هم شريک شوی دی . عبد الله بن عممرو بن العاص رضي الله عنه ډير هو ښيار او په ښه توګه به يې کارونه سرته رسول ، ځکه خو معاويه رضي الله عنه ده لره په کوفه باندي والي مقرر کړی وو .

دحديثو په کتابونو کښې دده نه دنبي كريم ﷺ اووه سوه (٧٠٠) احاديث نقل دي ، ده به په مصر کښې په مسجد

الفسطاط چه په مسجد عمرو بن العاص سره مشهور دی ، احاديث بيانو ل ، او فتوا به يي هم ورکوله
دده نه د مصر شام او دحجاز ډيرو وخلکو علم زده کړو، او په کال پنځه شپيته (٦٥) هجري کښې په مصر کښې وفات شو او بعضي علماو رايي داده چه په شام کښې وفات شوي بعضې نور بيا وايي چه په مکه کښې وفات شوی دی .

## من فوائد هذا الحديث:

## ددي حديث د فوائدو ځخه

١ -دا حديث دا لاربنونه کوي ، چه انسان بايد هغه اسباب اختيار کړي ،کوم چه بنده لره په دين باندې کلکه وي ځکه چه ټول کارونه الله تعالی د اسبابوسره تړلي دي .

٢ -کله چه انسان خپل رب طرف ته متوجه شي ، الله تعالی د هغه په زړه کښې سکون راحت او اطمئنان پيدا کوي ، او چه کله انسان د خپل رب نه غافله شي ، نو د هغه

په زړه کښې ویره او پریشاني پیدا کیږي ، ځکه چه زړونه دالله تعالی په لاس کښې دي .

٣ -په دې حدیث کښې نبي کریم ﷺ د الله تعالی لپاره ګوتې ثابت کړي دي څنګه د هغه د شان سره مناسب وې ، په دې باندي ایمان لرل واجب دي ، بغیر دکیفیت بیانولو نه او بغیر دتشبیه ورکولو نه .

# الدعاء في القعدة بين السجدتين

## د دوه سجدو په مابين كښې دعا

٤٥ - عَنْ حُذَيْفَةَ ﷺ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ يَقُوْلُ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ: (رَبِّ اغْفِرْ لِي، رَبِّ اغْفِرْ لِي) (٥٥).

د حذيفه ﷺ څخه روايت دى فرمايي : چه نبي كريم ﷺ به د دو ه سجدو په مينځ كښې دا دعا لوستله :

(رَبِّ اغْفِرْ لِي، رَبِّ اغْفِرْ لِي) اى زما ربه ماته ښښنه اوكړه ، اى زما ربه ماته ښښنه اوكړه !

ددي حديث دراوي پيژندنه مخكي په (٤) نمبرحديث كښې ذكر شوې ده.

---

[٥٥] -(سنن ابن ماجه، رقم الحديث ٨٩٧، وسنن أبي داود، رقم الحديث ٨٧٤ ، وسنن النسائي، رقم الحديث ١١٤٥، واللفظ لابن ماجه، وصححه الألباني).

من فوائد هذا الحديث:

**ددي حديث د فوائدو څخه**

**١ -دا حديث لاربنونه كوي ، چه دا دعا لوستل د دوو سجدو په مينځ كښې مشروع دي : الفاظ يي دادي:**

(رَبِّ اغْفِرْ لِي، رَبِّ اغْفِرْ لِي) **اى زما ربه ماته ببنبه اوكړه اى زما ربه ماته ببنبه اوكړه !**

الإسلام مصدر السعادة للبشر

**دين اسلام د نيک بختۍ سرچشمه ده .**

٤٦ - عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبَّاسٍ رضي اللّٰه عنهما قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ فِيْ صَلاَةِ اللَّيْلِ: (رَبِّ اغْفِرْ لِي وَارْحَمْنِي وَاجْبُرْنِي وَارْزُقْنِي وَارْفَعْنِي ) (٥٦)

---

[٥٦] - (سنن ابن ماجه، رقم الحديث ٨٩٨، وسنن أبي داود، رقم الحديث ٨٥٠ و جامع الترمذي، رقم الحديث ٢٨٤ ، واللفظ لابن ماجه، قَالَ الإمام الترمذي: هذا حديث غريب، وصحح الألباني حديث ابن ماجه والترمذي).

د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی فرمايي چه نبي کريم ﷺ به دشپې په لمانځه کښې د دو ه سجدو په مينځ کښې دادعا لوستله (رَبِّ اغْفِرْ لِي، وَارْحَمْنِي وَاجْبُرْنِي وَارْزُقْنِي وَارْفَعْنِي )

ای زما ربه ماته ببنبه اوکړې ، او په ما باندي رحم اوکړې اوماته هدايت اوکړې او ماته روزي راکړې او ماته عافيت راکړي او زما نقصانات پوره کړي ، او زما در جې اوچتې کړې .

ددي حديث دراوې پيژندنه مخکي په (٤١) نمبرحديث کښې ذکر شوې ده .

## من فوائد هذا الحديث:

## ددي حديث د فوائدو څخه

١ -دا دعا د نیک بختۍ او سعادت په ټولو هغه اسبابو باندي مشتمله ده کومو ته چه انسان په دنیا او اخرت کښي ضرورت لري او همدارنګه ددي دعا په وجه باندي انسان د ټولو شرونونه محفوظ پاتي کیږي .

٢ -دین اسلام دټولو انسانانو لپاره د سعادت او نیک بختۍ سر چشمه ده چا چه د اسلام تابعداري اوکړه ، نو هغه خوشبخته دی او چا چه ترینه مخ واړه وو ، هغه بد بخته دی .

# أسس الإسلام الظاهرة والباطنة

## د اسلام ښكاره او معنوي بناوې.

٤٧ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: ( كَانَ النَّبِيُّ ﷺ بَارِزًا يَوْمًا لِلنَّاسِ؛ فَأَتَاهُ جِبْرِيلُ عليه السلام؛ فَقَالَ: مَا الْإِيمَانُ؟ قَالَ: "الْإِيمَانُ: أَنْ تُؤْمِنَ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ، وَبِلِقَائِهِ وَرُسُلِهِ، وَتُؤْمِنَ بِالْبَعْثِ"، قَالَ: مَا الْإِسْلَامُ؟ قَالَ: "الْإِسْلَامُ: أَنْ تَعْبُدَ اللَّهَ وَلَا تُشْرِكَ بِهِ، وَتُقِيمَ الصَّلَاةَ، وَتُؤَدِّيَ الزَّكَاةَ الْمَفْرُوضَةَ، وَتَصُومَ رَمَضَانَ، قَالَ: مَا الْإِحْسَانُ؟ قَالَ: "أَنْ تَعْبُدَ اللَّهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ، فَإِنْ لَمْ تَكُنْ تَرَاهُ؛ فَإِنَّهُ يَرَاكَ"، قَالَ: مَتَى السَّاعَةُ ؟ قَالَ: "مَا الْمَسْئُولُ عَنْهَا بِأَعْلَمَ مِنَ السَّائِلِ، وَسَأُخْبِرُكَ عَنْ أَشْرَاطِهَا: إِذَا وَلَدَتِ الْأَمَةُ رَبَّهَا، وَإِذَا تَطَاوَلَ رُعَاةُ الْإِبِلِ الْبُهْمِ فِي الْبُنْيَانِ، فِي خَمْسٍ لَا يَعْلَمُهُنَّ إِلاَّ اللَّهُ، ثُمَّ تَلَا النَّبِيُّ ﷺ

﴿ إِنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥ عِلۡمُ ٱلسَّاعَةِ ﴾ ، (لقمان: ٣٤)

ثُمَّ أَدْبَرَ، فَقَالَ: "رُدُّوهُ"؛ فَلَمْ يَرَوْا شَيْئًا؛ فَقَالَ: "هَذَا جِبْرِيلُ، جَاءَ يُعَلِّمُ النَّاسَ دِينَهُمْ) (٥٧) .

دابو هريره ﷛ څخه روايت دی ، فرمايي : چه يوه ورځ نبي كريم ﷺ د خلكو په خوا كښې وو ، چه جبريل عليه السلام ورته راغی ،او نبي كريم ﷺ ته يي اوفرمايل : چه ايمان څه ته وايي؟ نبي كريم ﷺ اوفرمايل : په الله تعالى باندي ايمان راوړل ، او دهغه په ملائكو باندي او دهغه په كتابونو باندي او هغه سره په ملاويدلو باندي او دهغه په رسولانو باندي او دمرګ نه روستو ژوند باندې ديته ايمان وايي .

بيا جبريل عليه السلام اوفرمايل : چه اسلام څه ته وايي؟ نبي كريم ﷺ اوفرمايل : چه په اخلاص سره يوائې د الله تعالى عبادت او بنده ګي كول ، او دهغه سرهيڅ قسم شرک

---

٥٧ - (صحيح البخاري، رقم الحديث ٥٠ ، وصحيح مسلم، رقم الحديث ١ - (٩)، واللفظ للبخاري).

نه کول ، او دلمانځه پاپندي کول ، او فرض زکات ادا کول او درمضان دمیاشتې روژې نیول ، دیته اسلام وایي .

بیا جبریل علیه السلام اوفرمایل: احسان څه ته وایي ؟

نبي کریم ﷺ اوفرمایل : د الله تعالی عبادت او بنده ګې په داسې ډول کول ، ګویا که ته الله تعالی ته ګوري ، او که ستا دا حالت نه جوړیږي ، نو دا حالت خو باید ضرورجوړ کړی شي ، چه الله تعالی تاته ګوري ، او دیته احسان وایي .

بیا جبریل علیه السلام اوفرمایل : د قیامت ورځ کله راځي ؟

نبي کریم ﷺ اوفرمایل : نه دی تپوس کړی شوی ، دقیامت په باره کښې ډیر پوهه دسؤال کونکې نه خو دقیامت د ورځې علامات به درته بیان کړم ، کله چه وزیږه وي وینځه خپله سیده ، او کله چه د تورو او ښانو چو پانان په ابادۍ کولو کښې سیالي شروع کړې ، پنځه کارونه دي چه په هغې باندي دالله تعالی نه بغیر هیڅوک نه پوهیږي او بیا نبي کریم ﷺ د قران کریم دا ایت تلاوت کړه :

﴿ إِنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥ عِلۡمُ ٱلسَّاعَةِ ﴾ ، [٥٨]

يقينا يوائي د الله تعالى سره علم دقيامت دى ، بيا سؤال كونكى روان شو،نبي كريم صلى الله عليه اوفرمايل چه سؤال كونكى راوا پس كړې، نو هغه يي اونه مومو،نبي كريم صلى الله عليه اوفرمايل : دا جبريل عليه السلام وو ددي لپاره راغلى وو ، چه خلكوته دهغوې دين ور وښايي .
ددي حديث دراوې پيژندنه مخكي په (١٣) نمبر حديث كښې ذكر شوې ده.

---

٥٨ - (لقمان: ٣٤) الآية

## من فوائد هذا الحديث:

## ددي حديث د فوائدو څخه

١ -په دې حديث کښې ددين اسلام ظاهرې (ښکاره) او معنوې ټولې بناء ذکر دي .

٢ -دا حديث دلالت کوي ، چه اسلام دعمل او عقيدې نوم دی عمل بغير دعقيدې نه نه قبليږي او همدارنګه دعمل نه بغير عقيده هم نه صحيح کيږي .

ځکه چه اسلام دعقيدې او دعمل نوم دی او همدارنګه اسلام ټولو نيکو اعمالوته شامليږي ، ځکه چه نيک اعمال د هغې ايمان او تصديق نه پيداکيږي کوم چه د بنده په زړه کښې موجود وي .

٣ -ددي حديث نه واضح دا معلوميږي ، چه ايمان مرکب دی د تصديق کولو نه په زړه کښې او د قول نه په ژبه باندي او دعمل کولو نه په اندامونو باندي .

# فضل الصلاة والسلام على رسول اللّٰه

## په نبي كريم ﷺ باندي د درود ويلو فضيلت او غوره والى .

٤٨ - عَنْ أَبِيْ طَلْحَةَ ﵁ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ (جَاءَ ذَاتَ يَوْمٍ وَالْبُشْرَى فِيْ وَجْهِهِ؛ فَقُلْنَا: إِنَّا لَنَرَى الْبُشْرَى فِيْ وَجْهِكَ!؛ فَقَالَ: إِنَّهُ أَتَانِيَ الْمَلَكُ؛ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ! إِنَّ رَبَّكَ يَقُوْلُ: أَمَا يُرْضِيْكَ؟ أَنَّهُ لاَ يُصَلِّيْ عَلَيْكَ أَحَدٌ إِلاَّ صَلَّيْتُ عَلَيْهِ عَشْرًا، وَلاَ يُسَلِّمُ عَلَيْكَ أَحَدٌ إِلاَّ سَلَّمْتُ عَلَيْهِ عَشْرًا) (٥٩)

د ابو طلحه ﵁ څخه روايت دى ، فرمايي : يوه ورځ نبي كريم ﷺ راغى او د هغه په مخ كښې خوشحالي وه ، مونږ اوويل ستا په مخ كښې خوشحالي وينو نبي كريم ﷺ او فرمايل : دا ځكه چه ماته ملائک راغى ، او هغه اوويل اى محمد ﷺ يقينا ستا رب فرمايي ، ايا ته په دې نه خوشحاليږې چه درود نه وايي په تابدي هيڅوک مګر زه په

---

٥٩ - (سنن النسائي، رقم الحديث ١٢٨٣، وحسنه الألباني).

هغه باندي لس رحمتونه رالیږم . او سلام نه وایي په تا باندي هیڅوک مګر زه په هغه باندې لس سلامونه رالیږم .

راوي هذا الحديث، هو:

ددي حديث راوې ابو طلحه سهل بن الاسود الخزرجي مشهور صحابي دی ، او دډیرو فضیلتونو خاوند دی کله چه د مدینې خلکو د نبي کریم ﷺ سره بیعت کولو ، نو دا هم په دغه بیعت کولو کښې موجود وو ، او همدارنګه ابو طلحه ﷺ د بدر په غزا او هغه غزا ګانې چه دبدر د غزانه روستو واقع شوي دي ، هغه ټولو کښې دنبي کریم ﷺ سره شریک شوی دی او کله چه نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفات شو نو ابو طلحه ﷺ دهغه ﷺ قبر او لحد تیار کړه .

ابو طلحه ﷺ په دنیا کښې د زهد زنده ګې تیره کړه ، او اکثر وخت به روژه وو ، او دالله په لاره کښې د جهاد کولو سره یي ډیره مینه درلوده ، په کال یو پنځوس (٥١) یا دوه پنځوس (٥٢) هجري کښې چه درومیانو په مقابل کښې د جهاد لپاره

اووت او چه کله په کشتۍ کښې سپور شو نو کشتۍ په بحر کښې وه چه ابو طلحه ﷛ په همدې کشتۍ کښې وفات شو اوه (٧) ورځې روستو ملګرو دفن کړو ، او دهغه په بدن کښې تغيير نه وو راغلی .

دده نه د حديث په کتابونو کښې ، د نبي کريم ﷺ دوه نوي (٩٢) احاديث نقل دي .

او بعضو تاريخ پوهانو ويلي چه ابو طلحه ﷛ په کال څلور ديرش (٣۴) هجري کښې په مدينه کښې وفات شوی دی او د جنازې لمونځ يي عثمان ﷛ اداکړه .

## من فوائد هذا الحديث:

## ددي حديث د فوائدو ثخه

١ -دا حديث يو مؤمن بنده ته ترغيب وركوي ، چه بايد په نبي كريم ﷺ باندي ډير درود او سلام اوايي ، او درود ويلو صحيح طريق داده چه دا درود اوايي كوم چه لاندي ذكر كيږي:

(اَللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيْمَ، وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيْدٌ مَجِيْدٌ، اَللَّهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيْمَ، وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيْمَ، إِنَّكَ حَمِيْدٌ مَجِيْدٌ ) (٦٠)

---

[٦٠] - (صحيح البخاري، رقم الحديث ٣٣٧٠، وصحيح مسلم، رقم الحديث ٦٦ - (٤٠٦)، واللفظ للبخاري).

الهي په محمد صلى الله عليه وسلم اوپه ال د محمد صلى الله عليه وسلم رحمتونه را وليږه لکه څنګه چه دې په ابراهيم عليه السلام او دهغي په ال رحمتونه را ليږلي وو، په رښتيا سره ته ستا يلى شوى اود لويي خاوند يي.

٢ -د الله تعالى له طرفه په نبي كريم ﷺ باندي د (صلاة) ويلو معنى داده ، چه د الله تعالى د طرفه په نبي كريم ﷺ باندي ، رحمتونه راليږل، د (اَللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ) معنى ده الهي په محمد صلى الله عليه وسلم باندې رحمتونه راوليږې

٣ -همدارنګه دا حديث لاربنونه کوې ، چه په نبي كريم ﷺ باندي درود ويل مشروع دي ، لکه الله تعالى فرمايلي دي :

﴿ إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا ﴿٥٦﴾ ﴾ (٦١)

---

٦١ - ، ( سورة الأحزاب، الآية ٥٦ ).

يقينا الله تعالى او ملائک دهغه درود وايي په نبي ﷺ باندې ای ايمان والو درود وايي ، په هغه باندې او سلام وايي پوره او همدارنګه نبي کريم ﷺ فرمايلي دي :

(إِنَّ لِلَّهِ مَلاَئِكَةً سَيَّاحِيْنَ فِي الْأَرْضِ يُبَلِّغُونِي مِنْ أُمَّتِي السَّلاَمَ)

يقينا د الله تعالى ملائکې ګرځي په زمکه کښې رارسوي ماته ځما دامت سلامونه .

زمونږ په خوږ نبي محمد ﷺ باندې درود او سلام ويل دهغه د حقوقو څخه دي په دې امت باندې او هر مسلمان ته ددې امرکړی شوی دی ، چه په نبي کريم ﷺ باندې درود او سلام ووايي .

لکه عام درود ويل شو ، په نبي کريم ﷺ باندې ، او همدارنګه لمونځ کونکی به په لمانځه کښې په نبي کريم ﷺ باندې درود وايي ، او همدارنګه ، مسجد ته د داخليدلو په وخت کښې هم په نبي کريم ﷺ درود ويل پکار دي .

اوس په نبي كريم ﷺ باندي درود او سلام ويل ، سره د دينه چه هغه وفات شوی اوغائب دی دا دهغه دخصوصياتوڅخه دي او د نبي كريم ﷺ نه علاوه د بل چا لپاره جائز نه ده چه په هغه سلام اوويل شي په داسي حال كښي ، چه هغه كس غائب وي ، ځكه چه دا دنبي كريم ﷺ خصوصيت دی چه په هغه سلام اوويل شي او حال دادی چه هغه غائب دی خو سلام هغه ته ملائكي ورسوي .

٤ -د ( سلام ) معنى ده : سلامتيا او نجات د شرونو او عيوبو نه .

٦ -په نبي كريم ﷺ باندي درود او سلام ويل بايد په هغه طريقه اوويل شي كومه چه مشروعه وي ، بعضي خلك يوځاي راجمع شي او په جمع سره په هغه درود اوسلام وايي ددي هيڅ ثبوت نشته ، بلكه هر مسلمان بايد په نبي كريم ﷺ درود ووايي بغير ددينه چه يو ځاي ته راجمع شي .

## اليد الْيُمْنَى لكل ما فيه التَّكْرِيم وَالتَّشْرِيف

**د عزت او شرافت كارونو لپاره ښي لاس دى .**

٤٩ - عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا ، قَالَتْ: ( كَانَتْ يَدُ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ الْيُمْنَى لِطَهُورِهِ وَطَعَامِهِ، وَكَانَتْ يَدُهُ الْيُسْرَى لِخَلَائِهِ، وَمَا كَانَ مِنْ أَذًى ) (٦٢)

**د عائشه رضي الله عنها څخه روايت دى ، فرمايي : د نبي كريم صلى ښي لاس دهغه د خوراک كولو لپاره وو ، او په اودس كولوكښې به يې هم ښي لاس مخكښې كولو ، او هغه به په استنجا او هغه كارونو كښې چه طبيعت يې بد ګڼي چپ لاس استعمالولو .**

---

٦٢ - (سنن أبي داود، رقم الحديث ٣٣، وصحيح البخاري، رقم الحديث ١٦٨، وصحيح مسلم، رقم الحديث ٦٦ - (٢٦٨)، وجامع الترمذي، رقم الحديث ١٨٨٨، وسنن ابن ماجه، رقم الحديث ٣٢٨٨، واللفظ لأبي داود، وصححه الألباني).

ددي حديث دراوي پيژندنه مخکي په (٥) نمبر حديث کښې ذکر شوې ده.

## من فوائد هذا الحديث:

## ددي حديث د فوائدو څخه

١ -په دين اسلام کښې داقاعده ده ، هغه کارونه چه دعزت او شرافت سره تعلق لري ، لکه جامې اغوستل ،کيږى په خپوکول، اومسجدته داخليدل مسواک وهل ، او همدارنګه نوکان او بريتونه پريکول دبيت الخلا نه راوتل ، او په اوداسه کښې اندامونه وينځل خوراک او څښاک کول ، او همدارنګه مصافحه کول ، او په لمانځه کښې سلام ګرځول ، او دحجر اسود استلام کول ، وغيره هغه کارونه چه د عزت او شرافت سره تعلق لري ، بايد په هغه ټولو کښې ښي طرف مخکې کړې شي .

٢ -او هغه کارونه چه د عزت او شرافت سره تعلق نلري لکه بيت الخلا ته داخليدل او دمسجدنه بهر ته وتل او همدارنګه

استنجا كول ، او جامې ويستل ، وغيره هغه كارونه چه د شرافت او عزت سره تعلق نلري ، بايد په هغې كښې چپ لاس استعمال كړى شي .

٣ -په مسلمان باندې واجب ده ، چه بايد د نبي كريم ﷺ تابعداري اوكړى .

## التحذير من سؤال الناس أموالهم بغير ضرورة

ځوک چه د خلکو مالونه په سؤال سره غواړې هغوې ته ويره

٥٠ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : (مَنْ سَأَلَ النَّاسَ أَمْوَالَهُمْ تَكَثُّرًا؛ فَإِنَّمَا يَسْأَلُ جَمْرًا؛ فَلْيَسْتَقِلَّ أَوْ لِيَسْتَكْثِرْ) (٦٣)

دابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دى ، فرمايي : نبي كريم ﷺ فرمايلي دي : ځوک چه دخلکو نه دهغوې مالونه په سؤال سره غواړې ددي لپاره چه خپل مال زيات کړې

[٦٣] - (صحيح مسلم، رقم الحديث ١٠٥ - (١٠٤١)،).

پس دا يقينا د اور سکروټې دي که زياته وې هغي لره او که کمه وې هغې لره .

ددي حديث دراوې پېژندنه مخکي په (١٣) نمبر حديث کښې ذکر شوې ده

## من فوائد هذا الحديث:

## ددي حديث د فوائدو څخه

١ -په دې حديث کښې هغه چا ته ډيره ويره ورکړی شوي ده ، څوک چه د خلکو نه دهغوې مالونه بغير دضرورت نه په سؤال سره غواړي ددي لپاره چه خپل مال په دې سره زيات کړې ، او همدارنګه دا حديث دا لار ښونه هم کوي چه د خلکونه سؤالونه کول ، بغير دضرورت نه ګناه کبيره ده .

٢ -کله چه انسان خپل حاجتونه د نورو انسانانو څخه غواړې نو دهغه حاجتونه نه پوره کيږي ، او هميشه لپاره بيا د خلکونه سؤالونه کوې ، او کله چه يو بنده خپل حاجتونه خپل رب ته پيش کړې ، او په هغه باندي اعتماد اوکړې

نو دهغه حاجتونه پوره كيږي ، ځكه چه الله تعالى د خپل بنده لپاره يوائې كافي دى ، لكه الله تعالى فرمايلي دي :

﴿ وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُۥٓ ﴾ (٦٤)

چاچه ځان وسپاره الله تعالى ته ، هغه پوره دى دده لپاره .

## مشروعية صَلاَة الْإِشْرَاقِ

د ځا ښت لمونځ كول مشروع دي .

٥١ - عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: ( كَانَ رَسُوْلُ اللّهِ ﷺ يُصَلّي الضّحَى أَرْبَعًا، وَيَزِيدُ مَا شَاءَ اللّهُ) (٦٥)

---

٦٤ ، ( سورة الطلاق، الآية ٣ ).

٦٥ - (صحيح مسلم، رقم الحديث ٧٩ - (٧١٩)،).

د عائشه رضي الله عنها څخه روايت دی ، فرمايي : نبي كريم ﷺ به د څاښت لمونځ څلور ركعته كوو ، او زياتي كولو به يي څومره چه به الله تعالى غوښتلو .

ددي حديث دراوي پيژندنه مخكي په ( ٥ ) نمبرحديث كښي ذكر شوې ده

## من فوائد هذا الحديث:

## ددي حديث د فوائدو څخه

١ - كله چه نمر د يوې نيزې په اندازه راوخيژي د څاښت د لمانځه وخت شروع كيږي ، او د نمر تر زواله پورې جريان لري دې لمانځه ته ( صلاة الاوابين )
او ( صلاة الضحى ) او ( صلاة الاشراق ) واېې او ددي لمانځه اداكول مستحب دي .

٢ -ددې لمانځه د ركعتونو كمه شميره دوه ركعته ده ، او زياته شميره يي اته ركعته ده .

او غوره داده چه څلور رکعته اوکړی شي ، په داسې طريقې سره چه د هر دوه رکعته نه بعد سلام اوګرځول شي .
بعضې علماو ويلي چه د ثابت دلمانځه د زياتو رکعتونو شمير معلوم نه دی ، څومره چه دلمونځ کونکې خو ښه شي کولای شي چه ادا يي کړې .

## فضل الوضوء والصلوات الخمس

### د اودس او پنځه وخته لمونځ کولو فضيلت

٥٢ - عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ ﵁ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: (مَنْ أَتَمَّ الْوُضُوْءَ، كَمَا أَمَرَهُ اللّٰهُ تَعَالَى؛ فَالصَّلَوَاتُ الْمَكْتُوْبَاتُ، كَفَّارَاتٌ لِمَا بَيْنَهُنَّ) (٦٦) .

د عثمان بن عفان ﵁ څخه روايت دی ، فرمايي : نبي كريم ﷺ فرمايلي دي : چا چه كامل او پوره اودس اوکړو ، پس

[٦٦] - (صحيح مسلم، رقم الحديث ١١ – ( ٢٣١)،).

فرض لمونځونه كفارات ( ددي په سبب سره معاف كيږي ) هغه ګناهونه چه دانسان نه واقع شي ددي لمونځونو د وختونو په مابين كښې .

ددي حديث دراوي پيژندنه مخكي په (١) نمبرحديث كښې ذكر شوې ده

## من فوائد هذا الحديث:

## ددي حديث د فوائدو څخه

١ - اودس هغه غوره عبادت په كوم باندي چه الله تعالى ډير اجر او ثواب وركوي ، د اوداسه په وجه ګناهونه معاف كيږي اودرجي اوچتيږي نوبايد ده چه مسلمان بنده د اوداسه پوره اهتمام اوكړي اودس او دهغې اداب او شرطونه وغيره زده كړي .

٢ -دا حديث ښائسته پوره او كامل اودس كول او بيا لمونځونه په خشوع او عاجزۍ سره اداكولو ته ترغيب وركوي .

٣ - په دې حديث کښې د پنځه فرضې لمونځونو فضيلت ذکر شوی ، هغه داچه په دې لمونځونوسره صغيره ګناهونه معاف کيږي اوهرچه کبيره لوي ګناهونه دي هغه په رشتني توبې سره معاف کيږي .

## تناول التمر لِلسُّحُوْرِ، هو: الأفضل

## په پيشمنې کښې خرما خوړل غوره دي .

٥٣ - عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﵁ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: (نِعْمَ سُحُوْرُ الْمُؤْمِنِ: اَلتَّمْرُ) (٦٧) .

د ابو هريره ﵁ څخه روايت دی ، فرمايي : نبي کريم ﷺ فرمايلي دي : د مؤمن غوره پيشمنى خرما ده .

ددې حديث دراوي پيژندنه مخکې په (١٣) نمبرحديث کښې ذکر شوې ده

[٦٧] - (سنن أبي داود، رقم الحديث ٢٣٤٥ ، وصححه الألباني).

## من فوائد هذا الحديث:

## ددي حديث د فوائدو څخه

١- غوره او مستحب ده ، چه پیشمني کښې ، خرما اوخوړل شي ، ځکه چه د خرما خوړل په پیشمني کښې سنت دي ډیر خلک ددي سنت نه غافله دي ، او دا ګمان کوي ، چه ګویا خرما خوړل صرف په روژه ماتي کښې سنت دي .

٢ – خرما مبارکه میوه ده او په پیشمني کښې دهغې خوراک هم برکت لري .

٣ -د پیشمني په کولو سره انسان کولاې شي چه واجبات او طاعات په ښه توګه سرته ورسوي ، نو باید مؤمن بنده دپیشمني اهتمام اوکړي اګر که لږ خوراک اوکړي ، ځکه پیشمني کښې لږ خوراک هم کافي وي ، تر دې چه یواځي په او بو سره هم پیشمنی کولاي شي ، خو خو رما خوړل په پیشمني کښې غوره دي .

# فضل التأمين

## د آمين ويلو غوره والى .

٥٤ - عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﵁ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ: (إِذَا قَالَ أَحَدُكُمْ: آمِينَ، وَقَالَتِ الْمَلَائِكَةُ فِي السَّمَاءِ: آمِينَ؛ فَوَافَقَتْ إِحْدَاهُمَا الْأُخْرَى؛ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ) (٦٨)

**ابو هريره ﵁ ثخه روايت دى ، فرمايي : نبي كريم ﷺ فرمائلي دي : كله چه يو كس ستاسو امين اوايي ، او ملائكې په اسمان كښې هم امين وايي ،دچا امين چه د ملائكو دامين سره برابر شي ، نو مخكنې ګناهونه يي معاف شي .**

**ددي حديث دراوې پيژندنه مخكي په (١٣) نمبر حديث كښې ذكر شوې ده .**

---

[٦٨] (صحيح البخاري، رقم الحديث ٧٨١، وصحيح مسلم، رقم الحديث ٧٢ - (٤١٠)،).

## من فوائد هذا الحديث:

## ددي حديث د فوائدو ثخه

١ -د آمين معنى : اى الله هغه څه چه په سورت فاتحه کښې مونږ له تاته اوغښتل دا دعا زمونږ قبوله کړې .

٢ -دا حديث لار ښونه کوې ، چه لونځ کونکى که امام وي يا مقتدي وي ، او يا يوائحې لمونځ کونکى وي بايد چه آمين اوايي .

٣ -دا حديث لار ښونه کوې ، چه په ملائکو ايمان لرل واجب دي .

# من صفات المسلمين

## د مسلمانانو د خویونو ښخه .

٥٥ -عَنْ أَبيْ هُرَيْرَةَ ﷺ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ قَالَ:(الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ النَّاسُ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ، وَالْمُؤْمِنُ مَنْ أَمِنَهُ النَّاسُ عَلَى دِمَائِهِمْ وَأَمْوَالِهِم ) [٦٩]

ابو هريره ﷺ ښخه روايت دی ، فرمايي : نبي كريم ﷺ فرمايلي دي : كامل مسلمان هغه دی ، چه نور مسلمانان دهغه د ژبې او لاس د ضرر ښخه بچ وي ، او كامل مؤمن هغه دی ، چه خلک ده لره امنانت دار اوګڼي د خپلو وينو او مالونو باره كښې .

---

[٦٩] - (سنن النسائي، رقم الحديث ٤٩٩٥، و صحيح مسلم، رقم الحديث ٦٥ - (٤١)، ، واللفظ للنسائي، وحسنه الألباني).

ددي حديث دراوي پېژندنه مخكي په (١٣) نمبرحديث كښې ذكر شوې ده

## من فوائد هذا الحديث:

## ددي حديث د فوائدو څخه

١ - دا حديث د مسلمان څخه دا غو ښتنه كوي ، چه بايد دامانتونو پوره لحاظ اوكړي ، او همدارنګه په معاملاتو كښې د رشتنوالي څخه كار واخلي ، او بايد په خلكو باندي ظلم او زياتى اونه كړي ، او د هغوې د وينو او مالونوڅخه ځان او ساتي

٢ -رشتنى مؤمن هغه دى ، چه خپل ځان الله تعالى ته تسليم كړي او د انسانانو حقوق ادا كوي ، هغوې ته ضرر نه ور كوي ، او نه په هغوي باندې ظلم كوي ، بلكه انسانان دهغه دشر او ضرر نه محفوظ وي .

٣ -په دې حديث كښې د مسلمان دا ظاهري صفت ذكر شوى ، چه خلک به دهغه د ضررنه محفوظ وي ، او دمؤمن

لپاره دا باطني صفت ذکر شوی ، چه خلک به ده لر امانت دار ګڼي د خپلو وینو او مالونو باره کښې .

## عمارة البيوت بالعبادة والذكر وقراءة القرآن فيها

**دکورونو اباده ول د الله تعالی په عبادت او دهغه ذکر او دقران په تلاوت باندي .**

٥٦ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ: ( لاَ تَجْعَلُوْا بُيُوْتَكُمْ مَقَابِرَ؛ إِنَّ الشَّيْطَانَ يَنْفِرُ مِنَ الْبَيْتِ الَّذِي تُقْرَأُ فِيْهِ سُوْرَةُ الْبَقَرَةِ ) (٧٠) .

ابو هریره ﷺ څخه روایت دی ، فرمايي : نبي کريم ﷺ فرمايلي دي : تاسو د خپلو کورونو څخه هديري مه جوړه وی ، يقينا شيطان د هغه کور څخه تښتي په کوم کور کښې چه سورت بقره لوستل کيږي .

[٧٠] - (صحيح مسلم، رقم الحديث ٢١٢ - (٧٨٠)، ).

ددي حديث دراوې پيژندنه مخکي په (١٣) نمبر حديث کښې ذکر شوې ده

## من فوائد هذا الحديث:

## ددي حديث د فوائدو څخه

١ -دا حديث لاربښونه کوي ، چه بايد کورونه د الله تعالى په ذکر او دقران په تلاوت باندي ښائسته کړی شي او همدارنګه د هغه کورنه شيطان تښتي په کوم کور کښې چه سورت بقره لو ستل کيږي .

٢ -مسلمان بايد په خپل کور کښې دالله تعالى عبادت او د هغه بندګي اوکړې ، تر څو چه کور يې د هديرې په شان نشي ، او او سيدونکي دهغه کور د مړو په شان نه شي .

# فضل اَللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ

## د اللهم ربنا لک الحمد فضيلت .

٥٧ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﵁ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ: ( إِذَا قَالَ الْإِمَامُ: سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ؛ فَقُوْلُوْا : اَللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ؛ فَإِنَّهُ مَنْ وَافَقَ قَوْلُهُ قَوْلَ الْمَلَائِكَةِ؛ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ) ([71])

**ابو هريره ﵁ څخه روايت دى ، فرمايي : نبي كريم ﷺ فرمايلي دي : كله چه امام** (سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ ) **اوايي ( قبلوي الله تعالى څوک چه د هغه حمد وايي ) نو تاسو** (اَللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ) **اوواييئ ( يا الله تالره صفتونه دي ) ځكه چه**

---

[71] - (صحيح البخاري، رقم الحديث ٧٩٦، وأيضاً صحيح مسلم، رقم الحديث ٧١ - (٤٠٩)،).

دچا دا وينا دملائکو د وينا سره برابره شوه مخکني ګناهونه به يې معاف شي .

ددې حديث دراوې پيژندنه مخکې په (١٣) نمبر حديث کښې ذکر شوې ده

## من فوائد هذا الحديث:

## ددې حديث د فوائدو ځخه

١ -دې حديث نه دالله تعالی پراخه فضل معلوميږي ، ځکه چه په کم عمل باندې چه ډير مشقت نلري ، الله تعالی ډير اجر او ثواب ورکوي .

٢ -کله چه لمونځ کونکی د رکوع کولو نه فارغه شي سر به د رکوع نه راپورته کړې او (سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ) به اوايي خو کله چه امام وي يا يواځې لمونځ کونکی وي او يا مقتدي وي بيا به يواځې (اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ) وايي .

د (سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ) معنی ده : قبلوې الله تعالی ځوک چه د هغه حمد وايي.

# كيف يتم ثُبُوتُ دخول رَمَضَانَ؟

## د رمضان مياشت څنګه معلوميږي .

٥٨ - عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﵁ قَالَ: ذَكَرَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلْهِلَالَ؛ فَقَالَ: (إِذَا رَأَيْتُمُوْهُ فَصُوْمُوْا، وَإِذَا رَأَيْتُمُوْهُ؛ فَأَفْطِرُوا؛ فَإِنْ أُغْمِيَ عَلَيْكُمْ فَعُدُّوْا ثَلَاثِيْنَ) (٧٢)

ابو هريره ﵁ **څخه روايت دی ، فرمايي : نبي کريم ﷺ د ( هلال ) ذکر اوکړه ، ( هلال) د مياشتې اولنو ورځو ته وايي نبي کريم ﷺ اوفرمايل چه کله تاسو هلال اووينې نو روژه اونيسئ ، او چه کله د شوال د مياشتې هلال اووينې نو روژه ماته کړې او که پټه شې په تاسو باندې هلال نو وشميرئ د شعبان د مياشتې ديرش (٣٠) ورځې**

[72] - (صحيح مسلم، رقم الحديث ٢٠ - (١٠٨١)، ).

ددي حديث دراوي پيژندنه مخکي په (١٣) نمبرحديث کښې ذکر شوې ده .

## من فوائد هذا الحديث:

## ددي حديث د فوائدو ښخه

١ -دا حديث لاربښونه کوي چه د شک دورځې روژه صحيح نه ده ، او همدارنګه د شعبان د مياشتې ديرشمه (٣٠) ورځ روژه نيول هم صحيح نه ده ، په هغه وخت کښې چه په ديرشمه شپه د شعبان وريځ وغيره وي ، او مياشت ونه ليدل شي .

٢ -د رمضان د مياشتې ، روژه هغه وخت واجبيږي ، کله چه د رمضان مياشت داخله شي ، او درمضان مياشت هغه وخت داخليږي، کله چه د هغې هلال وليدل شي ، او چه کله د شعبان د مياشتې په دير شمه (٣٠) شپه باندې وريځ وغيره وي ، او مياشت ونه ليدل شي، نو بيا دشعبان د مياشتې ديرش ورځې شمارل ضروري دي .

## من آداب المجلس في الإسلام

## په اسلام کښې د مجلس اداب .

٥٩ - عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﵁، عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: (إِذَا قَامَ أَحَدُكُمْ عَنْ مَجْلِسِهِ، ثُمَّ رَجَعَ إِلَيْهِ؛ فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ) (٧٣)

ابو هريره ﵁ څخه روايت دی ، فرمايي : نبي كريم ﷺ فرمايلي دي :کله چه يو کس ستاسو د خپل ځاي نه پاڅيږي ، او بيا واپس راشي نو هغه د همدغه ځاي ډير حقدار دی .

ددي حديث دراوي پيژندنه مخکي په (١٣) حديث کښي ذکر شوي ده .

[73] (سنن ابن ماجه، رقم الحديث ٣٧١٧، وصحيح مسلم، رقم الحديث٣١ - (٢١٧٩) واللفظ لابن ماجه، وصححه الألباني).

## من فوائد هذا الحديث:

## ددي حديث د فوائدو څخه

١ -مسلمان باید د مجلس د ادابو مراعت اوکړي ، او دا سي څه باید اونه کړي ، چه دهغې په وجه باندي نورو ته تکلیف ورسیږي .

٢ -د مجلس د ادابو څخه داده چه یو کس په مجلس کښې ناست وي او دڅه کار لپاره د خپل ځاي نه پاڅیږي ، او بیا واپس راشي نو هغه د همدغه ځاي ډیر حقدار دی .

## فضل الإنفاق على الزوجة والأطفال

## په خپلو بچو باندي د خرچ كولو فضيلت

٦٠ - عَنْ أَبِيْ مَسْعُوْدٍ الْبَدْرِيِّ ﵁ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ، قَالَ: (إِنَّ الْمُسْلِمَ إِذَا أَنْفَقَ عَلَى أَهْلِهِ نَفَقَةً وَهُوَ يَحْتَسِبُهَا كَانَتْ لَهُ صَدَقَةً) (٧٤)

**د ابو مسعود ﵁ څخه روايت دى فرمايي : نبي ﷺ فرمايلي دي : يقينا كله چه مسلمان بنده په خپل اهل باندې د اجر او ثواب په نيت خرچ كوي ، دا خرچ كول دهغه لپاره صدقه ده .**

**ددي حديث دراوي پيژندنه مخكي په (٢) نمبر حديث كښې ذكر شوې ده .**

٧٤ - صحيح مسلم، رقم الحديث ٤٨ - (١٠٠٢)، وصحيح البخاري، رقم الحديث ٥٥، واللفظ لمسلم).

## من فوائد هذا الحديث:

## ددي حديث د فوائدو څخه

١ -دا حديث دلالت کوې چه په خپل اهل او بچو باندي خرچ کول په ټولو صدقو کښې غوره صدقه ده ، ځکه چه په خپل اهل باندې خرچ کول واجب دي .

٢ -د ( احتساب ) نه مراد خرچ کول د اجر او ثواب په نيت باندې ، هغه دا چه کله مسلمان په خپل اهل باندې خرچ کوې ، نو دا نيت دې اوکړې ، چه دا خرچ کول په ما باندې واجب دي ، او په دې سره دې د الله تعالى نه اجر او ثواب اوغواړې .

٣ -انفاق : حلال مال په عباداتو اوجائز کارونوو کښې خرچ کول ديته انفاق وايي .

## من أسباب النجاة من النار

### د اور نه د خلاصون اسباب .

٦١ -عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ ﵁، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ ﷺ، يَقُولُ: (مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ أَنْ يَسْتَتِرَ مِنَ النَّارِ، وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ؛ فَلْيَفْعَلْ) (٧٥) .

**د عدي بن حاتم ﵁ څخه روایت دی ، فرمايي : ما دنبي کريم ﷺ څخه اوريدلي دي هغه فرمايل : که د چا طاقت وي چه د اور نه ځان بچ کړي ، اګر که د خرما په يوه ټکړه باندې وي ، پس ودې کړي .**

---

[٧٥] - (صحيح مسلم، رقم الحديث ٦٦ - (١٠١٦)، وصحيح البخاري، رقم الحديث ١٤١٣ ، واللفظ لمسلم).

## راوى هذا الحديث،

ددي حديث راوي ابو وهب عدي بن حاتم بن عبد الله الطائي ﵁ دى ډير سخي عقلمند او د خپلې قبيلې مشر وو .
نبي كريم ﷺ به دده د اسلام راوړلو ارزو كوله ددي لپاره چه د هغه كومک او مرسته اوكړي ، عدي بن حاتم په اوم (٧) كال دهجرت نبي كريم ﷺ ته ددي لپاره راغى چه دهغه د نبوت احوال معلوم كړې كله چه مديني ته راورسيده د نبي كريم ﷺ سر ه يي په مسجد كښې كتنه اوكړه ، او دا ورته معلومه شوه چه محمد ﷺ باد شاهي او مشري نه غواړي ، بيا نبي كريم ﷺ د ځان سره كور ته بو تلو ، او دهغه لپاره يي ميلمستون اوكړو او دين اسلام ته يي را وبله نو ده په خوشحالۍ سره دين اسلام قبول كړه ، په هغه وخت كښې چه بعضې قومونه مرتد شول ، عدي بن حاتم ﵁ چه د خپل قوم مشر وو ، په اسلام كلک پاتي شو ، او قوم يي هم د مرتد كيدلو نه وژغوره .

او په ډيرو اسلامي غذاګانو کښې لکه د عراق ، مدائن ، او قادسيي وغيره فتح کولو کښې هم شريک شوى وو .

عمر بن الخطاب ﵁ به د عدي بن حاتم ﵁ ډيره ستائنه کوله ، عدي بن حاتم ﵁ فرمايي :

( أَتَيْتُ عُمَرَ ﵁ فِيْ وَفْدٍ؛ فَجَعَلَ يَدْعُوْ رَجُلاً، رَجُلاً، يُسَمِّيهِمْ؛ فَقُلْتُ: أَمَا تَعْرِفُنِيْ يَا أَمِيْرَ الْمُؤْمِنِينَ؟ قَالَ: بَلَى، أَسْلَمْتَ إِذَا كَفَرُوْا، وَأَقْبَلَتَ إِذْ أَدْبَرُوْا، وَوَفَّيْتَ إِذْ غَدَرُوْا، وَعَرَفْتَ إِذْ أَنْكَرُوْا؛ فَقَالَ: فَلاَ أُبَالِيْ إِذاً) (٧٦)

زه د يو وفد سره عمر ﵁ ته راغلم هغه هر يو کس د وفد څخه راغو ښتلو او دهغه نوم يي ذکر کولو ، نو ما ورته اوويل اى امير المؤمنين ايا ته ما نه پيژنې؟

[٧٦] - (صحيح البخاري، رقم الحديث ٤٣٩٤).

هغه راته اوفرمايل : ولې نه بلکه زه تا پيژنم کله چه خلکو کفر اوکړو ، تا اسلام اختيار کړو ، کله چه خلکو دين ته شا کړه ، تا ورته مخ کړه ، کله چه خلکو غدر او دوکه اوکړه تا وفا اوکړه ،کله چه خلکو دين نا اشنا اوګڼه ، تا او پيژنده بيا عدي بن حاتم ﷺ اوويل : اوس زه باک نه کوم .

عدي بن حاتم ﷺ فرمايي :

( أَتَيْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ ﷺ؛ فَقَالَ لِي: إِنَّ أَوَّلَ صَدَقَةٍ بَيَّضَتْ وَجْهَ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ وَوُجُوهَ أَصْحَابِهِ، صَدَقَةُ طَيِّئٍ جِئْتَ بِهَا إِلَى رَسُوْلِ اللَّهِ ﷺ ) (٧٧)

زه عمر ﷺ ته راغلم ، هغه راته اوويل : دټولو نه اول هغه صدقه چه نبي کريم ﷺ او صحابه کرام ورباندي ډير خوشحاله شو ، صدقه د طيئ قبيلې وه ، کومه چه تا نبي کريم ﷺ ته راوړه .

[٧٧] - (صحيح مسلم، رقم الحديث ١٩٦ - (٢٥٢٣)،).

**عدي بن حاتم ﷺ بيا كوفې ته لاړو او دعلي بن ابي طالب ﷺ طرف داروو.**

**د احاديثو په كتابونو كښې دده نه د نبي كريم ﷺ شپږ شپيته (٦٦) احايث نقل دي .**

**او په كال (٦٧) هجري كښې په كوفه كښې وفات شو او ټول عمر يي (١٢٠) كاله وو .**

## من فوائد هذا الحديث:

## ددي حديث د فوائدو څخه

**١ -دا حديث صدقې وركولو ته تر غيب وركوي اګر كه صدقه كمه هم وي ، ځكه د صدقې په وجه انسان كولاې شي چه د اور نه ځان بچ كړي .**

**٢ - (اتقوا النار) : معنى ده ، چه د صدقې په وجه باندې خپل ځانونه د جهنم د اور نه بچ كړی ، اګر كه د خرما په يوه ټكړه باندې وي ، او داور نه د خلاصون معنى داده ، چه**

په صدقې سره الله تعالی ګناهونه معاف کوي ، او ګناهونو د معاف کيدو په نتيجه کښې انسان داور نه بچ کيږي .

٣ -په دې حديث کښې يوائې دخرما ذکر شوی دی دا ځکه چه د حجاز والو اکثر خوراک هغه خرما وه .

٤ -جنت ته د تللو او داور نه د خلاصون ډير اسباب دي بعضې د هغې نه د خلکو سره مرسته او کومک کول ، او په هغوې باندې صدقه کول دي .

## من فضائل الحج والعمرة

### د حج او عمرې د فضائلو څخه

٦٢ -عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ: (الْعُمْرَةُ إِلَى الْعُمْرَةِ كَفَّارَةٌ لِمَا بَيْنَهُمَا، وَالْحَجُّ الْمَبْرُوْرُ لَيْسَ لَهُ جَزَاءٌ إِلاَّ الْجَنَّةُ) (٧٨).

ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دى ، فرمايي : نبي كريم ﷺ فرمايلي دي : د عمرې په اداكولو سره هغه ګناهونه معاف كيږي ، كوم چه ديوې عمرې نه تر بلې عمرې پورې ددې په مينځ كښې واقع شوې وي ، او نه ده بدله د صحيح حج مګر جنت دى .

ددې حديث دراوي پيژندنه مخكې په (١٣) نمبر حديث كښې ذكر شوې ده .

## من فوائد هذا الحديث:

## ددې حديث د فوائدو څخه

[78] - (صحيح البخاري، رقم الحديث ١٧٧٣، وأيضاً صحيح مسلم، رقم الحديث ٤٣٧ - (١٣٤٩)، واللفظ للبخاري).

١ -دا حديث دلالت کوي ، چه ډير کرت عمره اداکول غوره اومستحب ده ، ځکه چه په دې سره هغه ګناهونه معاف کيږي ، کوم چه د دوو عمرو په مينځ کښې د انسان نه صادر شوي وي ، او مراد د ګناهونو نه واړه ګناهونه دي ځکه چه لوې ګناهونه د توبې نه بغير نه معاف کيږي ، بلکه د هغې لپاره رشتنې توبه شرط او ضروري ده .

٢ -دا حديث دحج او عمرې په فضيلت او غوره والي باندي دلالت کوي . هغه داچه د عمرې په اداکولو سره هغه ګناهونه معاف کيږي ، کوم چه ديوې عمرې نه تر بلې عمرې پوري ددې په مينځ کښې واقع شوي وي او نه ده بدله د صحيح حج مګر جنت دی .

٣ -حج مبرور : ديته وايي چه په هغې کښې د ادابو او احکامو پوره اهتمام اوکړی شي ، او په صحيح طريقې سره ادا کړی شي .

# من فضائل شهر رمضان المبارك

## د رمضان د میاشتې فضیلت او غوره والی

٦٣ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ يَقُوْلُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: ( إِذَا دَخَلَ رَمَضَانُ فُتِّحَتْ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ، وَغُلِّقَتْ أَبْوَابُ جَهَنَّمَ، وَسُلْسِلَتِ الشَّيَاطِيْنُ) (٧٩).

ابو هریره ﷺ څخه روایت دی ، فرمايي : نبي كريم ﷺ فرمايلي دي : كله چه مياشت د رمضان راشي د جنت دروازې كلاو كړی شي او د جنهم دروازې بندې كړی شي او شيطانان اوتړل شي .

ددي حديث دراوي پيژندنه مخكي په (١٣) نمبر حديث كښې ذكر شوې ده .

---

٧٩- (صحيح البخاري، رقم الحديث ٣٢٧٧، وصحيح مسلم، رقم الحديث ١ - (١٠٧٩)، واللفظ للبخاري).

## من فوائد هذا الحديث:

### ددي حديث د فوائدو څخه

١ -د رمضان د میاشتې غوره والی دادی ، چه د جنت دروازې په کښې کولاویږي، او دجنهم در وازې په کښې بندیږي ، نو باید چه مؤمن بنده د رمضان په میاشت کښې د نیکو اعمالو ډیر کوشش اوکړې .

٢ -د رمضان په میاشت کښې شیطانان تړل کیږي خو ددې سره بیاهم د انسانانو نه ګناهونه صادریږي ، ځکه چه د دې ګناهونو نور اسباب وي ، لکه د نفس خواهشات او ناکاره عادات وغیره .

٣ - د جنت د دروازو کولاو یدل ، او دجنهم دروازې بندیدل اود شیطانانو تړل ، رمضان د میاشتې د غوره والې نښه ده .

## وجوب تبييت النية في صوم الفريضة قبل طلوع الفجر

په فرضي روژه نيولوکښې د شپې نه نيت کول واجب دي .

٦٤ - عَنْ حَفْصَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا زَوْجِ النَّبِيِّ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: ( مَنْ لَمْ يُجْمِعِ الصِّيَامَ قَبْلَ الْفَجْرِ؛ فَلاَ صِيَامَ لَهُ) (٨٠)

د نبي كريم ﷺ بي بي حفصه رضي الله عنها څخه روايت دى فرمايي نبي كريم ﷺ فرمايلي دي : چاچه دروژې لپاره د صباه راختلونه مخکې نيت اونه کړه دهغه روژه نشته .

راوى هذا الحديث ،

ددي حديث راوي حفصه بنت عمر بن الخطاب رضي الله عنهما ده د نبي كريم ﷺ دبعثت نه پنځه (٥) کاله مخکې زېږيدلې وه .

---

[80] - (جامع الترمذي، رقم الحديث ٧٣٠، وسنن أبي داود، رقم الحديث ٢٤٥٤، وسنن النسائي، رقم الحديث ٢٣٣٤ ، واللفظ للترمذي، وصححه الألباني).

او د خنيس بن حذافه السهمي ﷺ سره يي نكاح شوې وه ، او دهغه بي بي وه.

حفصه رضي الله عنها د خپل خاوند سره يو ځاې اول حبشې ته هجرت اوكړه او همدارنګه بيا يي د خپل خاوند سره يوځاې مدينې ته هم هجرت اوكړه .

خنيس بن حذافه ﷺ د بدر د غزا نه روستو داحد په غزاكښې شريک شو او په همدې غزا داحد كښې زخمې شو بيا د همدې زخمو نو له امله په شهادت ورسيده او حفصه رضي الله عنها په داسې حال كښې پاتې شوه چه عمر يي د شلو كالو په خوا او شا كښې وو ، عمر بن الخطاب ﷺ ډير غمژن شو ځكه چه لور يي د ډيرې ځوانۍ په مها ل د خاوند د سعادت نه محرومه شوه ، كله چه به عمر بن الخطاب ﷺ خپله لور حفصه رضي الله عنها په دې حال ليدله غم به يي نورهم زيا تيدلو كله چه د حفصې رضي الله عنها عدت پوره شو عمر ﷺ د هغې په باره كښې ډير فكر مند شو ، څه وخت

روستو نبي كريم ﷺ د حفصې رضي الله عنها ( خطبه ) يعني په نكاح سره غو ښتنه اوكړه ، او عمر رضي الله عنه ورته په دريم (٣) كال د هجرت باندي په نكاح سره وركړه ، او دنبي كريم ﷺ د سخر ګنۍ شرافت او عزت ورته ور په برخه شو .

حفصه رضي الله عنها د ډيرو فضيلتونو خاو نده ده ، د قران كريم هغه نسخه كومه چه ابوبكر رضي الله عنه راجمع كړې وه ، حفصې رضي الله عنها دهغې ساتنه كوله ځكه چه حفصه رضي الله عنها كاتبه ( ليكونكې ) هم وه او دغه نسخه د قران كريم د حفصې رضي الله عنها سره د عثمان رضي الله عنه خلافت پوره وه بيا تري عثمان رضي الله عنه غوښتنه اوكړه، او دانسخه ترېنه ددي لپاره واخسته چه د ټولو ښارونو لپاره بايد د قران كريم نسخه په يو قرائت باندي اوليكل شې ، تر څو هغه اختلاف چه د قرائت د وجې نه راځې پاي ته ورسيږي ، بيا عثمان رضي الله عنه دا نسخه حفصې رضي الله عنها ته بيرته واپس وركړه ، او تر وفاته ورسره دا نسخه موجوده وه ، حفصه رضي الله عنها

ډيره عابده وه  د شپې لمونځ او د قران کريم د تلاوت سره يي ډيره مينه درلوده د احاديثو په کتابونو کښې ترينه د نبي کريم ﷺ شپيته (٦٠) احاديث نقل دي ، او په کال (٦١) يا (٦٥) هجرې کښې په مدينه کښې وفات شوه ، او د مدينې والي مروان د هغې د جنازې لمونځ اداکړه .

## من فوائد هذا الحديث:

## ددي حديث د فوائدو ښخه

١ -په فرض روژه نيولو کښې لکه د رمضان روژه نيول اويا دهغې قضا راوړل ، او همدارنګه د نذر او کفارې روژه نيول ، په دې ټولو کښې بايد د روژې نيت د شپې نه اوکړی

شي او نيت په زړه سره کيږي ، او خوله باندې د نيت الفاظ ويل جائز نه دي .

٢ -دا حديث دلالت کوي ، چه فرضي روژه نيولو کښې نيت کول د شپې نه ضروري دي ، او نفلې روژه نيولو کښې د ورځې نه نيت هم صحيح کيږي ، خو په دې شرط چه د صبا راختلو نه بعد يي څه خوراک وغيره نه وې کړی .

## قراءة القرآن في صلاة الفجر

د سحر په لمانځه کښې د قران لوستل .

٦٥ -عَنْ أَبِيْ بَرْزَةَ ﷺ قَالَ(كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَقْرَأُ فِي الْغَدَاةِ مَا بَيْنَ السِّتِّيْنَ إِلَى الْمِائَةِ آيَةً) (٨١) .

د ابو برزه ﷺ څخه روايت دی ، فرمايي : نبي كريم ﷺ به د سحر په لمانځه كښې د شپيتو نه تر سلو پوري اياتونه لوستل .

راوي هذا الحديث،

ددي حديث راوي ابو برزه نضلة بن عبيدا لاسلمي صحابي دی ، د نبي كريم ﷺ سره فتح د مكې ته هم حاضر شوی وو

٨١ -(صحيح مسلم، رقم الحديث ١٧٢ - (٤٦١)، وصحيح البخاري، رقم الحديث ٥٤١، واللفظ لمسلم).

بیا روستو بصرې ته لاړو ، او بیا د بصرې نه خراسان ته لاړو او هلته د ( مرو ) نومې ځاې کښې او سیده ، او څه وخت روستو بیرته بصرې ته راغی ، د احادیثو په کتابونو کښې ترینه د نبي کریم ﷺ څلویښت (٤٠) احادیث نقل دي او په کال شپیته (٦٠) یا یو شپیته (٦١) هجري کښې په بصره کښې وفات شو .

## من فوائد هذا الحديث:

## ددي حديث د فوائدو څخه

١ -( صلاة الغداة ) د سحر لمانځه ته وايي او نبي كريم ﷺ به د سحر په لمانځه كښې د شپيتونه تر سلو اياتونو پورې قران لوستلو .

٢ -د جمعې په لمانځه كښې بايد د كمزورو مقتديانو لحاظ او ساتل شي ، او په داسې انداز بايد لمونځ اوكړی شي چه مقتديانو ته تكليف ورنه رسيږي ، بلكه د جمعې په لمانځه كښې بايد درميانه طريقه اختيار كړی شي .

## من فضائل السجود لله عز وجل

## الله تعالى ته دسجده كول او دهغې فضيلت

٦٦ -عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: ( تأكُلُ النَّارُ ابْنَ آدَمَ إِلاَّ أَثَرَ السُّجُوْدِ؛ حَرَّمَ اللَّهُ عَلَى النَّارِ أَنْ تَأْكُلَ أَثَرَ السُّجُوْدِ) (٨٢) .

ابو هريره ﷺ څخه روايت دی ، فرمايي : نبي كريم ﷺ فرمايلي دي :

د بني ادم د سجدې ځايونه اور نه سيزي ، ځكه چه الله تعالى په اور باندې د سجدې ځايونه سيزل حرام كړي دي .

ددي حديث دراوي پيژندنه مخكي په (١٣) نمبر حديث كښې ذكر شوې ده .

## من فوائد هذا الحديث:

## ددي حديث د فوائدو څخه

[٨٢] (سنن ابن ماجه، رقم الحديث ٤٣٢٦ ، وصحيح البخاري، جزء من رقم الحديث ٧٤٣٧، وصحيح مسلم، جزء من رقم الحديث ٢٩٩ - (١٨٢)، واللفظ لابن ماجه، وصححه الألباني)

١ -په دې حديث کښې الله تعالی ته دسجدې کولو فضيلت ذکر دی ، هغه داچه د جهنم اور نشي کولاي چه د انسان هغه اندامونه اوسيزي په کومو چه هغه الله تعالی سجده کړی وي لکه پوزه او تندی ، او دواړه لاسونه ، او دواړه زنګنونه ، او دواړه قدمونه ، ځکه چه ددي اندامونوسيزل الله تعالی په اور باندې حرام کړي دي .

٢ -دا حديث دلالت کوي چه الله تعالی مؤمنانو بنده ګانو ته عزت او کرامت ورکوي ، او دجهنم داور نه يي بچ ساتې ، او د قيامت په ورځ باندي به مؤمنان ترو تازه وي ، مخونه به يي روښانه وي ، الله تعالی به ورته په خپل فضل او احسان سره د عزت او کرامت کور چه جنت دی ، ورپه برخه کړي

## الحكمة من مخالفة الطريق في صلاة العيد

اختر مانځه ته د تګ او راتګ لاره بدلول او دهغې حکمت .

٦٧ - عَنْ جَابِرٍ ﷺ قَالَ: ( كَانَ النَّبِيُّ ﷺ، إِذَا كَانَ يَوْمُ عِيدٍ، خَالَفَ الطَّرِيْقَ ) (٨٣) .

د جابر ﷺ څخه روايت دی فرمايي : نبي كريم ﷺ به د اختر په ورځ ( مانځه ته د تګ او راتګ ) لاره بدلوه .

ددي حديث دراوي پيژندنه مخكي په (٣٨ ) نمبر حديث كښي ذكر شوې ده

من فوائد هذا الحديث:

ددي حديث د فوائدو څخه

---

[٨٣] (صحيح البخاري، رقم الحديث ٩٨٦).

١ -د اختر په ورځ لمانځه ته د تګ او راتګ لاره بدلولو کښې کيدي شي حکمت دا وې ، چه دواړه لارې د لمونځ کونکې لپاره د قيامت په ورځ باندي د خير ګواهې ورکړي ځکه چه د قيامت په ورځ باندې ، ځمکه هم ګواهې ورکوي

٢ -مؤمن بنده بايد د نبي کريم ﷺ د تابعدارۍ کوشش اوکړي، اګر که حکمت ورته معلوم نشې .

## مفتاح الصلاة الطهور

پاکې د لمانځه کونجې ده .

٦٨ - عَنْ عَلِيٍّ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: ( مِفْتَاحُ الصَّلَاةِ الطُّهُوْرُ، وَتَحْرِيْمُهَا التَّكْبِيرُ، وَتَحْلِيلُهَا التَّسْلِيْمُ ) (٨٤) .

**د علي ﷺ څخه روايت دى ، فرمايي : نبي كريم ﷺ فرمايلي دي : د لمانځه كونجي پاكوالى دى ، او خبري وغيره په لمانځه كښې په الله اكبر ويلو سره حراميږي ، او په سلام ګرځولو سره جا ئز كيږي .**

---

[84] - (سنن أبي داود، رقم الحديث ٦١ ، وجامع الترمذي، رقم الحديث ٣، وسنن ابن ماجه، رقم الحديث ٢٧٥ ، قَالَ الإمام الترمذي: هذا حديث بأنه: أصح شيء في هذا الباب أحسن، وحسنه الألباني وصححه) .

## راوي هذا الحديث،

ددي حديث راوي ، ابو الحسن علي بن ابي طالب ﵁ مشهور صحابي او د مسلمانانو څلورم خليفه دی. علي بن ابي طالب ديرش (٢٣) کاله مخکښې دهجرت نه چه (٥٩٩) ميلادي کال د مارچ د مياشتې اولسم (١٧) تاريخ سره سمون خورې پيدا شوی دی ، علي بن ابي طالب رضي الله عنه د نبي کريمﷺ د تره زوې او د هغه د لور فاطمې رضي الله عنها خاوند دی .

علي بن ابي طالب ﵁ په وړکوالي کښې په دين اسلام مشرف شو ، او کله چه نبي کريم ﷺ ته د هجرت کولو حکم اوکړی شو ، نو علي بن ابي طالب ﵁ دهغه په بستر ه باندې اوده شه او د نبي کريم ﷺ په ځاي خپل ځان قرباني کولوته تيار کړه ، هرکله چه د مکې مشرکين قريش په دې ګمان باندي راغلل چه نبي کريم ﷺ به ويده وي ، او مونږ به يي قتل کړو ، نو پوهه شول چه مونږ سره دوکه شوې ، او دا

نبي كريم ﷺ نه دی بکه دا خو علي بن ابي طالب رضي الله عنه دی ، نو ده ته يي بعضې تکليف وغيره ورکړه خو قتل يي نه کړه او علي بن ابي طالب رضي الله عنه مخکښې ددينه چه هجرت اوکړي هغه امانتونه کوم چه نبي کريم ﷺ ورته ښودلي وو ، خپلو خاوندانو ته اوسپارل، علي بن ابي طالب رضي الله عنه دقران عالم او ډيرو ښو صفاتو خاوند وو ، په فيصله کولو او فتواه ورکښې يي ځانګړی مهارت در لوده ، او همدارنګه ډير زړه ور او دپوهې خاوند وو ، د تبوک د غزا نه بغير نور په ټولو غذاګانو کښې د نبي کريم ﷺ سره شريک شوی دی ، علي بن ابي طالب رضي الله عنه يو د هغه لسو صحابه کرامو له جملې څخه دی کومو ته چه په يو مجلس کښې د جنت زيری راغلی وو ، او د مسلمانانو څلورم خليفه وو ، د عثمان رضي الله عنه د شهادت نه روستو ورسره په کال (۳۵) هجري کښې د مسلمانانو لخوا بيعت اوکړی شو ، دده د خلافت موده پنځه (۵) کاله او دري (۳) مياشتې وه او بيا په څلويښتم کال (۴۰) دهجرت

د رمضان په میاشت کښې د یو خارجې ظالم لخوا په داسې حال کښې په شهادت ورسیده چه د سحر لمونځ یې ادا کولو د احادیثو په کتابونو کښې د علي بن ابي طالب ﷺ څخه د نبي کریم ﷺ پنځه سوه شپږ دیرش (٥٣٦) احادیث نقل دي .

## من فوائد هذا الحديث:

### ددې حدیث د فوائدو څخه

١ -دا حدیث دلالت کوي ، چه د پاکۍ نه بغیر لمونځ کول جائز نه دی ، که فرضي لمونځ وي ، یا نفلي لمونځ وي ، یا د تلاوت سجده وي ،یا د شکر سجده وي ، او یا د جنازې لمونځ وي ، بلکه ددې ټولو لپاره پاکې ضروري ده په اوبو سره او که اوبو نه وي نو بیا په تیمم وهلو سره .

٢ -په دې حدیث کښې د ( تحلیل ) او ( تحریم ) اضافت شوی دی لمانځه ته مناسبت دادی چه د تکبیر

( الله اکبر ویلو ) سره په لمانځه کښې هغه څه حرامیږي کوم چه دلمانځه نه بهر جائز وو ، لکه خبري وغیره .
او په تسلیم ( سلام ګرځولو ) سره هغه څه جائز کیږي کوم چه په لمانځه کښې جائز نه وو، لکه خبري وغیره .
٣ ـ الله اکبر ویلو سره په لمانځه کښې دا خلیدلو ته ( تحریم ) ځکه وایي ، چه په الله اکبر ویلو سره په لمانځه کښې خبري خوراک وغیره حرامیږي .
٤ -په سلام ګرځولو سره لمونځ کونکي ته هغه څه جائز کیږي ،کوم چه ده باندې حرام ووپه لمانځه کښې او د سلام الفاظ دادي : (السلام علیکم ورحمة اللّٰه ) ویل یو کرت ښي طرف ته او یو کرت چپ طرف ته .

## الترغيب في صِيَامِ يَوْمِ عَاشُوْرَاءَ

### د عاشورا په ورځ روژه نیولو ته ترغیب .

٦٩ -عَنْ أَبِيْ قَتَادَةَ ﵁، أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ: (صِيَامُ يَوْمِ عَاشُوْرَاءَ، إِنِّيْ أَحْتَسِبُ عَلَى اللّٰهِ أَنْ يُكَفِّرَ السَّنَةَ الَّتِيْ قَبْلَهُ) (٨٥)

**د ابو قتاده ﵁ روايت دى ، فرمايي : نبي كريم ﷺ فرمايلي دي : د عاشورا په ورځ باندي روژه نيول ، زه دا اميد لرم چه په دې سره به الله تعالى د تير شوى كال ګناهونه معاف كړي .**

**ددي حديث دراوې پيژندنه مخكي په (١٥) نمبر حديث كښې ذكر شوې ده .**

---

[٨٥] - (جامع الترمذي، رقم الحديث ٧٥٢، وصحيح مسلم، جزء من رقم الحديث ١٩٦ - (١١٦٢)، وسنن أبي داود، جزء من رقم الحديث ٢٤٢٥، واللفظ للترمذي، ولم يحكم الإمام الترمذي هذا الحديث بشيء، وصححه الألباني).

## من فوائد هذا الحديث:

## ددي حديث د فوائدو څخه

١ -دا حديث د عاشورا ورځ روژه نیولو ته ترغیب ورکوي . ځکه چه الله تعالی ددي روژې په نیولو سره د یو کال ګناهونه معاف کوي ، او مراد ددې ګناهونو نه واړه ګناهونه دي .

٢ -د محرم د میاشت نهمه او لسمه ورځ روژه نیول مستحب ده ، ځکه چه نبي کریم ﷺ د محرم د میاشتې لسمه ورځ روژه نیولې وه ، او د نهمې ورځ د روژه نیولو نیت یې کړی وو اویوائې د محرم د میاشتې لسمه ورځ روژه نیول هم جائز ده .

٣- عاشورا دورځې دروژې نیولو ترتیب دادی : چه نهمه او لسمه ورځ د محرم د میاشتې روژه ونیول شې اوکم مقدار دادی ، چه یوائې لسمه ورځ روژه ونیول شې .

او د محرم په مياشت كښې چه څومره زياتې روژې ونيول شي بهتره ده .

## فضل طلاقة الوجه عند اللقاء

په ورين تندي ملاويدل او دهغې غوره والى .

٧٠ -عَنْ أَبِيْ ذَرٍّ ﷺ قَالَ:قَالَ لِيَ النبيُّ ﷺ : ( لاَ تَحْقِرَنَّ مِنْ الْمَعْرُوفِ شَيْئًا ، وَلَوْ أَنْ تَلْقَى أَخَاكَ بِوَجْهٍ طَلْقٍ) (٨٦) .

د ابو ذر ﷺ څخه روايت دى ، فرمايي : نبي كريم ﷺ ماته اوفرمايل: چه هيڅ نيكي كول كم مه ګڼه ، اګر كه ته د يو مسلمان ورور سره په ورين تندي ملاو شي .

ددي حديث دراوي پيژندنه مخكي په (١٠) نمبر حديث كښې ذكر شوې ده .

[86] - (صحيح مسلم، رقم الحديث ١٤٤ - (٢٦٢٦)، ).

## من فوائد هذا الحديث:

## ددي حديث د فوائدو څخه

١ -دا حديث ديو مؤمن بنده نه دا غو ښتنه کوې چه د مسلمان ورور سره بايد په ورين تندي او خو شحالۍ سره ملاو شي .

٢ -دا حديث لارښونه کوې ، چه مسلمان بايد دخپلو بچو او ملګرو او همدارنګه شاګردانو وغيره سره د ښو اخلاقو او په خوشحالۍ او ورين تندي سره چلن اوکړي اوبايد د هغوې د احوالو پو ښتنه اوکړې ، او دهغوې مرسته او مدد اوکړې ، ځکه چه دوي هم د بشر د جملې څخه دي ، په ښو اخلاقو سره خو شحاليږي ، او په بد اخلاقۍ سره غمژن کيږي ، نو مشر بايد د مشرۍ په حيثيت ددوي سره ښه چلن او ښه معامله اوکړې .

٣ -دا حديث وضاحت کوي ، چه په ورين تندي ملاويدل او دملاويدو په وخت دمسلمان ورورسره تبسم

( مسكى كيدل) صدقه ده ، لكه نبي كريم ﷺ فرمايلي :

( تبسُّمُكَ فِي وجْهِ أخيكَ لَكَ صدقةٌ) (٨٧) ...

ستا تبسم كول د يو مسلمان ورور مخامخ صدقه ده .

ځكه چه تبسم سره ستا مسلمان ورور خو شحاليږي او په دې سره مينه او محبت زياتيږي.

## صلاة النافلة في البيت أفضل

نفلي لمونځ په كور كښې كول غوره دي .

٧١ - عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ رضي الله عنه، أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ، قَالَ: ( صَلاةُ الْمَرْءِ فِيْ بَيْتِهِ أَفْضَلُ مِنْ صَلاتِهِ فِيْ مَسْجِدِيْ هَذَا إِلاَّ الْمَكْتُوبَةَ) (٨٨) .

---

[٨٧]- (جامع الترمذي، جزء من رقم الحديث ١٩٥٦ ، قال الإمام الترمذي عن هذا الحديث بأنه: حسن غريب، وقال العلامة محمد ناصر الدين الألباني عن هذا الحديث بأنه: صحيح).

[٨٨] - (سنن أبي داود، رقم الحديث ١٠٤٤ ، وصحيح البخاري، جزء من رقم الحديث ٧٣١، واللفظ لأبي داود، وصححه الألباني).

د زيد بن ثابت ﷺ څخه روايت دی ، فرمايي : نبي کريم ﷺ فرمايلي دي : د سړي نفلي لمونځ په کور کښې غوره دی د هغه دلمانځه نه په دې مسجد ځما کښې ، مګر فرض لمونځ .

( فرض) لمونځ به په مسجد کښې اداکوې .

راوي هذا الحديث،

ددي حديث راوي زيد بن ثابت بن الضحاک الانصاري ﷺ جليل القدر مشهور صحابي او دوحې کاتب دی .

کله چه نبي کريم ﷺ مديني ته راغی ، زيد بن ثابت ﷺ يتيم او د يو لس (۱۱) کالو په عمر وو، او دخپلې کورنې سره يو ځاي په دين اسلام مشرف شو .

هر کله چه نبي کريم ﷺ په زيد بن ثابت ﷺ کښې زيرک تيا او پوهه وليده نو د هغې وحي لپاره يي کاتب مقرر کړه کومه

چه به دالله تعالی له طرفه په نبي كريم ﷺ باندې نازليدله او دا ډير لوې منقبت او فضيلت دی .

هغه وخت چه نبي كريم ﷺ اراده اوكړه چه بادشاهان دين اسلام ته را وبلي ، او هغوي ته خطونه اوليږي ، نو زيد بن ثابت ﷺ ته يي حكم اوكړه ، چه بعضې ژبې زده كړې ، نو زيد بن ثابت ﷺ په ډير كم وخت كښې بعضې ژبې زده كړې چه د هغې د جملې څخه ( سرياني ) او فارسي ژبې هم وي .

زيد بن ثابت ﷺ د ډيرو لوړو خويونو خاوند او ښو صفاتو څښتن وو ، په مدينه كښې په علم زهد او تقوی سره مشهور وو او مسلمانانو به دده ډير احترام او عزت كولو ، د ډير علم او پوخ عقل خاوند وو ، عمر ﷺ به چه كله حج ته تللو ، نو زيد بن ثابت ﷺ به يي په مدينه كښې خپل نائب مقرر كړه زيد بن ثابت ﷺ د عثمان بن عفان ﷺ په زمانه د خلافت كښې ، د قران كريم په جمع كولو كښې ډير ستر خدمت تر سره كړه .

د احاديثو په کتابونو کښې ، دزيد بن ثابت ﷺ نه دنبي کريم ﷺ دوه نوي (۹۲) احاديث نقل دي .
زيد بن ثابت ﷺ په کال پنځه څلويښت (۴۵) هجري د شپږ پنځوس (۵۶) کالو په عمر کښې وفات شو .

## من فوائد هذا الحديث:

## ددي حديث د فوائدو څخه

۱ -دا حديث لار ښونه کوي، چه نفلي لمونځ کول په کور کښې بهتره دی ، ځکه چه په دې کښې اخلاص خشوع او عاجزي زياته وي ، مګر هغه نفلي لمونځ چه په جمع سره ادا کيږي ، لکه ( صلاة الکسوف ) هغه لمونځ چه د نمر د خرڼ کيدو په وخت کښې ادا کيږي ، او ( صلاة الخسوف ) هغه لمونځ چه دسپوږمۍ خړيدو په وخت کښې ادا کيږي او همدارنګه ( صلاة الاستسقاء ) هغه لمونځ چه د باران غو ښتلو لپاره ادا کيږي ، دا نفلي لمونځونه په جمعي سره په مسجد کښې بايد ادا کړی شي .

# من فضائل الكلمات الأربع

## ددي څلورو كلماتو غوره والى

٧٢ - عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﵁، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: ( لأَنْ أَقُوْلَ: سُبْحَانَ اللّٰهِ، وَالْحَمْدُ للّٰهِ، وَلاَ إِلَهَ إِلاَّ اللّٰهُ، وَاللّٰهُ أَكْبَرُ، أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ) (٨٩)

ابو هريره ﵁ څخه روايت دى ، فرمايي : نبي كريم ﷺ فرمائلي دي : ( سُبْحَانَ اللّٰهِ ) الله تعالى لره پاكي ده ، (وَالْحَمْدُ للّٰهِ ) ټول صفتونه د كمال الله تعالى لره دي ، (وَلاَ إِلَهَ إِلاَّ اللّٰهُ) د الله تعالى نه بغير بل هيڅوک د عبادت حقدار نشته (وَاللّٰهُ أَكْبَرُ ) الله تعالى ډير لوې دى ، دا څلور كلمات ويل ما ته د ټولې دنيا نه ډير خوښ دي ،

ددي حديث دراوي پيژندنه مخكي په ( ١٣ ) نمبر حديث كښي ذكر شوې ده .

[٨٩] - (صحيح مسلم، رقم الحديث ٣٢ - (٢٦٩٥)، ).

## من فوائد هذا الحديث:

## ددي حديث د فوائدو څخه

١ -دا حديث لاربنونه کوي ، چه دا څلور کلمات ډير لوي فضيلت لري ، چه په دې سره دا کلمات د نورو کلماتونه جدا حيثيت لري : هغه څلور کلمات دادي : ( سُبْحَانَ اللّٰهِ ) الله تعالى لره پاکي ده ، ( وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ ) ټول صفتونه د کمال الله تعالى لره دي ، (وَلاَ إِلَهَ إِلاَّ اللّٰهُ) د الله تعالى نه بغير بل هيڅوک د عبادت حقدار نشته ، (وَاللّٰهُ أَكْبَرُ) الله تعالى ډير لوي دی .

٢ -دا حديث لار ښونه کوي ، چه په دې کلماتو سره بايد الله تعالى ډير ياد کړی شي ، ځکه چه دا غوره کلمات دي . او په دې سره الله تعالى ډير اجر او ثواب ورکوي .

## الساعة تقوم على شرار الناس

### قيامت په ناكاره (بدو) خلكو باندې قائميږي .

٧٣ - عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: ( لاَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ إِلاَّ عَلَى شِرَارِ النَّاسِ) (٩٠) .

د عبد الله ﷺ څخه روايت دى ، فرمايي : نبي كريم ﷺ فرمايلي دي : قيامت به نه قائميږي ، مګر په ناكاره (بدو) خلكو باندې.

ددي حديث راوي ، عبد الله بن مسعود ﷺ او دهغه پيژندنه په (٣) نمبر حديث : كښې تيره شوې ده .

---

[٩٠] (صحيح مسلم، رقم الحديث ١٣١ - (٢٩٤٩)، ).

من فوائد هذا الحديث:

## ددي حديث د فوائدو څخه

١ -دا حديث دلالت كوي ، چه قيامت به په ناكاره (بدو) خلكو باندې قائميږي ، هغه به داسې ناكاره خلک وي چه هيڅ خير (ايمان وغيره) به په دوې كښې نه وې او ګناهونه زنا وغيره به په دوې كښې عام وي .

٢ -هر چه مؤمنان دي ، په دوې باندي قيامت نه راځي بلكه دوې به د قيامت نه مخكښې مړه شي ، هغه داسې چه الله تعالى به ښه يخه هوا راولي ، او دمؤمنانو روحونه به قبض كړې ، تر دې چه په دنيا كښې به هيڅ خير والا پاتې نشې ، بلكه ټوول به ناكاره خلک وې نو ناڅا به په دوې باندې قيامت قائم شي .

٣ -په دنيا كښې به طائفه منصوره هغه ډله چه هميشه به حق باندې ولاړه وې ، تر هغه پورې موجوده وي ، تر څو چه

د قيامت نه لږ مخکې هغه هوا راشي په کومې سره چه به دمؤمنانو روحونه قبض شي .

## ظُلْم الْمُسْلِمِ لِلْمُسْلِمِ حَرَام

### په مسلمان باندې ظلم کول حرام دي .

٧٤ - عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا ، أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ: ( الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ لاَ يَظْلِمُهُ وَلاَ يُسْلِمُهُ، وَمَنْ كَانَ فِيْ حَاجَةِ أَخِيْهِ، كَانَ اللّٰهُ فِيْ حَاجَتِهِ) (٩١)

د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی ، فرمايي نبي کريم ﷺ فرمايلي دي : مسلمان د مسلمان ورور دی ، نه ظلم کوې په هغه باندې ، او نه يې ظالم ته يواځې پرېږدي

[٩١] -(صحيح البخاري، رقم الحديث ٦٩٥١ ، وصحيح مسلم، رقم الحديث ٥٨ - (٢٥٨٠)، واللفظ للبخاري).

څوک چه د يو مسلمان ورور حاجت پوره کوې ، الله تعالی به دده حاجت پوره کړې .
ددې حديث دراوې پيژندنه مخکې په (٢٢) نمبر حديث کښې ذکر شوې ده .

## من فوائد هذا الحديث:

### ددې حديث د فوائدو څخه

١ -دا حديث لار ښونه کوې ، چه په مسلمان ورور باندې ظلم کول ، او يا مسلمان ورور بل ظالم ته يواځې پريښودل حرام دي، بلکه د مسلمان ورور مدد کول او دهغه نه دظالم ظلم دفع کول واجب دي .

٢ -دا حديث لار ښونه کوې چه مسلمان بايد دخلکو د حاجتونو په پوره کولو کښې د خپل طاقت برابر کوشش اوکړې.

٣ – دې حديث نه په وضاحت سره معلوميږي چه الله تعالی هغه بنده سره محبت کوې ، کوم چه د نورو مسلمانانو

سره ښه چلن کوي او هغوي خو شحاله کوي او هغه څوک بد ګڼي کوم چه د نورو مسلمانانو سره ښه چلن نه کوي ، او هغوي خپه کوي .

## من آداب المجالس

## د مجلس د ادابو څخه

٧٥ -عَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ ﵁ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللَّهِ يَقُوْلُ: (خَيْرُ الْمَجَالِسِ أَوْسَعُهَا ) (٩٢) .

د ابو سعيد الخدري ﵁ څخه روايت دي ، فرمايي : ما دنبي کريم ﷺ نه اوريدلي دي ، هغه فرمايل : غوره مجلسونه هغه دي چه فراخه وي .

راوي هذا الحديث،

ددي حديث راوي ابو سعيد الخدري ﵁ دی ، ددي نوم سعد بن مالک بن سنان الانصاري﵁ جليل القدر او مشهور

---

[٩٢] - (سنن أبي داود، رقم الحديث ٤٨٢٠، وصححه الألباني).

صحابي دی ، د ډیرو ښو خویونو او علم خاوند وو، د اول ځل لپاره یي د خندق په غزا کښې شریک شوی وو، او همدارنګه د نبي کریم ﷺ سره یي په دولسو (١٢) غزاګانو کښې شرکت کړی دی ، د احادیثو په کتابونو کښې دده نه د نبي کریم ﷺ یو زرو یو سلو او یا (١١٧٠) احادیث نقل دي .

ابو سعید الخدري رضي الله عنه په کال (٧٤) هجري کښې چه عمر یي شپږ اتیا کاله وو ، په مدینه کښې وفات شو ، او د بقیع په هدیره کښې دفن شو .

## من فوائد هذا الحديث:

## ددي حديث د فوائدو څخه

١ -مجالس بايد پراخه وي ددې لپاره چه ډير خلک په کښې په راحت او اطمئنان سره کينې ، ددې له وجې نه غوره مجلسونه هغه دي کوم چه پراخه وي .

٢ - د مجلس د ادابو څخه دا هم ده چه بايد مجلسونو په مناسب ځاي کښې جوړ کړی شي ، او د عامو لارو وغيره څخه ځان اوساتل شي .

## من أذكار الرُكُوْعِ والسُجُوْدِ

### په رکوع او سجدې کښې اذکار.

٧٦ - عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ كَانَ يَقُولُ فِيْ رُكُوْعِهِ و سُجُوْدِهِ: ( سُبُّوْحٌ قُدُّوْسٌ، رَبُّ الْمَلَائِكَةِ وَالرُّوحِ ) [٩٣]

د عائشه رضي الله عنها نه روايت دی ، فرمايي : نبي کريم ﷺ به په رکوع او سجده کښې دا دعا لوستله : ( سُبُّوْحٌ قُدُّوْسٌ، رَبُّ الْمَلَائِكَةِ وَالرُّوحِ ) الله تعالى ډير پاک ذات دی ، رب دی دملائکو او د روح .

ددي حديث دراوي پيژندنه مخکي په ( ٥ ) نمبر حديث کښې ذکر شوې ده

[٩٣] - (صحيح مسلم، رقم الحديث ٢٢٣ - (٤٨٧)، ).

## من فوائد هذا الحديث:

## ددي حديث د فوائدو څخه

١ -دا حديث لار ښونه کوي، چه لمونځ کنکی باید دا دعا په رکوع او سجده کښې ولولي : ( سُبُّوْحٌ قُدُّوْسٌ، رَبُّ الْمَلَائِكَةِ وَالرُّوحِ ) الله تعالى ډير پاک ذات دی ، رب دی دملائکو او دروح .

ځکه چه د ا دنبي کريم ﷺ طريقه ده ، او دهغه دطريقې تابعداري پکارده .

٢ -د ( السبوح ) معنى : سبوح د تسبيح نه ماخوذ دی تسبيح دالله تعالى تعظيم کول ، او هغه لره پاکې بيانول د هغه څه نه چه د الله تعالى د شان سره مناسب نه وي .

د ( القدوس ) معنى : القدوس هغه ذات ته وايي ، چه دهر قسم عيبونو نه پاک وي ، ( الروح ) ويل شوي دي چه مراد د روح نه جبريل عليه السلام دی ، او دا احتمال هم لري چه

مراد دروح نه روح د هر ژوندي ځيز وي ، الله تعالى ښه پوهه دى .

٣ -ددې حديث د ظاهر نه دا معلوميږي ، چه نبي كريم ﷺ به دا دعا په ركوع او سجده كښې كله كله لوستله .

٤ -دا حديث دلالت كوي ، چه په ركوع او سجده كښې مختلفې دعاګانې او ذكرونه جمع كولاې شي ، او هر چه نبي كريم ﷺ ارشاد فرمايلى دى :

( أَمَّا الرُّكُوْعُ فَعَظِّمُوْا فِيْهِ الرَّبَّ عَزَّ وَجَلَّ، وَأَمَّا السُّجُوْدُ فَاجْتَهِدُوْا فِي الدُّعَاءِ؛ فَقَمِنٌ أَنْ يُسْتَجَابَ لَكُمْ ) (٩٤)

هر چه ركوع ده نو په دې كښې درب لويي بيان كړې. اوهرچه د سجدې حالت دى نو په هغې كښې د ډيرو دعاګانو

[٩٤] . (صحيح مسلم، رقم الحديث ٢٠٧ - (٤٧٩)

کوشش اوکړې ځکه چه ډیره لایق ده چه ستاسو دعاګانې قبولې شي .

دې حدیث نه معلومیږي ، چه په سجده کښې باید ډیري دعاګانې او غو ښتل شي ، او په رکوع کښې باید د الله تعالی تعظیم او لويي بیان شي .

د (قمن) معنی ده ، تاسو چه کله په سجده کښې دعاګانې غواړې ، نو دا د قبلیدلو لپاره ډیر ې لائقې دي.

الإيمان باللّٰه واليوم الآخر، هما أساسٌ لكلِّ خير

په الله تعالی او په ورځ داخرت باندي ایمان لرل د هر خیر اساس دی .

٧٧ - عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﵁ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ: ( مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ؛ فَلْيَقُلْ: خَيْرًا أَوْ لِيَصْمُتْ، وَمَنْ

كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ؛ فَلاَ يُؤْذِ جَارَهُ، وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاَللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ؛ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ) (٩٥) .

ابو هريره ﷺ شخه روايت دی ، فرمايي : نبي كريم ﷺ فرمايلي دي : څوک چه ايمان لري ، په الله تعالى او په ورځ د اخرت باندي ، نو د خير وينا دې كوې او يا د چپ شې څوک چه ايمان لري ، په الله تعالى او په ورځ د اخرت باندي نو ګاونډي ته دې تكليف نه رسوي ، څوک چه ايمان لري په الله تعالى او په ورځ د اخرت باندي ، نو د ميلمه عزت او اكرام دې اوكړې .

ددي حديث دراوې پيژندنه مخكي په (١٣) نمبر حديث كښې ذكر شوې ده .

---

[٩٥] (صحيح البخاري، رقم الحديث ٦٤٧٥، وصحيح مسلم، رقم الحديث ٧٤ - (٤٧)، واللفظ للبخاري)

## من فوائد هذا الحديث:

## ددي حديث د فوائدو څخه

۱ -په دې حديث کښې ، د ژبې حفاظت کولو ته ترغيب ذکر دی ، هغه دا چه مؤمن بنده بايد يا د خير خبره اوکړې او يا چپ پاتې شي ، او همدارنګه په دې حديث کښې ښو اخلاقو ته ترغيب دی ، لکه سخا کول او دعامو خلکو سره احسان او ښيګڼه کول .

۲ - الله تعالى او په ورځ د اخرت باندې ايمان لرل د هر خير لپاره اساس او بنياد دی ، او دهمدې په وجه باندې انسان الله تعالى ته ډير نيږدې کيږي .

۳ -دا حديث لار ښونه کوې اومؤمن بنده ته ترغيب ورکوې ، چه بايد د خير په خبرو باندې خپله ژبه مشغوله کړې .

٤ -په دين اسلام كښې د ګاونډي ډير حقونه ذكر دي او دهغې اهتمام كول ضروري دي ، ددي وجي نه د ګاونډي عزت او اكرام او دهغه سره احسان كول واجب دي ، اګر كه ګاونډي كافر هم وي .

٥ - دميلمه ميلمستيا او دهغه عزت كول د اسلامې اخلاقو ښخه دي او دايمان نښه او علامه ده .

## التحذير من التغفل

## د غفلت نه ويره .

٧٨ - عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﵁ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّهُ قَالَ: ( لاَ يُلْدَغُ الْمُؤْمِنُ مِنْ جُحْرٍ وَاحِدٍ مَرَّتَيْنِ ) (٩٦) .

---

٩٦ - (صحيح البخاري، رقم الحديث ٦١٣٣، وصحيح مسلم، رقم الحديث ٦٣ - (٢٩٩٨)، واللفظ للبخاري).

ابو هريره ﵁ څخه روايت دی ، فرمايي : نبي كريم ﷺ فرمايلي دي : مؤمن د يو سوړې نه دوه كرت نه چچل كيږي ددي حديث دراوي پيژندنه مخكي په (١٣) نمبر حديث كښې ذكر شوې ده

## من فوائد هذا الحديث:

## ددي حديث د فوائدو څخه

١ -دا حديث لار ښونه كوې چه مسلمان بنده بايد هو شيار او زيرك وې ، او د يو ځاي نه بايد دوه كرت دوكه نشي ، او بار بار د خطايي ارتكاب اونه كړي .

٢ -دا حديث لا رښونه كوې ، چه مسلمان بايد د خپل عقل نه كار واخلي ، او اسباب تلاش كړې ، ځكه چه دنيا د اسبابو كور دی ، نبي كريم ﷺ چه وحې ورته هم كيدله او دهغې باوجود به نبي كريم ﷺ د اسبابو تلاش كولو ، او په جهادونو كښې به يي ددښمن په مقابل كښې د پوره تدبير نه كار اخستلو .

## أفضل الدعاء لصاحب المعروف

## ښیګڼه کونکی ته د عا کول .

٧٩ -عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللَّهِ ﷺ: ( مَنْ صُنِعَ إِلَيْهِ مَعْرُوْفٌ؛ فَقَالَ لِفَاعِلِهِ: جَزَاكَ اللَّهُ خَيْرًا؛ فَقَدْ أَبْلَغَ فِي الثَّنَاءِ) (٩٧) .

د اسامه بن زيد رضي الله عنهما څخه روایت دی ، فرمايي : نبي کريم ﷺ فرمايلي دي : د چا سره چه ښيګڼه اوکړی شي او ښیګڼه کونکی ته اووايي : ( جَزَاكَ اللَّهُ خَيْرًا ) الله تعالی دې تاته خير در کړي! نو ده دهغه حق ادا کړه .

ددې حديث دراوي پيژندنه مخکې په (٣٦) نمبر حديث کښې ذکر شوې ده

[٩٧] - (جامع الترمذي، رقم الحديث ٢٠٣٥ ، قال الإمام الترمذي عن هذا الحديث بأنه: حسن جيد غريب، وصححه الألباني).

## من فوائد هذا الحديث:

## ددي حديث د فوائدو څخه

١ -د چا سره چه ښيګڼه اوکړى شي او نشي كولاي چه ښيګڼه كونكى ته پوره بدله وركړي نو بايد چه دا سې ورته اووايي : ( جَزَاكَ اللّٰهُ خَيْرًا ) الله تعالى دې تاته خير در كړي! نو ده دهغه حق ادا كړه .

٢ -بدله بايد دهر چا د حال برابر وركړى شي بعضې خلک داسې وي چه هغوې ته بايد د هغوې د ښيګڼې موافق او يا د هغې نه زياته بدله وركړى شي ، بعضې بيا داسې خلک هم وي چه هغوې مال وغيره ته ضرورت نلري ، با يد هغوې ته دعا اوكړى شي ، او د دعا لپاره غوره لفظ همدادى كوم چه د نبي كريم ﷺ نه نقل دى هغه لفظ دادى :(جَزَاكَ اللّٰهُ خَيْرًا) الله تعالى دې تاته خير در كړي! نو ده دهغه حق ادا كړه .

## وجوب التوبة إلى اللّٰه تعالى

**اللّٰه تعالى ته رجوع كول واجب دي .**

٨٠ - عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ: ( يَا أَيُّهَا النَّاسُ تُوْبُوْا إِلَى اللّٰهِ؛ فَإِنِّيْ أَتُوْبُ فِي الْيَوْمِ إِلَيْهِ مِائَةَ مَرَّةٍ) [٩٨] .

د عبد اللّٰه بن عمر رضي اللّٰه عنهما څخه روايت دى ، فرمايي نبي كريم ﷺ فرمايلي دي : اى خلكو اللّٰه تعالى ته توبه اوباسى ، پس زه هم اللّٰه تعالى ته هره ورځ سل كرت تو به او باسم .

ددي حديث دراوي پيژندنه مخكي په (٢٢) نمبر حديث كښي ذكر شوي ده

---

[٩٨] (صحيح مسلم، رقم الحديث ٤٢ - (٢٧٠٢)،).

## من فوائد هذا الحديث:

## ددي حديث د فوائدو څخه

١ -الله تعالى ته توبه او رجوع كول ډيره ضروري او د غوره هغه عباداتو له جملې څخه ده ، كوم چه الله تعالى ته ډير خوښ دي ، ددې وجي نه په هر بنده باندې توبه ويستل واجب دي .

٢ - په تو بې سره د بنده ګناهونه معاف كيږي ، زړه يي پاكيږي ، او ګناهونه يي په نيكو سره بدليږي ، د الله تعالى محبت ورته حاصليږي ، او نيک بخته كيږي .

٣ -بنده بايد د خپل رب د رحمت نه نا اميده نشي ، بلكه په الله تعالى باندي ، ښه ګمان اوكړې ، ځكه چه الله تعالى د هر هغه بنده تو به قبلوې ، څوک چه په رشتيا سره هغه ته توبه او رجوع كوي .

٤ - دا حديث لار ښونه كوې ، چه بنده بايد خپل رب ته رجوع اوكړې ، او دخپلو ټولو ګناهونو نه تو به او باسې هر

څومره چه وي ، ځکه چه الله تعالى د بنده تو به قبلوي ، چه کله ټول شرطونه په کښې موجود وي ، او د توبې شرطونه په لاندي ډول دي :

اول شرط دادی : چه تو به بايد خالص د الله تعالى د رضا لپاره وي ، او بل کوم دنياوې غرض په کښې نه وي

دوهم شرط دادی : چه ګناهونه پريښودل .

دريم شرط دادی : چه په ګناهونو باندې ، پښيمانه کيدل .

څلورم شرط دادی : چه قوې عزم او اراده کول چه دا ګنا ه به بيا نه کوم .

پنځم شرط دادی : چه خپلو مالکانو ته د هغوې حقوق واپس کول، دا په هغه وخت کښې چه دې ګناه سره د بنده ګانو حق پيوسته وي .

شپږم شرط دادی : چه توبه مخکښې د دينه ويستل چه نمر د مغرب نه راوخيژي ا و يا د مرګ علامات شروع شي .

والحمد لله الذي بنعمته تتم الصالحات، والصلاة والسلام على رسولنا محمد ، وعلى آله وصحبه أجمعين.

فهرس المحتويات



| المحتويات | رقم الصفحة |
|---|---|
| المقدمة | ٣ |
| د توحيد عقيده لار د کاميابي ده ............. | ٨ |
| د سورت بقرې اخري دوه اياتونو فضيلت ......... | ١٢ |
| هغه چا غوره والی چه نبوي سنتو خوره ول کوشش کوي | ١٧ |
| د توحيد د عقيدې ساتنه کول .......................... | ٢٠ |
| بنده په ره وخت کښې خپل رب ته محتاجه دی ....... | ٢٣ |
| ښو اخلاقو ته ترغيب ................................ | ٢٦ |
| دين اسلام د لعنت او کنځا کولو دين نه دی .......... | ٢٨ |
| دين اسلام د نرمۍ او ښو اخلاقو دين دی .......... | ٣١ |
| د خوراک او څښاک نه روستو دعا ..................... | ٣٤ |
| سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبَحِمْدِهِ: الله تعالی ته غوره کلمات دي .... | ٣٧ |
| بدعت کول ګمراهي ده .................................. | ٤٠ |
| نبي کريم ﷺ به کومه دعا ډيره غوښتله ؟ .................. | ٤٢ |

| | |
|---|---|
| الله تعالی ته خوښ په ښارونو کښې مسجدونه دي ...... | ٤٤ |
| الله تعالی پوري پناه غوښتل د مرضونو نه ............... | ٤٧ |
| د عرفې د ورځې روژه او دهغې فضيلت .............. | ٤٩ |
| يوائې د جمعې په ورځ روژه .................. | ٥٢ |
| قبولي شوي دعاګانې .................... | ٥٤ |
| د نبي کريم ﷺ په باره کښې د زياتې کولونه ويره ..... | ٥٦ |
| د تصوير جوړه ولو نه ويره ورکول ............ | ٥٨ |
| جنت ته دتللو سببونه .................... | ٦٠ |
| دين اسلام د فحاشې نه منع کوي . ............. | ٦٣ |
| د مسلمان په بيعه باندې بيعه کول ناروا دي ............ | ٦٦ |
| الله تعالی د هغه بنده سره محبت کوي چه متقي وي ... | ٧٠ |
| د سورت ملک فضيلت ............. | ٧٥ |
| د لمانځه اهتمام کول .................. | ٧٧ |
| د ين اسلام د ښيګڼې دين دی ............... | ٨٠ |
| د انسانانو د ژوند مقصد د الله تعالی رضا کول دي ........ | ٨٣ |
| د ين اسلام د ښه تعامل در س ورکوي ............ | ٨٦ |

| | |
|---|---|
| درکوع او سجدې دعاګاني ...................... | ٨٨ |
| د مسجدونو او دهغې د ابادولو فضيلت .................. | ٩٠ |
| په بيعه کښې د اسانۍ کولو فضيلت .............. | ٩٢ |
| حقوق پوره ادا کول ...................... | ٩٤ |
| مسمانان د ابادې مثال لري يو بل لره قوي کوي ... | ٩٦ |
| هغه څوک چه د فتنو نه بچ شو هغه نيک بخته دی | ٩٩ |
| د مجلس د کفارې دعا .............. | ١٠٣ |
| د ميراث د احکامو ځخه .............. | ١٠٥ |
| مسلمان بايد الله تعالی ته خپله عاجزي ښکاره کړې ... | ١٠٩ |
| په اسلام کښې د نيت اهميت او فضيلت ...... | ١١١ |
| د شپې په مهال د الله تعالی نه د عا غوښتل .............. | ١١٢ |
| په لمانځه سره مصيبتونه لري کيږي .................. | ١١٥ |
| سپيني جامي اغوستل او په هغې کښې مړوته کفن ورکول | ١١٨ |
| په څه سره روژه ماتي مستحب دي ............ | ١٢١ |
| په اووه اندامونو سره سجده واجب ده ........... | ١٢٣ |
| زړونه د الله تعالی په لاس کښې د ي . ........... | ١٢٥ |

| | |
|---|---|
| د دوو سجدو په مينځ کښې دعا ........................ | ١٢٩ |
| دين اسلام د سعادت سر چشمه ده ................ | ١٣٠ |
| د اسلام بناوې ............................................ | ١٣٣ |
| نبي کريم ﷺ باندې درود ويلو فضيلت ................ | ١٣٨ |
| ښې لاس د شرافت کارونو لپاره دی ........................ | ١٤٥ |
| د مخلوق نه سؤالونه کول او دهغې بدي ........................ | ١٤٧ |
| د ځابښت لمونځ مشروع دی .......................... | ١٤٩ |
| د او داسه او لمانځه فضيلت ................... | ١٥١ |
| په پيښنمې کښې خرما خوړل هم غوره دي ...... | ١٥٣ |
| د امين ويلو فضيلت ................... | ١٥٥ |
| د مسلمان صفات ...................... | ١٥٧ |
| د کورونو ابادول د الله تعالى په ذکر او عبادت باندې .... | ١٥٩ |
| اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ: ويلو فضيلت .................. | ١٦١ |
| د رمضان مياشت او دهغې داخليدل ........................ | ١٦٣ |
| په اسلام کښې د ناستې اداب .......................... | ١٦٥ |

| | |
|---|---|
| په خپلو بچو باندې خرچه کول او دهغې فضيلت ......... | ١٦٧ |
| د اور نه د خلاصون اسباب ......................... | ١٦٩ |
| د حج او د عمرې فضيلت ....................... | ١٧٥ |
| د رمضان د مياشتې فضيلت ............... | ١٧٧ |
| فرض روژه نيولو کښې د شپې نه نيت کول ضروري . | ١٧٩ |
| د سحر لمونځ او په هغې قران لوستل .................. | ١٨٤ |
| د الله تعالى لپاره سجده او دهغې فضيلت ............ | ١٨٧ |
| اختر لمانځه ته د تګ او راتګ لاره بدلول . ............... | ١٨٩ |
| د لمانځه کونجي پاکوالى دى .................... | ١٩١ |
| د عاشورا د ورځ روژه او هغې ته ترغيب .......... | ١٩٦ |
| په ورين تندي ملاويدل او دهغې فضيلت ...... | ١٩٨ |
| نفلي لمونځ په کور کښې بهتره دى ............... | ١٢٠ |
| د ځلورو کلماتو فضيلت ............... | ٢٠٤ |
| قيامت په ناکاره خلکو راځي .................... | ٢٠٦ |
| په مسلمان باندي ظلم کول حرام دي ........... | ٢٠٨ |
| د مجلس اداب ................. | ٢١٠ |

| | |
|---|---|
| په رکوع او سجده کښې اذکار .................... | ٢١٣ |
| په الله تعالی او په ورځ د اخرت باندې ایمان ..... | ٢١٦ |
| د غفلت نه ویره .................................... | ٢١٨ |
| ښیګڼه کونکې ته دعا ............................ | ٢٢١ |
| الله تعالی ته رجوع کول واجب دي ................ | ٢٢٣ |
| د مضامینو فهرس | ٢٢٦ |